د افغانستان بانک

# اقتصادي او احصائیوي بولټن

د افغانستان بانک اقتصادي او احصائیوي درې میاشتنی بولټن

( اپریل- جون ۲۰۱۵ )

د افغانستان بانک

# اقتصادي او احصائيوي بولټن

د افغانستان بانک اقتصادي او احصائيوي درې میاشتنی بولټن

( اپریل- جون ۲۰۱۵ )

ابن سینا واټ

کابل

افغانستان

ټلیفون ۲۱۰۳۹۳۲-۲۰-۹۳+

وب پاڼه: www.dab.gov.af

بریښنالیک: info@dab.gov.af

ټول حقونه خوندي دي

حقونه او اجازه لیکونه

په دې بولټن کې د ټولو مطالبو د خپرولو حق خوندي دی؛ خو نقلول او بیاځلي چاپول یې په آزاده توګه ترسره کېدای شي. د بیا چاپ لپاره د تصدیق پاڼې او د بولټن یوه کاپي لازمي ده.

**یادداښت:**

د افغانستان نوی مالي کال له ۱۳۹۱ (۲۰۱۲) کال راهیسې بدلون موندلی دی. نوی مالي کال هر کال د ډیسمبر په ۲۱ (د مرغومې لومړۍ نېټه) پیلیږي. دا درې میاشتنی بولټن د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمي ربعې (د ۲۰۱۳ کال د ډیسمبر له ۲۱ څخه د ۲۰۱۴ کال د ډیسمبر ۲۰ پورې) اقتصادي او احصائیوي پرمختګونه رانغاړي.

**د محتویاتو لړلیک**


**عمومي کتنه......................................................................................................ك**

**۱. نړیوال اقتصادي وضعیت.............................................................................. ۳**

۱. پرمختللي اقتصادونه.............................................................................. ۳

۱.۱ د متحدو ایالتونو اقتصاد.............................................................................. ۳

۲.۱ د بریتانیې اقتصاد.............................................................................. ۳

۳.۱ د جرمني اقتصاد.............................................................................. ۴

۴.۱ د فرانسې اقتصاد.............................................................................. ۴

۲. راغوړېدلي اقتصادونه.............................................................................. ۴

۱.۲ د چین اقتصاد.............................................................................. ۴

۲.۲ د هند اقتصاد.............................................................................. ۵

**۲. د پانګې او پولي بازار بدلونونه.............................................................................. ۹**

۱. پولي پروګرام.............................................................................. ۹

۲. د نقدینګۍ حجم.............................................................................. ۱۰

۳. د اسعارو د مبادلې بازار.............................................................................. ۱۳

۴. د پانګې بازارونه او د سیالیت شرایط.............................................................................. ۱۶

**۳. د انفلاسیون بهیر او لیدلوری.............................................................................. ۲۵**

۱. په افغانستان کې د مصرفي توکو بیې.............................................................................. ۲۵

۱.۲ د کابل د مصرفي توکو د بیو په شاخص کې بدلونونه.............................................................................. ۳۰

۱.۲.۱ کلني بدلونونه.............................................................................. ۳۰

۲. د سیمې د انفلاسیون بهیر.............................................................................. ۳۳

۱.۲ په پاکستان کې انفلاسیون.............................................................................. ۳۳

۲.۲ په هند کې انفلاسیون.............................................................................. ۳۳

۳. د انفلاسیون لنډمهاله لیدلوری.............................................................................. ۳۴

۱.۳ خطرونه.............................................................................. ۳۴

**۴. د بهرني سکتور بدلونونه.............................................................................. ۳۷**

۱.۴ د اداینو بیلانس.............................................................................. ۳۷

۲.۴ د توکو سوداګري.............................................................................. ۳۹

۳.۴ د سوداګرۍ لورى.............................................................................. ۴۱

۴.۴ د سوداګرۍ ترکیب.............................................................................. ۴۴

۵.۴ بهرنۍ پوراینې.............................................................................. ۴۶

۶.۴ خالصه نړیواله زیرمې.............................................................................. ۴۷

**۵. د مالي سکتور بدلونونه................................................................................... ۵۱**
۱.۵ د بودجې د اجراء نرخ..................................................................................... ۵۱
۲.۵ د بودجې کسر................................................................................................. ۵۲
۳.۵ د بسپنه ورکوونکو مرستې................................................................................ ۵۴
۴.۵ لګښتونه.......................................................................................................... ۵۴
**۶. د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی........................................................................... ۵۷**
۱. د بانکي نظام شتمنی......................................................................................... ۵۷
۱.۱ ناخالص پورونه.................................................................................................. ۵۹
۱.۳.۱.۱ صعب الحصول پورونه.................................................................................... ۶۲
۲.۳.۱.۱ معکوس ډله بندي شوي پورونه........................................................................ ۶۲
۳.۳.۱.۱ تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه.................................................................. ۶۲
۴.۳.۱.۱ په خساره کټګورۍ کې پورونه......................................................................... ۶۳
۲.۱ د بانکونو ترمنځ طلبات....................................................................................... ۶۳
۳.۱ پانګه اچونه...................................................................................................... ۶۳
۴.۱ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات.............................................. ۶۳
۲. پوراینې.............................................................................................................. ۶۳
۱.۲ امانات............................................................................................................. ۶۴
۲.۲ پور اخیستنې..................................................................................................... ۶۵
۳. نقدینګی (سیالیت)............................................................................................... ۶۵
۱.۳ د سیالیت نسبت (پراخه کچه).............................................................................. ۶۵
۴. پانګه................................................................................................................ ۶۵
۵. ګټورتیا (نافعیت)................................................................................................. ۶۶
۶. د اسعارو خطر.................................................................................................... ۶۷
۷. د ټکتانې د نرخ خطر............................................................................................ ۶۷

**د ګرافونو لیست**


۱.۱ ګراف: د متحدو ایالتونو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ........................................ ۳
۲.۱ ګراف: د چین د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ........................................ ۴
۱.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې، د ۱۳۹۴ مالي کال دویمه ربعه........................................ ۹
۲.۲ ګراف: پولي زیرمې، د ۱۳۹۴ مالي کال دویمه ربعه........................................ ۹
۳.۲ ګراف: خالصه نړیواله زېرمې، د ۱۳۹۴ مالي کال دویمه ربعه........................................ ۱۰
۴.۲ ګراف:د M2 د ونډې په توګه پیسه وزمه (٪)........................................ ۱۱
۵.۲ ګراف: د بانک جاري اماناتونه د (M2) د ونډې په توګه (٪)........................................ ۱۱
۶.۲ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی اوسط نرخ........................................ ۱۳
۷.۲ ګراف: د پاونډ او یورو په وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی اوسط نرخ........................................ ۱۳
۸.۲ ګراف: د هندي روپی او پاکستاني روپی په وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی اوسط نرخ، ۱۳۹۴ مالي کال........................................ ۱۴
۹.۲ ګراف: د ایراني ریال په وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ـ د ۱۳۹۴ مالي کال دویمه ربعه........................................ ۱۴
۱۰.۲ ګراف: ناتصفیه شوې پانګه ایزې پاڼې ـ ۱۳۹۴ مالي کال دویمه ربعه........................................ ۱۶
۱۱.۲ ګراف: د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ........................................ ۱۶
۱۲.۲ ګراف: د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ........................................ ۱۶
۱۳.۲ ګراف: د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ........................................ ۱۷
۱۴.۲ ګراف: د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ........................................ ۱۷
۱۵.۲ ګراف: د پانګه ایزو پاڼو د ټکټانې عیار شوی اوسط نرخ (٪)........................................ ۱۷
۱۶.۲ ګراف: د پانګه ایزه پاڼو لپاره ټولیزه ورکړل شوې ټکټانه ـ د ۱۳۹۴ مالي کال دوېمه ربعه........................................ ۱۷
۱.۳ ګراف: د ملي مصرفي توکو د بیې شاخص (کال په کال)........................................ ۲۶
۲.۳ ګراف: اصلي انفلاسیون (۳۰ سلنه د قیچي کارۍ میتود یا Trimmed Mean)........................................ ۲۶
۳.۳ ګراف: د ملي انفلاسیون د ۱۲ میاشتو اوسط........................................ ۲۸
۴.۳ ګراف: د کابل د مصرفي توکو د بیو شاخص (کال په کال)........................................ ۳۰
۵.۳ ګراف: د کابل د مصرفي توکو د بیو شاخص (ربعه په ربعه)........................................ ۳۲
۶.۳ ګراف: د پاکستان د مصرفي توکو د بیو د شاخص عمومي انفلاسیون (د کال له مخې د بدلونونو سلنه)........................................ ۳۳
۷.۳ ګراف: د هند د مصرفي توکو د بیو د شاخص عمومي انفلاسیون (د کال له مخې د بدلونونو سلنه)........................................ ۳۴
۱.۴ ګراف: د جاري حساب بیلانس........................................ ۳۸
۲.۴ ګراف: د افغانستان د اداینو، پانګې او مالي حساب بیلانس ( په میلیون افغانی)........................................ ۳۹
۳.۴ ګراف: د بهرنی مستقیمې پانګونې جریان........................................ ۳۹
۴.۴ ګراف: د صادراتو، وارداتو او د سوداګرۍ بیلانس........................................ ۴۰
۵.۴ ګراف: د صادراتو لوری ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۴ مالي کال لومړی نیمایي........................................ ۴۲
۶.۴ ګراف: د صادراتو لوری( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۳ مالي کال لومړی نیمایي........................................ ۴۲

۷.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۴ مالي کال لومړی نیمایي........ ۴۳
۸.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۳ مالي کال لومړی نیمایي........ ۴۳
۹.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۴ مالي کال لومړی نیمایي........ ۴۵
۱۰.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۳ مالي کال لومړی نیمایي........ ۴۵
۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۴ مالي کال لومړی نیمایي........ ۴۶
۱۲.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۳ مالي کال لومړی نیمایي........ ۴۶
۱۳.۴ ګراف: د بهرنی پورواینې پرتله، د ۱۳۹۳ مالي کال لومړی نیمایي او د ۱۳۹۴ مالي کال لومړی نیمایي........ ۴۷
۱۴.۴ ګراف: د تیرو څو دورو په اوږدو کې خالصه نړیواله زېرمې( په میلیون ډالر)........ ۴۸
۱.۵ ګراف: د عملیاتي بودجې د اجراء نرخ ـ ۱۳۹۴ مالي کال........ ۵۱
۲.۵ ګراف: د پرمختیایي بودجې د اجراء نرخ ـ ۱۳۹۴ مالي کال........ ۵۲
۳.۵ ګراف: د کورنیو عوایدو سرچینې (په میلیونه افغانی)........ ۵۲
۴.۵ ګراف: د کورني عوایدو ترکیب ـ ۱۳۹۴ مالي کال (حقیقي)........ ۵۳
۵.۵ ګراف: د مالیاتي عوایدو پرتله (په میلیون افغانی)........ ۵۳
۶.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د مرستو ترکیب ( به میلیون افغانی)........ ۵۴
۷.۵ ګراف: د لګښتونو ترکیب ( په میلیون افغانی)........ ۵۴
۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه........ ۵۸
۲.۶ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د بانکونو د ګروپونو ونډه........ ۵۹
۳.۶ ګراف: د پورونو د پورتوفولیو کیفیت........ ۶۲
۴.۶ ګراف: د بانکي ګروپونو ترمنځ د خپل منځي طلباتو ونډه........ ۶۳
۵.۶ ګراف: پوراینې 9.17 میلیارده افغانی یا 4.22 سلنه زیاتې شوي........ ۶۴
۶.۶ ګراف: د اماناتو اسعاري ترکیب........ ۶۴
۷.۶ ګراف: په افغانی اینښودل شوي امانات........ ۶۵
۸.۶ ګراف: امانات 2.51 سلنه زیات شوي........ ۶۵
۹.۶ ګراف: د اماناتو ډله بندي........ ۶۵
۱۰.۶ ګراف: د بانکي نظام ګټورتیا (نافعیت)........ ۶۷
۱۱.۶ ګراف: له شتمنی ترلاسه شوې ګټه او له پانګې ترلاسه شوې ګټه........ ۶۷
۱۲.۶ ګراف: د بانکي نظام نهایي خالصه ټکټانه........ ۶۷

## د جدولونو لیست

۱.۲ جدول: پولي حجم، ۱۳۹۴ مالي کال دویمه ربعه.......................................................................................... ۱۲
۲.۲ جدول: د ۱۳۹۴ مالي کال د دوېمې ربعې لپاره د افغانستان بانک د اسعارو د لیلام لنډیز ........................... ۱۵
۳.۲ جدول: د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام (په میلیون افغانۍ)........................................................ ۱۸
۴.۲ جدول: د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام( په میلیون افغانۍ).......................................................... ۱۹
۵.۲ جدول: د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام ( په میلیون افغانۍ)...................................................... ۲۰
۶.۲ جدول: د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام ( په میلیون افغانۍ)...................................................... ۲۱
۱.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې د شاخص د اجزاوو وېشنه ( کال په کال).................................. ۲۸
۲.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې د شاخص د اجزاوو وېشنه ( ربعه په ربعه).............................. ۲۹
۳.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې د شاخص د اجزاوو وېشنه (د کال له مخې د بدلونونو سلنه).............. ۳۱
۴.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې د شاخص د ربعې په ربعې بدلونونه..................................... ۳۲
۱.۴ جدول: د جاري حساب بیلانس.......................................................................................... ۳۸
۲.۴ جدول: پانګه ایز او مالي حسابونه...................................................................................... ۳۹
۳.۴ جدول: د توکو د سوداګرۍ اجزاوې...................................................................................... ۴۱
۴.۴ جدول: د بهرني سوداګرۍ لورى: د ۱۳۹۴ مالي کال لومړۍ نیمایي......................................................... ۴۴
۵.۴ جدول: د بهرني سوداګرۍ لورى: د ۱۳۹۳ مالي کال لومړۍ نیمایي......................................................... ۴۴
۶.۴ جدول: د ۱۳۹۴ مالي کال لومړۍ نیمایي بهرنۍ پورواینې................................................................ ۴۷
۷.۴ جدول: خالصه نړیواله زېرمې؛ د ۱۳۹۴ مالي کال لومړۍ نیمایي( په میلیون ډالر)................................... ۴۸
۱.۶ جدول: د بانکي نظام د شتمنۍ او پورواینې ترکیب.................................................................... ۵۸
۲.۶ جدول: د کریډېټ سکتوري وېش......................................................................................... ۶۱
۳.۶ جدول: د بانکي نظام د مالي ټینګښت مهم شاخصونه....................................................................... ۶۶
۴.۶ جدول: د بانکي نظام ګټه/ زیان........................................................................................ ۶۷



## د لوی رئیس پیغام

”د افغانستان بانک د پالیسیو او هڅو موخه د ټولنې د ډېرو زیانمنونکو برخو ساتنه ده چې دا چاره د سالم او اغیزناکه پولي سیاست د تطبیقولو له لارې چې تمرکز یې د بیو پر ثبات (د بانک لومړني هدف) باندې دی، ترسره کیږي.“

## عمومي کتنه

دا بولټن د هېواد په ټولو اقتصادي سکتورونو کې هر اړخیزه بدلونونه او همدا ډول په ځانګړې توګه د افغانستان بانک کړنې چې د بیو ترلاسه کول دي، رانغاړي.

د روان مالي کال دوېمه ربعه د افغانستان د اقتصاد لپاره له ننګونو ډکه وه. اقتصادي کړنې د ناوړه سیاسي او امنیتي وضعیت له امله کمزوره شوي دي. د کرنې، صنعت او خدمتونو درې واړه سکتورونه د ښه فعالیت په ترسره کولو کې پاتې راغلي دي.

د ۱۳۹۴ مالي کال په دوېمه ربعه کې انفلاسیون چې د ملي مصرفي توکو د بیې په شاخص کې د کال په کال بدلونونو له مخې اندازه کیږي، منفي بهیر درلوده. د ملي عمومي انفلاسیون نرخ (کال په کال) منفي ۲.۸ سلنې ته رسیږي چې د تېر کال د همدې دورې د ۵.۶ سلنه انفلاسیون په پرتله د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي.

په همدې ترتیب، افغانستان توانیدلی چې د پیسو د نړیوال صندوق د کارکوونکو د څارنې پروګرام (SMP) ته لاره ومومي. د (SMP) دا نهه میاشتنی پروګرام په بنسټیزه توګه په مالي او بانکی زیانمننونکو اړخونو، د لوی اقتصاد (د ټیټ انفلاسیون، ټیټې پوراینې او د نړیواله زیرمو د مناسبې کچې) د ټیکاو د ساتلو او د لوړې او هر اړخیزې ودې لپاره د اقتصادي وضعیت په پیاوړتیا او د تیرو لاسته راوړنو او نیمګړتیاوو په پام کې نیولو سره د پولي سیاست په تطبیق تمرکز کوي.

د افغانستان د کارکوونکو د څارنې پروګرام (SMP) لاندې پولي زیرمې د پولي سیاست د عملیاتي هدف په توګه او د بیې ټیکاو د لومړي هدف په توګه ساتل شوي دي.

د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې پولي زیرمې ۲۰۸.۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې منفي ۷.۴۳ سلنه وده یې (کال په کال) ثبت کړې چې دا وده له ټاکل شوي حد څخه ۱.۲ سلنه ټیټه ده. په ورته وخت کې، په ګردښت کې پیسې ۴.۹ سلنه منفي وده ښکاره کوي چې د ربعې په پای کې ۱۸۷.۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

بهرنی سکتور د جاري حساب د کسر او د پانګې د پام وړ ایستنې له امله تر فشار لاندې راغلی دی. د بهرني سکتور د کمزوره کړنې له امله د اداینو د بیلانس په ټولیز کسر کې ۱۶۷۹.۶۷ میلیون امریکایي ډالره چې د کورنی ناخالصه تولیداتو له ۸ سلنې سره برابر دی، بدلون راغلی دی.

همدا ډول د افغانستان خالصه نړیواله زیرمې د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې ۶،۸۳۱.۴۳ میلیون امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تېر کال د همدې دورې د ۷،۰۱۵.۳۹ امریکایي ډالرو په پرتله ۲.۶۲ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي چې د اوسنیو وارداتو شاوخوا ۱۱ میاشتو لپاره بسنه کوي.

بانکي نظام په دې ربعه کې پرمختګ کړی او ښه فعالیت یې درلوده. د بانکي نظام شتمنی د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۲.۴۷ سلنه یا ۶.۰۸ میلیارده افغانۍ وده کړې چې د ۲۰۱۵ کال د مارچ د ۴.۲۳ سلنې ټیټوالي په پرتله (کال په کال) ۳.۷۹ سلنه ثبت شوې ده، کموالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې بانکی نظام د ۲۰۱۵ کال په دوېمه ربعه کې ۲۵۲ میلیونه افغانۍ زیان کړی دی چې د تېرې ربعې د ۹۶۶ میلیونه افغانۍ زیان په پرتله د پام وړ کموالی ښکاره کوي چې په پایله کې د شتمنی ترلاسه شوې ګټې د ۲۰۱۵ کال د مارچ میاشتې له منفي ۱.۱۶ سلنې څخه منفي ۰.۳۰ سلنې ته او د پانګې ترلاسه شوې ګټه د

۲۰۱۵ کال د مارچ میاشتې له منفي ۲.۴۵ سلنې څخه منفـي ۲.۵۴ سلنې ته رسیږي. روانه ربعه دولـتي او خصـوصـي بانکونو له زیان سره پای ته رسولې، په داسې حال کې چې د بهرنیو بانکونو نمایندګیو دویمه ربعه له ګټې سره پای تـه رسولې ده.

# ۱

# نړیوال اقتصادي وضعیت

# ۱

# نړیوال اقتصادي وضعيت

د نړۍ اقتصادي وده د ۲۰۱۵ کال په لومړي نیمايي کې په پرمختللو اقتصادونو کې د کمې رغاونې او همدا ډول د راغوړېدلو اقتصادونو په بازار کې... اقتصادي کړنو له امله کمه شوې ده. د ۲۰۱۵ کال په لومړي نیمايي کې د نړۍ اقتصادي وده ۲.۹ سلنې ته رسیږي. په دې موده کې پرمختللو اقتصادونو نسبتاً ټيټه وده تجربه کړې، حال دا چې راغوړېدلو اقتصادونو په دوامداره توګه ټيټېدونکې وده درلوده چې اصلي لاملونه یې د توکو ټيټې بيې، د بهرني مالي چارو سخت شرايط، د چين بیا متوازنه کېدل، تشکيلاتي ستونزې او د جيوپوليتيکي عواملو اړوند اقتصادي فشار په ګوته شوي دي.

د نفتو بيې د ۲۰۱۵ کال په دوېمه ربعه کې له تمې زیاتې نورمالې شوې دي. لوړه تقاضا او په متحدو ایالتونو کې د نفتو د لږ تولید تمه درلودنه، د نفتو د بيو د بيرته عادي کېدو لاملونه ګڼل کيږي. د نفتو د بيو د بيرته لوړېدلو له امله د نفتو د وروستي مصرفوونکو بيو په دې موده کې په لوړېدو پيل کړی دی. په ډيری پرمختللو اقتصادونو کې مياشتنی عمومي انفلاسيون راښکته شوی خو اصلي انفلاسيون ثابته پاتې شوی دی. همدا ډول د راغوړېدلو اقتصادونو په ډېری بازارونو کې چې کورنی تقاضا یې لږه ده، عمومي انفلاسيون راکم شوی دی.

## ۱. پرمختللي اقتصادونه

### ۱.۱ د متحدو ایالتونو اقتصاد

د متحدو ایالتونو کورني ناخالصه تولیدات د ۲۰۱۵ کال په دوېمه ربعه کې د کلني نرخ پر بنسټ ۳.۹ سلنه زیات شوی دی، حال دا چې د تېرې ربعې په اوږدو کې کورني ناخالصه تولیداتو ۰.۶ سلنه زیاتوالی درلوده. د حقيقي کورني ناخالصه تولیداتو د زیاتېدو اصلي لاملونه د صادراتو زیاتوالی او د وارداتو کموالی، لوړ شخصي استهلاکي لګښتونه، لوړ حکومتي لګښتونه او غیر استوګنیزه لوړه ثابته پانګونه ګڼل کيږي.

۱.۱ ګراف: د متحدو ایالتونو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ

(د موسم پر اساس عيار شوي کلني نرخونه)




سرچينه: د اقتصادي څېړنې اداره، د متحدو ایالتونو د سوداګرۍ وزارت

د متحدو ایالتونو د بېکارۍ نرخ د جنورۍ میاشتې د ۵.۷ سلنې په پرتله په جون میاشت کې ۵.۳ سلنه ثبت شوی دی. د بېکارۍ نرخ د تېرې میاشتې په پرتله هیڅ ډول بدلون نه ښکاره کوي. سربېره پر دې د امریکې د جاري حساب کسر په لومړي ربعه کې له ۱۱۸.۳ امریکايي ډالرو څخه په دوېمه ربعه کې ۱۰۹.۷ امریکايي ډالرو ته راکم شوی دی. د دې ترڅنګ د امریکې د سوداګرۍ بیلانس کسر د جون په میاشت کې ۴۳.۸ میلیارده امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تېرې میاشتې د ۴۰.۹ میلیارده امریکايي ډالرو په پرتله ۲.۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

### ۲.۱ د بریتانیې اقتصاد

د بریتانیې اقتصاد د لومړۍ ربعې د ۰.۴ سلنې ودې په پرتله په دوېمه ربعه کې په اټکليزه توګه ۰.۷ سلنه وده کړې ده. تولیزه تولیدات د تېر کال د ورته دورې په پرتله ۲.۶ سلنه

وده ښکاره کوي. د تولیداتو دا زیاتوالی د اقتصاد په دوو مهمو صنعتي برخو کې لیدل شوی دی. د خدمتونو په سکتور کې ۰.۷ سلنه زیاتوالی راغلی حال دا چې تولیدي سکتور ۱ سلنه زیاتوالی ثبت کړی دی خو د رغونې سکتور بیا په دې ربعه کې هیڅ ډول بدلون نه دی کړی. دا په داسې حال کې ده چې د کرنې سکتور په دوېمه ربعه کې ۰.۷ سلنه زیاتوالی ثبت کړی دی. سربېره پر دې، د بریتانیې د مصرفي توکو د بیې شاخص په جون میاشت کې ۰.۰ سلنه ؤ. د دې ترڅنګ د ۲۰۱۵ کال په جون کې د بریتانیې د بېکارۍ نرخ ۵.۶ سلنې ته رسیده، حال دا چې دا نرخ د جنورۍ میاشت کې ۵.۷ سلنه ثبت شوی ؤ.

### ۳.۱ د جرمني اقتصاد

د جرمني اقتصاد د ۲۰۱۵ کال په دوېمه ربعه کې ۰.۴ سلنه وده کړې ده حال دا چې په تېره ربعه کې د دې هېواد د کورني ناخالصه تولیداتو وده ۰.۳ سلنې ته رسیږي. سربېره پر دې، د جرمني د بېکارۍ نرخ په تېرو څو میاشتو کې ثابته ؤ او ۴.۷ سلنه ثبت شوی دی. د دې ترڅنګ د مصرفي توکو بیې د جولای میاشت کې ۰.۲ سلنه لوړې شوې دي. د جرمني د سوداګرۍ ډېریدنه ۲۴.۱۳ میلیارده یورو ته رسېږي چې د ۲۰۱۵ کال د تېرو میاشتو په پرتله لوړوالی ښکاره کوي.

### ۴.۱ د فرانسې اقتصاد

د فرانسې په اقتصادي وده کې د ۲۰۱۵ کال د لومړۍ ربعې د ۰.۷ سلنې ودې په پرتله په دوېمه ربعه کې هیڅ ډول بدلون نه لیدل کیږي. د فرانسې د بېکارۍ نرخ ۱۰.۳ سلنه ثبت شوی چې د تېرې ربعې راهیسې هیڅ ډول بدلون نه ښکاره کوي. د مصرفي توکو بیې د مې د میاشتې د ۰.۳ سلنې په پرتله په جون میاشت کې ۰.۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د فرانسې د سوداګرۍ کسر په جون میاشت کې ۲.۵۴ میلیارده یورو ته رسیده.

### ۵.۱ د جاپان اقتصاد

د جاپان اقتصادي وده د ۲۰۱۵ کال د لومړۍ ربعې د ۱.۱ سلنې زیاتوالي په پرتله په دوېمه ربعه کې ۰.۴ سلنې ته راټیټه شوې ده. د دې هېواد د بېکارۍ نرخ چې د موسمونو پر بنسټ عیار شوی د جون په میاشتې کې ۳.۴ سلنه ثبت شوی دی، حال دا چې د اپریل په میاشت کې دا نرخ ۳.۴ سلنې ته رسیده. د مصرفي توکو بیې د مې میاشت کې د ۰.۵ سلنې په پرتله په جون میاشت کې ۰.۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. سربېره پر دې، د جاپان د سوداګرۍ کسر ۷۴.۴۲ میلیارده جاپاني ین ثبت شوی دی.

## ۲. راغوریدلي اقتصادونه

### ۱.۲ د چین اقتصاد

د چین اقتصاد د کلني نرخ پر بنسټ د ۲۰۱۵ کال په دوېمه ربعه کې ۷ سلنه وده کړې ده چې د تېرې ربعې په پرتله یې هیڅ بدلون موندلی نه دی، حال دا چې تمه کېده دا نرخ ۶.۸ سلنې ته لوړ شي. که څه هم د چین کورني ناخالصه تولیدات د تېرې ربعې د ۱.۳ سلنې په پرتله ۱.۸ سلنې ته زیات شوي دي.

۲.۱ ګراف:د چین د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ




سرچینه: د چین د احصائیې ملي اداره

همدا ډول د ۲۰۱۵ کال په جون میاشت کې د چین د انفلاسیون کلنی نرخ ۱.۴ سلنې ته رسیږي چې د تېرې میاشتې د ۱.۲ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د دې ترڅنګ د چین د بېکارۍ نرخ د ۲۰۱۵ کال په دوېمه ربعه کې ۴.۰۴ سلنې ته راښکته شوی دی، حال دا چې په تېره ربعه کې دا نرخ ۴.۱ سلنې ته رسیده. د چین د سوداګرۍ ډېریدنه په جون میاشت کې ۴۶.۵۳ میلیارده امریکایي ډالره ثبت شوې، حال دا چې دا ډېریدنه په تېره میاشت کې ۵۸.۸۶ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیده.

### ۲.۲ د هند اقتصاد

د هند اقتصاد د ۲۰۱۵ کال د اپریل او جون میاشتو کې د کلني نرخ پر بنسټ ۷.۱ سلنه وده کړې ده. د دې ترڅنګ د هند د انفلاسیون کلنی نرخ په جون میاشت کې ۵.۴ سلنه ثبت شوی دی چې د همدې کال د تېرو میاشتو په پرتله تر ټولو لوړ نرخ ګڼل کیږي. د دې ترڅنګ، د هند د سوداګرۍ کسر په جون میاشت کې ۱۰.۸۳ میلیارده امریکایي ډالره ثبت شوی دی، حال دا چې په تېره میاشت کې د سوداګرۍ کسر ۱۰.۴ میلیارده امریکایي ډالره ؤ.

**اخځلیکونه:**

د پیسو نړیوال صندوق (IMF)

د اقتصادي همغږۍ او پراختیا سازمان (OECD)

د امریکې د سوداګرۍ وزارت د اقتصادي څېړنې اداره

د امریکې د کار وزارت، د کار د احصائیې اداره

د بریتانیې د احصائیې ملي اداره

د یورو ستات خبر پاڼه

د احصائیې او اقتصادي مطالعاتو ملي انسټیټوټ

احصائیوي پورتال

د سوداګرۍ اقتصادي علوم

د وال سټریټ ژورنال

د چین د احصائیې ملي اداره

د احصائیې او د پروګرام د تطبیقولو وزارت



# ۲

# د پانګې او پولي بازار بدلونونه

## ۲
## د پانګې او پولي بازار بدلونونه

دا څپرکی د ۱۳۹۴ مالي کال په دوېمه ربعه کې د پانګې او پولي بازار د کړنو او بدلونونه سربېره د افغانستان د پانګې او پولي بازار د دودولو او پراخولو په برخه کې د افغانستان بانک پر رول او کړنو باندي رڼا اچوي.

### ۱. پولي پروګرام

پولي زیرمو د ارزونې لاندې موده کې د یو مهم عملیاتي هدف (د کړنې د معیار) په توګه عمل کړی، په داسې حال کې چې په ګردښت کې پیسې د ضمني هدف په توګه د افغانستان بانک د لومړنی موخې یعني د کورني بیو د ثبات لپاره طرحه شوي دي.

د پولي زیرمو (RM) کره مبلغ چې د کورني بیو د ثبات ملاتړ کوي، د پیسو د مقداري تیوری په کارولو سره تاکل کیږي. پولي زیرمې؛ په ګردښت کې پیسې، د افغانستان بانک سره د سوداګریزو بانکونو اته سلنه الزامي زیرمې، جاري حسابونه او د شپې د امانتونو آسانتیا رانغاړي.

د افغانستان بانک د اسعارو د لیلام او د پانګه ایزو پاڼو د لیلام د ابزارونو په مرسته د آزاد بازار عملیات پرمخ وړي. په ۱۳۹۴ مالي کال کې د پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو د ودې کلنې هدفونه هر یو له ۱۱ سلنې څخه ۷ سلنې ته راښکته شوي دي.

د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې پولي زیرمو ( کال په کال) ۷.۴۳ سلنه منفي وده ثبت کړې ده چې له ټاکل شوې ۱.۲ سلنې څخه ښکته دی. د ربعې په پای کې پولي زیرمې ۲۰۸.۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي، حال دا چې په ګردښت کې پیسې د ۴.۹ سلنه منفي ودې په درلودلو سره ۱۸۷.۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

سیاسي بی ثباتی، امنیتي اندیښنو او ننګونو له امله اقتصادي

۱.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې، د ۱۳۹۴ مالي کال دوېمه ربعه




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک

۲.۲ ګراف: پولي زیرمې، د ۱۳۹۴ مالي کال دوېمه ربعه




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک

کړنې کمزوره شوي دي. همدا ډول، د پورتنیو عواملو ترڅنګ د ولسي جرګې لخوا د ملي بودجې په تصویب کې د پام وړ ځنډ چې د کال په لومړی ربعه کې د حکومتي لګښتونو د کمېدو لامل شو، هغه مهم عامل دی چې د پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو د منفي ودې لامل شوی دی.

#### ۱.۱ خالصه نړیواله زیرمې

د افغانستان بانک په نړیوالو زیرمو کې سره زر، د پیسو

نړیوال صندوق سره د پور زیرمه او ونډه، د برداشت ځانګړی حق (SDR) او پیاوړي بهرني اسعاري زیرمې لکه امریکایي ډالر، یورو او انګلیسي پاونډ، شامل دي. د افغانستان نړیواله زیرمې چې په امریکایي ډالرو څرګندیږي، هغه شتمنۍ زېرمې دي چې د پورانیني زېرمې ترې منفي شوي دي. د افغانستان نړیواله زېرمې د انتقالي حکومت راهیسې لوړیدونکی بهیر درلودلی دی چې اصلي لامل یې بهرنی مالي بسپنه ده.

په تېرو څو کلونو کې د افغانستان خالصه نړیواله زیرمې چې د دې هېواد د بهرنیو پورونو د بیرته ورکړې د توانایي مهم شاخص دی او د بهرني سوداګرۍ د کسر د تمویلولو لپاره اړین ګڼل کیږي، په ثابته توګه وده کړې ده. په ۱۳۹۴ کال کې د خالصه نړیواله زیرمو د حجم هدف د بیا کتنې وروسته صفر ټاکل شوی ؤ، که څه هم حقیقي حجم یې د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې ۱۳۸ میلیونه امریکایي ډالره ؤ. حقیقي خالصه نړیواله زیرمې د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې ۶،۸۳۱.۴۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي. د صادراتو له لارې عواید او هېواد ته د بسپنو ورکړه د خالصه نړیواله زیرمو د زیاتیدنې اصلي لامل ګڼل کیږي.

د افغانستان بانک په دویمه ربعه کې، د اسعارو د لیلام کچه زیاته کړې ده، څو په بازار کې رامنځ ته شوی اضافه تقاضا تأمین کړای شي. په دې موده کې د افغانستان بانک په ټولیزه توګه ۱.۴۳۲ میلیارده امریکایي ډالره لیلام کړي دي څو د بازار تقاضا بشپړه او له بازار څخه اضافه سیالیت لرې کړي، حال دا چې ټولیزه تقاضا ۱.۹۶۷ میلیارده امریکایي ډالره وه. په دویمه ربعه کې د اسعارو د لیلام ټولیزه تادیه شوی مبلغ د ټولې تقاضا شاوخوا ۷۳ سلنه ؤ.

۳،۲ ګراف: خالصه نړیوالې زیرمې
(د ۱۳۹۴ مالي کال دویمه ربعه)

په میلیون امریکایي ډالرو




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک

## ۲. د نقدینګۍ حجم

د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت د نقدینګۍ حجم د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) او د پراخه مفهوم په توګه پیسې(M2) د پولي او مالي احصائیې (MFS) د میتودولوژۍ او تعریف له لارې محاسبه کوي.

د محدوده مفهوم په توګه پیسې ټول بانکنوټونه، سکې او جاري امانتونه چې د افغانستان بانك او سوداګریزو بانکونو سره ساتل کیږي رانغاړي، حال دا چې د پراخه مفهوم په توګه پیسو په ترکیب کې د محدوده مفهوم په توګه د پیسو اجزاوې او داسې نورې لږې سیالې شتمنۍ شاملې دي. د محدوده مفهوم په توګه پیسو(M1) (کال په کال) ۰.۹۸ سلنه وده کړې ده. د پراخه مفهوم په توګه پیسو(M2) کچه ۳۸۱،۰۵۳ میلیونه افغانۍ ته لوړه شوې چې په ټولیزه توګه ۱.۳۶ سلنه (کال په کال) وده ښکاره کوي، چې د تېر کال د ورته مودې له ۵.۷ سلنې ثبت شوې کچې څخه ټیټه ده. د محدوده مفهوم په توګه پیسې د پراخه مفهوم په توګه د پیسو د ودې لوی لامل پاتې شوې دی.

پیسه وزمه (Qusi Money) یا د سوداګریزو بانکونو موده

ایزه (میعادي) امانتونه چې د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) بله برخه جوړوی، د ۱۳۹۳ مالي کال د ورته مودې په پرتله ۷.۶۷ سلنه وده کړې ده. که څه هم پیسه وزمه یوازې د پراخه مفهوم په توګه د پیسو ۶ سلنه جوړوي؛ نو له همدې کبله د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) باندې د هغه د بدلونونو اغیزه ډېره لږه ده. په افغانۍ موده ایزه امانتونو توپیر (کال په کال) ۳۲۹ میلیونه افغانۍ ته رسیږي او پر اسعارو موده ایزه امانتونو ارزښت ۱۲۹۷.۷ میلیونه افغانۍ ثبت شوی دی.

په ورته وخت کې د جاري امانتونو ونډه د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) کې د ارزوني لاندې کال کې ۴۷.۳۷ سلنې ته راښکته شوې ده چې د تېر کال د ۴۸.۳۶ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

همدا رنګه، پیسه وزمه چې د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) یوه برخه جوړوي د ارزوني لاندې ربعې په پای کې ۵.۹۹ سلنې ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۵.۶۴ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. په افغانۍ موده ایزه امانتونه د پراخه مفهوم په توګه پیسو(M2) ۲.۱۱ سلنه جوړوي، حال دا چې په اسعارو امانتونه د پراخه مفهوم په توګه پیسو(M2) ۳.۸۸ سلنه جوړوي.

۴.۲ ګراف: د M2 د ونډې په توګه پیسه وزمه (٪)




سرچینه: د پولي سروې برخه، د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک

۵.۲ ګراف: د بانک (جاري) امانتونه د M2 د ونډې په توګه




سرچینه: د پولي سروې برخه، د پولي سیاست لوی امریت/ د افغانستان بانک

## ۱.۲ جدول: پولي حجم، د ۱۳۹۴ مالي کال دویمه ربعه

| په میلیون افغانی | د ۱۳۹۲ کال دویمه ربعه (مبلغ) | د ۱۳۹۳ کال دویمه ربعه (مبلغ) | کال په کال بدلون | توپیر | د ۱۳۹۴ کال دویمه ربعه (مبلغ) | د کال په کال بدلون | توپیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **خالصه بهرنی شتمنی** | **445،926** | **481،918** | **٪8.1** | **35،992** | **507،009** | **٪5.21** | **25،091** |
| (الف) بهرنی شتمنی | 476،487 | 510،941 | ٪7.2 | 34،454 | 534،797 | ٪4.67 | 23،856 |
| د افغانستان بانک اسعاري زیرمې | 389،186 | 423،601 | ٪8.8 | 34،416 | 448،154 | ٪5.80 | 24،552 |
| سره زر | 60،424 | 47،509 | ٪21.4- | 0.000 | 47،509 | ٪0.00 | 0.000 |
| نور | 328،762 | 376،093 | ٪14.4 | 47،331 | 400،645 | ٪6.53 | 24،552 |
| نورې بهرنی شتمنی | 87،301 | 87،340 | ٪0.0 | 39 | 86،643 | ٪0.80- | 697- |
| (ب) بهرنی پورواینې | 30،561 | 29،023 | ٪5.0- | 1،538- | 27،788 | ٪4.26- | 1،235- |
| **۲. خالصه کورنی شتمنی** | **90،248-** | **105،976-** | **٪17.4** | **15،728-** | **125،938-** | **٪126.22-** | **133،763** |
| (الف) خالصه کورنی کریډټ | 37،926- | 44،199- | ٪16.5 | 6،273- | 33،670- | ٪23.82- | 10،529 |
| د غیر مالي عامه سکتور لپاره خالص کریډټ | 83،100- | 90،945- | ٪9.4 | 7،845- | 75،033- | ٪17.50- | 15،911 |
| د مرکزي حکومت لپاره خالص کریډټ | 82،870- | 90،915- | ٪9.7 | 8،045- | 74،906- | ٪17.61- | 16،009 |
| د مرکزي حکومت لپاره کریډټ | 33،611 | 34،703 | ٪3.3 | 1،092 | 60،369 | ٪73.96 | 25،665 |
| د مرکزي حکومت لپاره پورواینې | 116،481 | 125،619 | ٪7.8 | 9،138 | 135،275 | ٪7.69 | 9،656 |
| د مرکزي او سیمه ایز حکومت لپاره خالص کریډټ | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 |
| د عامه غیر مالي شرکتونو لپاره خالصه کریډټ | 229،875- | 29،500- | 0.000 | 200 | 127،497- | 0.000 | 98- |
| د خصوصي سکتور لپاره کریډټ | 46،403،902 | 48،145،650 | 0.000 | 1،742 | 43،058،127 | 0.000 | 5،088- |
| د نورو مالي شرکتونو لپاره خالصه کریډټ | 1،230- | 1،400- | ٪13.8 | 170- | 1،694.19- | ٪21.04 | 294- |
| (ب) د پانګې حسابونه | 98،111 | 108،025 | ٪10.1 | 9،914 | 111،812 | ٪3.51 | 3،788 |
| (ت) نور خالص اقلام | 45،789 | 46،248 | ٪1.0 | 459 | 19،544 | ٪57.74- | 26،704- |
| **۳. د پراخه مفهوم په توګه پیسې** | **355،657** | **375،932** | **٪5.7** | **20،275** | **381،053** | **٪1.36** | **5،121** |
| د محدوده مفهوم په توګه پیسې | 332،073 | 354،732 | ٪6.8 | 22،659 | 358،226 | ٪0.98 | 3،494 |
| په ګردښت کې پیسې (CIC) (هغه پیسې چې د امانات اینبودونکو شرکتونو څخه بهر دي) | 143،880 | 172،929 | ٪20.2 | 29،050 | 177،734 | ٪2.78 | 4،805 |
| جاري امانتونه | 188،194 | 181،803 | ٪3.4- | 6،391- | 180،492 | ٪0.72- | 1،311- |
| نور امانتونه (پیسه وزمه) | 23،583 | 21،200 | ٪10.1- | 2،383- | 22،827 | ٪7.67 | 1،627 |
| په افغانی امانتونه | 8،923 | 7،705 | ٪13.6- | 1،217- | 8،035 | ٪4.27 | 329 |
| په بهرنیو اسعارو امانتونه | 14،661 | 13،495 | ٪8.0- | 1،166- | 14،792 | ٪9.62 | 1،298 |
| له ونډو (سهام) پرته په دولتي او غیر دولتي پورونو کې د پانګې اچونې پاڼې (securities) | | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 |

## ۳. د اسعارو د مبادلې بازار

### ۱.۳ د اسعارو د مبادلې نرخونه

د افغانستان بانک لومړنی موخه د بیو د ټیکاو ساتل دي. د بیو د ټیکاو ساتل ډېری ګټې لري. د بیو ټیکاو د اقتصادي ودې او د اقتصادي هوساینې لپاره یو مهم شرط ګڼل کېږي. د افغانستان بانک د پیسو د عرضې د کنټرولولو په موخه په اوونی کې یوځل پانګه ایزې پانې او په اوونی کې دوه ځلې د اسعارو د لیلام له لارې پولي زیرمې په غوره حد کې ساتي.

د افغانستان بانک د اسعارو په وړاندې د افغانی د مبادلې اسمي نرخ تر هدف لاندې نه نیسي؛ که څه هم اړینه ده چې د مبادلې په نرخ کې هغه نوسانات وڅارل شي چې اقتصادي شاخصونه اغېزمن کوي. په بازار کې د اضافه پولي عرضې د مخنیوي لپاره باید د افغانی ارزښت وساتل شي څو کافي زیرمې پاتې او ډاډ ترلاسه شي چې بهرنی بیلانس د لوی اقتصاد د ټیکاو د ستر هدف د زیانمنه کولو لامل نه ګرځي.

د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلې د اوسط نرخ ورځنی شرحه په ۶.۲ ګراف کې بیان شوې ده. د افغانی ارزښت د امریکایي ډالرو په وړاندې ۴.۵ سلنه راکم شوی دی چې د مالي کال د پیل له ۵۸.۰۸ افغانی څخه د ارزونې لاندې کال په پای کې یو ډالر په ۶۰.۷۲ افغانی مبادله کېده. د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانی د ارزښت د دې ډول نوسانونو د توضیح کولو لپاره مشخص دلیلونه شتون لري. دا دلیلونه کېدای شي امنیتي ننګونې، سیاسي ناډاډمنتیا، د بسپنه ورکوونکو هېوادونو لخوا د مالي مرستې کمېدل او د کډوالو د شمېر زیاتېدل وي. که چېرې د پانګې تیښته شتون ولري نو په ګردښت کې پیسې راکمېږي او اقتصادي دوران له کسر سره مخ کېږي. په پای کې، پر اقتصادي پراختیا باندې منفي اغېزه کوي او هغه د رکود په لورې بیايي. دا ټول لاملونه د اسعارو لپاره تقاضا باندې اغېزه کوي.

۶.۲ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ـ ۱۳۹۴ مالي کال (د ۲۰۱۴ له ډیسمبر څخه د ۲۰۱۵ تر جون پورې)




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/د بازار عملیات لوی آمریت، د افغانستان بانک

همدا ډول د افغانی ارزښت د بریتانیایي پاونډ، هندي روپی، ایراني ریال او پاکستانی روپۍ په وړاندې په ترتیب سره ۵.۲، ۰.۱، ۱۰.۲ او ۲.۳ سلنه راکم شوی دی. له بلې خوا د ارزونې لاندې موده کې د افغانی ارزښت د یورو په وړاندې ۴ سلنه لوړ شوی دی.

۷.۲ ګراف: د بریتانیایي پاونډ او یورو په وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ـ ۱۳۹۴ مالي کال (د ۲۰۱۴ له ډیسمبر څخه د ۲۰۱۵ تر جون پورې)




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د بازار عملیات لوی آمریت، د افغانستان بانک

۸.۲ ګراف: د هندي روپی او پاکستانی روپی په وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ـ ۱۳۹۴ مالي کال (د ۲۰۱۴ له ډیسمبر څخه د ۲۰۱۵ تر جون پورې)




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

۹.۲ ګراف: د ایراني ریال په وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ـ ۱۳۹۴ مالي کال (د ۲۰۱۴ ډیسمبر ـ ۲۰۱۵ جون)




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

## ۲.۳ د اسعارو لیلام

د اسعارو لیلام یو عمده ابزار دی چې د افغانستان بانک لخوا د پولي عرضې د کنټرولولو لپاره کارول کېږي. د اسعارو د لیلام اندازه د سیالت د وړاندې وینې د کاري اډانې په مرسته ټاکل کیږي چې له یوې خوا پولي تقاضا په پام کې نیسي او له بلې خوا د اسعارو د ودې نهایي حد تر غور لاندې نیسي. د ارزونې لاندې موده کې، په بازار کې د افغانستان بانک د لاسوهنې ټولیز ارزښت ۱.۴۳۲ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي چې له دې لارې یې ۸۳.۴۵ میلیارده افغانی له بازار څخه ویستلې دي.

**۲.۲ جدول: د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې لپاره د افغانستان بانک د اسعارو د لیلام لنډیز (په میلیون امریکایي ډالره)**

| نیټه | د داوطلبانو شمیر | تر ټولو لوړه بیه | تر ټولو ټیټه بیه | د بازار د مبادلې نرخ | کسر شوي بیه | اعلان شوی مبلغ | ورکړل شوی مبلغ | غوښتل شوی مبلغ | د ورکړل شویو داوطلبیو شمېره |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۳ دسمبر ۱۴ | 38 | 58.12 | 57.85 | 58.09 | 58.10 | 40.00 | 40.20 | 65.50 | 25 |
| ۲۷ دسمبر ۱۴ | 38 | 58.33 | 58.00 | 58.26 | 58.29 | 40.00 | 40.80 | 65.55 | 25 |
| ۳۰ دسمبر ۱۴ | 37 | 58.34 | 58.06 | 58.34 | 58.30 | 50.00 | 52.35 | 63.45 | 38 |
| ۴ جنوری ۱۵ | 33 | 58.08 | 57.82 | 58.07 | 58.00 | 50.00 | 44.35 | 47.80 | 41 |
| ۶ جنوری ۱۵ | 35 | 57.98 | 57.45 | 58.05 | 57.93 | 50.00 | 50.15 | 61.80 | 41 |
| ۱۰ جنوری ۱۵ | 35 | 57.99 | 57.80 | 57.99 | 57.96 | 45.00 | 45.15 | 56.25 | 36 |
| ۱۳ جنوری ۱۵ | 34 | 57.59 | 57.25 | 57.59 | 57.56 | 40.00 | 34.60 | 48.20 | 39 |
| ۱۷ جنوری ۱۵ | 38 | 57.81 | 57.62 | 57.80 | 57.76 | 40.00 | 42.55 | 47.70 | 39 |
| ۲۰ جنوری ۱۵ | 34 | 57.54 | 57.39 | 57.69 | 57.51 | 40.00 | 35.20 | 43.95 | 32 |
| ۲۴ جنوری ۱۵ | 33 | 57.17 | 56.83 | 57.33 | 57.12 | 40.00 | 27.80 | 38.35 | 32 |
| ۲۷ جنوری ۱۵ | 33 | 57.28 | 56.82 | 57.26 | 57.24 | 35.00 | 31.45 | 41.25 | 29 |
| ۳۱ جنوری ۱۵ | 30 | 57.32 | 57.02 | 57.34 | 57.29 | 30.00 | 28.00 | 35.80 | 26 |
| ۳ فبروری ۱۵ | 31 | 57.22 | 57.08 | 57.22 | 57.18 | 30.00 | 30.45 | 39.15 | 29 |
| ۷ فبروری ۱۵ | 36 | 57.39 | 57.03 | 57.36 | 57.35 | 25.00 | 26.85 | 39.60 | 28 |
| ۱۰ فبروری ۱۵ | 32 | 57.25 | 57.05 | 57.32 | 57.23 | 30.00 | 29.70 | 37.30 | 29 |
| ۱۴ فبروری ۱۵ | 34 | 57.28 | 57.10 | 57.32 | 57.26 | 30.00 | 23.35 | 35.55 | 26 |
| ۱۷ فبروری ۱۵ | 36 | 57.39 | 57.10 | 57.30 | 57.36 | 25.00 | 24.50 | 37.80 | 36 |
| ۲۱ فبروری ۱۵ | 33 | 57.30 | 57.01 | 57.33 | 57.27 | 25.00 | 22.55 | 30.25 | 29 |
| ۲۴ فبروری ۱۵ | 33 | 57.37 | 57.31 | 57.36 | 57.32 | 20.00 | 18.00 | 24.00 | 27 |
| ۲۸ فبروری ۱۵ | 38 | 57.26 | 57.13 | 57.24 | 57.23 | 20.00 | 13.75 | 21.35 | 23 |
| ۳ مارچ ۱۵ | 38 | 57.35 | 57.00 | 57.32 | 57.33 | 15.00 | 13.20 | 24.60 | 20 |
| ۷ مارچ ۱۵ | 31 | 57.45 | 57.37 | 57.37 | 57.41 | 10.00 | 10.00 | 15.50 | 20 |
| ۱۰ مارچ ۱۵ | 34 | 57.70 | 57.47 | 57.67 | 57.68 | 15.00 | 14.80 | 25.00 | 21 |
| ۱۴ مارچ ۱۵ | 34 | 57.82 | 57.41 | 57.82 | 57.80 | 20.00 | 25.30 | 30.40 | 32 |
| ۱۷ مارچ ۱۵ | 36 | 57.82 | 57.61 | 57.83 | 57.79 | 25.00 | 25.15 | 31.00 | 32 |
| ۲۴ مارچ ۱۵ | 34 | 57.77 | 57.30 | 57.80 | 57.73 | 35.00 | 32.95 | 42.30 | 36 |
| ۲۸ مارچ ۱۵ | 35 | 57.83 | 57.51 | 57.85 | 57.81 | 25.00 | 25.35 | 32.80 | 29 |
| ۳۱ مارچ ۱۵ | 36 | 57.95 | 57.40 | 57.93 | 57.92 | 25.00 | 35.10 | 41.05 | 35 |
| ۴ اپریل ۱۵ | 30 | 57.84 | 57.51 | 57.88 | 57.83 | 35.00 | 32.90 | 45.65 | 24 |
| ۷ اپریل ۱۵ | 33 | 57.86 | 57.30 | 57.88 | 57.82 | 35.00 | 35.00 | 42.65 | 31 |
| ۱۱ اپریل ۱۵ | 32 | 57.94 | 57.80 | 57.97 | 57.91 | 35.00 | 35.10 | 38.30 | 37 |
| ۱۴ اپریل ۱۵ | 33 | 57.88 | 57.45 | 57.89 | 57.84 | 35.00 | 35.20 | 43.45 | 36 |
| ۱۸ اپریل ۱۵ | 34 | 57.94 | 57.70 | 57.94 | 57.92 | 30.00 | 30.50 | 40.50 | 29 |
| ۲۱ اپریل ۱۵ | 36 | 57.88 | 54.76 | 57.88 | 57.84 | 30.00 | 30.65 | 41.15 | 30 |
| ۲۵ اپریل ۱۵ | 33 | 57.94 | 57.82 | 57.90 | 57.92 | 30.00 | 30.10 | 42.05 | 27 |
| ۲ می ۱۵ | 33 | 58.13 | 56.50 | 58.12 | 58.10 | 30.00 | 22.30 | 40.35 | 22 |
| ۵ می ۱۵ | 35 | 58.56 | 58.25 | 58.49 | 58.52 | 20.00 | 20.10 | 32.10 | 23 |
| ۹ می ۱۵ | 36 | 58.84 | 58.11 | 58.83 | 58.82 | 25.00 | 25.00 | 35.80 | 29 |
| ۱۲ می ۱۵ | 39 | 59.13 | 58.04 | 59.09 | 59.07 | 35.00 | 33.40 | 52.05 | 33 |
| ۱۶ می ۱۵ | 38 | 59.64 | 58.61 | 59.57 | 59.60 | 30.00 | 29.80 | 46.65 | 26 |
| ۱۹ می ۱۵ | 38 | 60.91 | 59.51 | 60.75 | 60.75 | 30.00 | 35.45 | 47.90 | 34 |
| ۲۳ می ۱۵ | 41 | 60.46 | 59.80 | 60.44 | 60.38 | 33.00 | 33.25 | 48.20 | 37 |
| ۲۶ می ۱۵ | 39 | 59.12 | 58.11 | 59.46 | 59.06 | 30.00 | 29.75 | 43.30 | 30 |
| ۳۰ می ۱۵ | 40 | 59.76 | 59.30 | 59.66 | 59.72 | 25.00 | 24.70 | 38.75 | 26 |
| ۲ جون ۱۵ | 40 | 59.86 | 58.80 | 59.82 | 59.80 | 28.00 | 26.20 | 38.10 | 34 |
| ۶ جون ۱۵ | 36 | 60.07 | 59.60 | 60.02 | 60.04 | 26.00 | 24.05 | 34.10 | 27 |
| ۹ جون ۱۵ | 36 | 60.04 | 59.61 | 60.02 | 60.02 | 24.00 | 18.05 | 33.70 | 21 |
| ۱۳ جون ۱۵ | 39 | 60.61 | 60.20 | 60.54 | 60.57 | 18.00 | 18.65 | 31.70 | 22 |
| ۱۶ جون ۱۵ | 39 | 60.56 | 60.00 | 60.49 | 60.53 | 18.00 | 18.35 | 27.65 | 25 |

## ۴.د پانګې بازارونه او د سیالیت شرایط

### ۱.۴. د پانګه ایزه پاڼو لیلام

د افغانستان بانك له پانګه ایزو پاڼو څخه د دویم پولي ابزار په توګه کار اخلي، پانګه ایزې پاڼې د افغانۍ لنډ مهاله بیه لرونکې پاڼې دي چې د افغانستان بانك لخوا د لومړني بازار مشتریانو او ډېری جواز لرونکي سوداګریزه بانکونه ته په اوونی کې یو ځل پلورل کیږي.

د افغانستان بانك څلور ډوله بیه لرونکې پاڼې: اووه ورځنـي، یوه میاشتني (۲۸ ورځني)، شپږ میاشتني (۱۸۲ ورځني) او یو کلن (۳۶۴ ورځني) پانګه ایزې پاڼې وړاندې کوي.

د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې د پانګه ایزو پاڼو ټولیزه ناترلاسه شوې کچه ۳۹ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې د تېر کال د دویمې ربعې د ۳۶.۳۹ میلیارده افغانۍ په پرتله ۷.۱۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې ښایي د پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا مخ په زیاتېدو ده.

د ارزونې لاندې موده کې د اوو ورځنیو پاڼو ناترلاسه شوې کچه ۰.۳ میلیارده افغانۍ وه، حال دا چې د ۲۸ ورځنیو پاڼو ۲.۱۴ میلیارده افغانۍ، د ۱۸۲ ورځنیو پاڼو ۱۵ میلیارده افغانۍ او د ۳۶۴ ورځنیو پاڼو ناترلاسه شوې کچه ۲۱.۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

۱۰.۲ ګراف د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د ټولیز سررسید مودو ناتصفیه شوې کچو د اجزاوو ویشنه ښکاره کوي.

۱۰.۲ ګراف: ناتصفیه شوې پانګه ایزې پاڼې د ۱۳۹۴ مالي کال




سرچینه: د بازار عملیات لوی آمریت، د افغانستان بانک

د روان کال په لومړۍ او دویمه ربعو کې د افغانستان بانک د ټولو بیه لرونکو پاڼو ډولونو لپاره اعلان شوي مبلغونه زیات کړل. د ارزونې لاندې موده کې، د اوو ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د عیار شوې ټکټانې اوسط نرخ ۱.۸۰ سلنه ؤ، په داسې حال کې چې د ۲۸ ورځنیو بیه لرونکو پاڼو نرخ ۳.۵ سلنې ته رسیږي، د ۱۸۲ ورځنیو بیه لرونکو پاڼو ۵ سلنه ؤ او د ۳۶۴ ورځنیو پاڼو نرخ ۷ سلنې ته لوړ شوی دی. د دویمې ربعې په پای کې د پانګه ایزو پاڼو لپاره ټولیزه تادیه شوې ټکټانه ۴۶۷.۲ میلیونه افغانۍ ته رسیږي.

۱۱.۲ ګراف: د اوو ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ




سرچینه: د بازار عملیات لوی آمریت. د افغانستان بانک

۱۲.۲ ګراف: د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو تقاضا او ورکړل شوی مبلغ




سرچینه: د بازار عملیات لوی آمریت. د افغانستان بانک

۱۳.۲ ګراف: د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ




سرچینه: د بازار عملیات لوی آمریت. د افغانستان بانک

۱۴.۲ ګراف: د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ




سرچینه: د بازار عملیات لوی آمریت. د افغانستان بانک

۱۵.۲ ګراف: د پانګه ایزو پاڼو د ټکټاني عیار شوی اوسط نرخ (٪)




سرچینه: د بازار عملیات لوی آمریت. د افغانستان بانک

۱۶.۲ ګراف: د پانګه ایزو پاڼو لپاره تولیزه ورکړل شوې ټکټانه، د ۱۳۹۴ مالي کال دوهمه ربعه




سرچینه: د بازار عملیات لوی آمریت. د افغانستان بانک

## ۲.۴ الزامي او اضافي زیرمې

سوداګریز بانکونه اړ دي چې د خپلو ټولو امانتونو ۸ سلنه د افغانستان بانک سره د الزامي زیرمې په توګه وساتي. د دې لپاره چې سوداګریزو بانکونو ته اسانتیاوې برابرې شي چې خپل سیالیت په سمه توګه مدیریت کړي او ورته فرصت ورکړل شي چې د پانګه ایزو پاڼو ترڅنګ په خپلو اضافي زېرمو باندې هم پانګونې وکړي. د افغانستان بانک د ۱۳۹۴ مالی کال د دویمې څخه د شپې دایمي آسانتیاوې (Overnight Standing Facility) معرفي کړې دي.

**د شپې د امانتونو آسانتیا:** دا آسانتیاوې د سوداګریزو بانکونو لپاره برابره شوي څو د خپلو اضافه بیلانسونو څخه بنه ګټتانه ترلاسه کړي. د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې د شپې د امانتونو د آسانتیا ناترلاسه شوی مبلغ ۱،۹۰۱.۹ میلیونه افغانۍ ؤ.

**د شپې پور آسانتیا:** دا آسانتیا د سوداګریزو بانکونو لخوا د لنډ مهاله نغدي اړتیاوو لپاره کارول کیږي. د دې آسانتیا کارونه سوداګریزو بانکو ته په هغه صورت کې اجازه ورکوي چې په خپل لنډ مهاله سیالیت کې له کمښت سره مخ شي، د شپې په اساس د افغانستان بانک څخه په افغانۍ پور ترلاسه کړي. کوم مبلغ چې له بانکونو څخه د دې اسانتیا په بدل کې ګرځول کیږي د تیرو ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د لیلام له مبلغ څخه ۳.۵ سلنه پورته دی. دا پور اخیستنه د پانګه ایزو پاڼو د نا تصفیه شوي مبلغ په مرسته تضمین کیږي.

۳.۲ جدول: د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام

| نېټه | د لیلام مبلغ | ورکړل شوی مبلغ | د داوطلبی ټولیز مبلغ | د ټولو داوطلبیو شمیره | د ګټل شویو داوطلبیو شمیره | کسر شوی نرخ (٪) | د داوطلبی تر ټولو ټیټ نرخ(٪) | د داوطلبی ترټولو لوړ نرخ (٪) | د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو عیار شوی اوسط |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶ جنوری ۲۰۱۵ | 2000 | 270 | رد شوی | | | | | 3.00 | |
| ۱۳ جنوری ۲۰۱۵ | 2000 | 100 | 100 | 1 | 1 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۲۰ جنوری ۲۰۱۵ | 1500 | 50 | 50 | 2 | 1 | 1.80 | 1.80 | 1.85 | 1.80 |
| ۲۷ جنوری ۲۰۱۵ | 1000 | 150 | 100 | 2 | 1 | 1.80 | 1.80 | 1.83 | 1.80 |
| ۳ فبروری ۲۰۱۵ | 1000 | 250 | 250 | 3 | 3 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۱۰ فبروری ۲۰۱۵ | 1000 | 100 | 100 | 1 | 1 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۱۷ فبروری ۲۰۱۵ | 500 | 150 | 150 | 2 | 2 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۲۴ فبروری ۲۰۱۵ | 300 | 150 | 150 | 2 | 2 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۳ مارچ ۲۰۱۵ | 300 | 300 | 300 | 2 | 2 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۱۰ مارچ ۲۰۱۵ | 500 | 350 | 350 | 2 | 2 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۱۷ مارچ ۲۰۱۵ | 1000 | 585 | 585 | 4 | 4 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۲۴ مارچ ۲۰۱۵ | 500 | 870 | 870 | 5 | 5 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۳۱ مارچ ۲۰۱۵ | 1500 | 510 | 510 | 3 | 3 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۷ اپریل ۲۰۱۵ | 1000 | 810 | 810 | 5 | 5 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۱۴ اپریل ۲۰۱۵ | 1000 | 520 | 520 | 3 | 3 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۲۱ اپریل ۲۰۱۵ | 1000 | 970 | 970 | 6 | 6 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۵ می ۲۰۱۵ | 1000 | 1150 | 1150 | 6 | 6 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۱۲ می ۲۰۱۵ | 1500 | 720 | 720 | 4 | 4 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۱۹ می ۲۰۱۵ | 1500 | 1100 | 1100 | 5 | 5 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۲۶ می ۲۰۱۵ | 2000 | 700 | 700 | 3 | 3 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۲ جون ۲۰۱۵ | 1500 | 250 | 250 | 1 | 1 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۹ جون ۲۰۱۵ | 250 | 150 | 150 | 1 | 1 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |
| ۱۶ جون ۲۰۱۵ | 500 | 300 | 300 | 1 | 1 | 1.80 | 1.80 | 1.80 | 1.80 |

سرچینه: د بازار عملیات لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۴.۲ جدول: د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام**

| نېټه | د لیلام مبلغ | ورکړل شوی مبلغ | د داوطلبی ټولیز مبلغ | د ټولو داوطلبیو شمیره | د ګټل شویو داوطلبیو شمیره | کسر شوی نرخ (٪) | د داوطلبی تر ټولو ټیټ نرخ (٪) | د داوطلبی تر ټولو لوړ نرخ (٪) | د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو عیار شوی اوسط |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۳ سمبر ۲۰۱۴ | 2000 | 1580 | 1580 | 7 | 7 | 3.560 | 3.6 | 3.56 | 3.6 |
| ۳۰ دسمبر ۲۰۱۴ | 2000 | 1300 | 1300 | 5 | 5 | 3.559 | 3.6 | 3.56 | 3.6 |
| ۶ جنوری ۲۰۱۵ | 2000 | 1030 | 1030 | 6 | 6 | 3.560 | 3.6 | 3.56 | 3.6 |
| ۱۳ جنوری ۲۰۱۵ | 2000 | 300 | 300 | 2 | 2 | 3.560 | 3.6 | 3.56 | 3.6 |
| ۲۰ جنوری ۲۰۱۵ | 2000 | 650 | 650 | 2 | 2 | 3.560 | 3.6 | 3.56 | 3.6 |
| ۲۷ جنوری ۲۰۱۵ | 1500 | 350 | 350 | 3 | 3 | 3.560 | 3.6 | 3.56 | 3.6 |
| ۳ فبروری ۲۰۱۵ | 1500 | 250 | 250 | 2 | 2 | 3.559 | 3.6 | 3.56 | 3.6 |
| ۱۰ فبروری ۲۰۱۵ | 1000 | 350 | 350 | 2 | 2 | 3.560 | 3.6 | 3.56 | 3.6 |
| ۱۷ فبروری ۲۰۱۵ | 1000 | 450 | 450 | 2 | 2 | 3.560 | 3.6 | 3.56 | 3.6 |
| ۲۴ فبروری ۲۰۱۵ | 500 | 750 | 300 | 5 | 1 | 3.559 | 3.6 | 3.56 | 3.6 |
| ۳ مارچ ۲۰۱۵ | 500 | 400 | 150 | 3 | 1 | 3.550 | 3.6 | 3.56 | 3.6 |
| ۱۰ مارچ ۲۰۱۵ | 1000 | 950 | 750 | 5 | 4 | 3.548 | 3.5 | 3.57 | 3.5 |
| ۱۷ مارچ ۲۰۱۵ | 1000 | 650 | 650 | 4 | 4 | 3.549 | 3.5 | 3.55 | 3.5 |
| ۲۴ مارچ ۲۰۱۵ | 1000 | 365 | 365 | 4 | 4 | 3.549 | 3.6 | 3.55 | 3.5 |
| ۳۱ مارچ ۲۰۱۵ | 1000 | 550 | 550 | 4 | 4 | 3.546 | 3.5 | 3.55 | 3.5 |
| ۷ اپریل ۲۰۱۵ | 1500 | 785 | 785 | 6 | 6 | 3.549 | 3.5 | 3.55 | 3.5 |
| ۱۴ اپریل ۲۰۱۵ | 1000 | 250 | 250 | 2 | 2 | 3.550 | 3.6 | 3.55 | 3.6 |
| ۲۱ اپریل ۲۰۱۵ | 1000 | 380 | 380 | 5 | 5 | 3.550 | 3.6 | 3.55 | 3.6 |
| ۵ می ۲۰۱۵ | 1500 | 1250 | 300 | 8 | 1 | 3.549 | 3.5 | 3.55 | 3.5 |
| ۱۲ می ۲۰۱۵ | 1250 | 1850 | 1850 | 7 | 7 | 3.529 | 3.5 | 3.55 | 3.5 |
| ۱۹ می ۲۰۱۵ | 1500 | 675 | 675 | 5 | 5 | 3.541 | 3.5 | 3.55 | 3.5 |
| ۲۶ می ۲۰۱۵ | 1000 | 200 | 200 | 1 | 1 | 3.549 | 3.5 | 3.55 | 3.5 |
| ۲ جون ۲۰۱۵ | 1500 | 450 | 450 | 2 | 2 | 3.545 | 3.5 | 3.55 | 3.5 |
| ۹ جون ۲۰۱۵ | 2000 | 750 | 750 | 4 | 4 | 3.547 | 3.5 | 3.55 | 3.5 |
| ۱۶ جون ۲۰۱۵ | 1500 | 740 | 740 | 6 | 6 | 3.543 | 3.53 | 3.549 | 3.5 |

سرچینه: د بازار عملیات لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۵.۲ جدول: د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام**

| نیټه | د لیلام مبلغ | ورکړل شوی مبلغ | د داوطلبی ټولیز مبلغ | د ټولو داوطلبیو شمیره | د ګټل شویو داوطلبیو شمیره | کسر شوی نرخ (٪) | د داوطلبی تر ټولو ټیټ نرخ (٪) | د داوطلبی ترټولو لوړ نرخ (٪) | د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو عیار شوی اوسط |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 23-Dec-14 | 1500 | 1747.3 | 718.3 | 7 | 6 | %5.23 | 5.23 | 7.10 | 5.23 |
| 30-Dec-14 | 1500 | 635.5 | 635.5 | 4 | 4 | %5.23 | 5.22 | 5.23 | 5.22 |
| 6-Jan-15 | 1500 | 1208.5 | 700.0 | 3 | 3 | %5.23 | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| 13-Jan-15 | 1000 | 1110.0 | 852.7 | 4 | 4 | %5.23 | 5.23 | 5.23 | 5.23 |
| 20-Jan-15 | 1000 | 150.0 | 0.0 | 2 | 0 | %5.23 | 0.00 | 5.23 | 0.00 |
| 27-Jan-15 | 1000 | 470.0 | 200.0 | 3 | 1 | %5.20 | 5.20 | 5.23 | 5.20 |
| 3-Feb-15 | 1000 | 550.0 | 550.0 | 3 | 3 | %5.20 | 5.16 | 5.20 | 5.19 |
| 10-Feb-15 | 1500 | 519.1 | 519.1 | 3 | 3 | %5.20 | 5.19 | 5.20 | 5.19 |
| 17-Feb-15 | 1000 | 587.9 | 444.0 | 5 | 5 | %5.20 | 5.20 | 5.21 | 5.20 |
| 24-Feb-15 | 1000 | 607.6 | 607.6 | 4 | 4 | %5.20 | 5.19 | 5.20 | 5.20 |
| 3-Mar-15 | 1000 | 862.3 | 415.0 | 5 | 3 | %5.19 | 5.18 | 5.21 | 5.18 |
| 10-Mar-15 | 1000 | 1822.3 | 1442.3 | 8 | 6 | %5.19 | 5.18 | 5.20 | 5.19 |
| 17-Mar-15 | 1000 | 903.4 | 903.4 | 5 | 5 | %5.18 | 5.18 | 5.20 | 5.20 |
| 24-Mar-15 | 1000 | 385.2 | 385.2 | 4 | 4 | %5.19 | 5.19 | 5.20 | 5.19 |
| 31-Mar-15 | 1000 | 185.0 | 160.0 | 4 | 3 | %5.20 | 5.19 | 5.20 | 5.19 |
| 7-Apr-15 | 1000 | 635.0 | 635.0 | 3 | 3 | %5.20 | 5.19 | 5.20 | 5.20 |
| 14-Apr-15 | 500 | 300.0 | 300.0 | 3 | 3 | %5.95 | 5.20 | 5.20 | 5.20 |
| 21-Apr-15 | 500 | 385.0 | 385.0 | 3 | 3 | %5.20 | 5.20 | 5.20 | 5.20 |
| 5-May-15 | 500 | 2320.0 | 100.0 | 5 | 1 | %5.18 | 5.18 | 5.20 | 5.18 |
| 12-May-15 | 750 | 2195.0 | 720.0 | 6 | 4 | %5.18 | 5.15 | 5.18 | 5.17 |
| 19-May-15 | 1000 | 2110.0 | 2110.0 | 6 | 6 | %5.18 | 5.17 | 5.18 | 5.18 |
| 26-May-15 | 1500 | 550.0 | 550.0 | 4 | 4 | %5.18 | 5.17 | 5.18 | 5.18 |
| 2-Jun-15 | 1000 | 225.0 | 225.0 | 2 | 2 | %5.18 | 5.18 | 5.18 | 5.18 |
| 9-Jun-15 | 500 | 1000.0 | 1000.0 | 4 | 4 | %5.18 | 5.18 | 5.18 | 5.18 |
| 16-Jun-15 | 1500 | 535.0 | 535.0 | 4 | 4 | %5.18 | 5.18 | 5.18 | 5.18 |

سرچینه: د بازار عملیاتو لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۶.۲ جدول: د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام**

| نېټه | د لیلام مبلغ | ورکړل شوی مبلغ | د داوطلبۍ تولیز مبلغ | د ټولو داوطلبيو شمیره | د ګټل شویو داوطلبيو شمیره | کسر شوی نرخ (٪) | د داوطلبۍ تر ټولو ټیټ نرخ (٪) | د داوطلبۍ تر ټولو لوړ نرخ (٪) | د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو عیار شوی اوسط |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 23-Dec-14 | 1500 | 765.00 | 765.00 | 6 | 6 | 7.1 | 7.09 | 7.1 | 7.1 |
| 30-Dec-14 | 1000 | 195.00 | 195.00 | 3 | 3 | 7.1 | 7.10 | 7.1 | 7.1 |
| 6-Jan-15 | 500 | 225.00 | رد شوی | 4 | 0 | 0.0 | 0.00 | 7.1 | 0.0 |
| 13-Jan-15 | 500 | 250.00 | رد شوی | 2 | 0 | 7.1 | 0.00 | 7.1 | 0.0 |
| 20-Jan-15 | 500 | 241.57 | رد شوی | 2 | 0 | 0.0 | 7.05 | 7.1 | 0.0 |
| 27-Jan-15 | 500 | 110.00 | رد شوی | 2 | 0 | 0.0 | 7.00 | 7.0 | 0.0 |
| 3-Feb-15 | 500 | 176.57 | رد شوی | 2 | 0 | 6.9 | 0.00 | 6.9 | 0.0 |
| 10-Feb-15 | 500 | 5.00 | رد شوی | 1 | 0 | 6.8 | 0.00 | 6.8 | 0.0 |
| 17-Feb-15 | 500 | رد شوی | رد شوی | 0 | 0 | 0.0 | 0.00 | 0.0 | 0.0 |
| 24-Feb-15 | 500 | رد شوی | رد شوی | 1 | | | 6.75 | 6.8 | |
| 3-Mar-15 | 500 | 25.00 | رد شوی | 0 | 0 | 0.0 | 6.75 | 6.8 | 0.0 |
| 10-Mar-15 | 1000 | 10.00 | رد شوی | 0 | 0 | 0.0 | 6.75 | 6.8 | 0.0 |
| 17-Mar-15 | 1000 | 2025.00 | رد شوی | 1 | 0 | 0.0 | 6.73 | 6.8 | 0.0 |
| 24-Mar-15 | 500 | 2374.00 | 2374.00 | 2 | 2 | 6.7 | 6.69 | 6.7 | 6.7 |
| 31-Mar-15 | 500 | 470.00 | 470.00 | 4 | 4 | 6.7 | 6.69 | 6.7 | 6.7 |
| 7-Apr-15 | 500 | 283.00 | 283.00 | 3 | 3 | 6.7 | 6.70 | 6.7 | 6.7 |
| 14-Apr-15 | 1000 | 1643.00 | 1643.50 | 4 | 4 | 6.7 | 6.70 | 6.7 | 6.7 |
| 21-Apr-15 | 1000 | 1016.00 | 1016.00 | 4 | 4 | 6.7 | 6.70 | 6.7 | 6.7 |
| 12-May-15 | 250 | 2360.00 | رد شوی | 5 | 0 | 6.7 | 0.00 | 6.7 | 0.0 |
| 19-May-15 | 500 | 1520.00 | 1520.00 | 3 | 3 | 6.7 | 6.60 | 6.7 | 6.7 |
| 26-May-15 | 1500 | 600.00 | 600.00 | 3 | 3 | 6.7 | 6.65 | 6.7 | 6.7 |
| 2-Jun-15 | 1500 | 642.47 | 642.47 | 3 | 3 | 6.7 | 6.67 | 6.7 | 6.7 |
| 9-Jun-15 | 1500 | 1195.22 | 1145.22 | 7 | 6 | 6.7 | 6.68 | 6.7 | 6.7 |
| 16-Jun-15 | 1000 | 1210.00 | 1210.00 | 7 | 6 | | 6.68 | 6.7 | 6.7 |

سرچینه: د بازار عملیاتو لوی آمریت، د افغانستان بانک

# ۳

# د انفلاسیون بهیر او لیدلوری

## د انفلاسیون بهیر او لید لوری

د خالصه وارداتو کې هېواد په توګه، افغانستان په نړیواله او سیمه ایزه کچه د بیو د بدلونونو په وړاندې ډېر زیانمننونکی دی. د ګاونډیو هېوادونو په تېره بیا د افغانستان د سوداګریزو شریکانو د بیو په کچو کې بدلونونه د دې هېواد د کورني اقتصاد په تولیزه بیو باندې اغېزه کوي.

د سیمه ایزې همکارۍ لپاره د سویلي آسیا د ټولنې (SAARC) غړو هېوادونو د ۲۰۱۵ کال په لومړیو دوو ربعو کې ښه اقتصادي وده درلودلې ده چې له امله یې تر یو حده پورې په سیمه کې د صادراتو کمزوره فعالیت ښه شوی دی. د ۲۰۱۴ کال له نیمايي راهیسې په نړیواله کچه د نفتو د بیو کمېدنه، د پاکستان، سریلانکا او بنګله دیش په شان په ځینو نورو هېوادونو کې د پیسو د لېږد زیاتېدنه، په پاکستان، بنګله دیش او افغانستان کې پرېمانه موسمي حاصلاتو او په بوتان کې د حرارتي برېښنا د پروژو پلي کولو او رغولو د سیمې اقتصادي وده پیاوړې کړې ده.

د انرژۍ او خوراکي توکو د بیو ټیټوالي؛ د نړۍ د نورو سیمو په شان د سارک د سیمې د انفلاسیون نرخ باندې هم د پام وړ اغېزه کړې ده چې د څو کلونو راهیسې په بې ساري توګه راښکته شوی دی.

هندوستان خپلو مالي موخو ته د رسېدو لپاره د ډیزل بیې آزاده پرې ایښې دي څو د حکومت عواید لوړ کړي چې له همدې امله د هند د نفتو کورنۍ بیې نسبتاً راښکته شوې دي، په داسې حال کې چې په پاکستان او سریلانکا کې د نفتو د بیو په ټیټېدو سره د انفلاسیون کچه راکمه شوې ده. په بنګله دیش کې د انفلاسیون نرخ ټیټې شوی، خو لا هم نسبتاً لوړ دی چې اصلي لاملونه یې په اقتصاد کې د محدوده اضافي ظرفیت شتونتیا او وروستي ټرانسپورټي ګډوډۍ ګڼل کیږي.

### ۱. په افغانستان کې د مصرفي توکو بیې

د ۱۳۹۴ مالي کال په دوېمه ربعه کې د انفلاسیون نرخ چې د ملي مصرفي توکو د بیې په شاخص کې د کال په کال بدلونونو پر بنسټ اټکل کیږي، منفي بهیر درلودلی دی. د ملي عمومي انفلاسیون نرخ د ارزونې لاندې موده کې منفي ۲.۸ سلنه (کال په کال) ثبت شوی دی چې د تېر کال د ورته مودې د ۵.۶ سلنې په پرتله د پام وړ ټیټوالي ښکاره کوي.

د یادولو وړ ده چې د دوامداره لوړ انفلاسیون په شان، اوږدمهاله دیفلاسیون هم پر ټولیزه اقتصادي کړنو باندې منفي اغېزه لري. دیفلاسیوني حالت په قطعي ډول زیان درلودونکی نه دی، خو یوازینی بدوالی یې دا دی چې پانګونو او د مصرفي توکو لګښت ته لیوالتیا کموي. د دې ترڅنګ که چیرې دیفلاسیون د اوږدې مودې لپاره دوام ومومي او د اقتصادي رکود لامل شي نو د بېکارۍ کچه لوړیږي.

د شته معلوماتو په پام کې نیولو سره دا په اسانۍ څرګندیږي چې په دې موده کې د انفلاسیون د ټیټوالي اصلي لامل د ناخوراکي توکو په بیو کې دوامداره کموالی دی.

د شته معلوماتو پر بنسټ، د ۱۳۹۴ مالي کال په دوېمه ربعه کې په دواړو د کابل د مصرفي توکو د بیو په شاخص او د عمومي مصرفي توکو د بیو په شاخص باندې دیفلاسیوني فشارونه زیات شوي دي.

د بیلګې په توګه، د عمومي انفلاسیون نرخ د تیر کال له ورته ربعې څخه د ۱۳۹۴ مالي کال په دویمه ربعه کې (کال په کال) د پام وړ ټیټوالی موندلی دی. د خوراکي توکو او نا خوراکي توکو بیو؛ د بیو عمومي شاخص راټیټ کړی دی. د مصرفي توکو د بیو د شاخص د نورو برخو له ډلې د ډوډۍ او حبوباتو، غوړیو او شحمیاتو، غوښې، سبزیجاتو،

ټرانسپورټ او متفرقه برخو کې بدلونونه تر سترګو شوي دي.
سربېره پر دې، د اصلي انفلاسيون کچه له ډوډۍ او حبوباتو او غوړيو او شحمياتو پرته د ۱۳۹۴ مالي کال په دوېمه ربعه کې (کال په کال) منفي ۱.۹ سلنې ته راټيټه شوې ده.
د ۱۳۹۴ مالي کال په دوېمه ربعه کې د کابل په عمومي انفلاسيون کې کلني بدلونونه منفي ۳.۶ سلنې ته رسيږي چې د ملي مصرفي توکو د بيو شاخص هم ورته بهير درلودلی دی چې دا شمېره د ۱۳۹۳ مالي کال د دويمې ربعې د ۱.۲ سلنه انفلاسيون په پرتله د پام وړ ټيټوالی ښکاره کوي. د انفلاسيون په نرخ کې دا ټيټوالی د دواړو خوراکي او نا خوراکي توکو د بيو له امله چې د مصرفي توکو د بيو د شاخص عمده برخې جوړوي، رامنځ ته شوی دی.

۱.۳ ګراف: د ملي مصرفي توکو د بيې شاخص (کال په کال)




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

د مصرفي توکو د بيو د شاخص د ډېرو زيانمننونکو برخو د اغېزو د لرې کولو او په هېواد کې د ثابته انفلاسيوني بهير څخه د غوره انځور اخيستلو لپاره مونږ اصلي انفلاسيون محاسبه کوو. اصلي انفلاسيون چې د ۲۸ سلنه قيچي کارۍ ميتود (د اوسط پيدا کولو ميتود) په مرسته محاسبه کېږي، يو بيل انځور وړاندې کوي. اصلي انفلاسيون چې د قيچي کارۍ ميتود په مرسته محاسبه کېږي، د ۱۳۹۴ مالي کال په دوېمه ربعه کې ۰.۵ سلنې ته رسيږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۶.۳ سلنې په پرتله ټيټوالی ښکاره کوي.

۲.۳ ګراف: اصلي انفلاسيون (۳۰ سلنه قيچي کارۍ ميتود)




سرچينه: د پولي سياست لوی آمريت، د افغانستان بانک

### ۱.۱ د ملي عمومي مصرفي توکو د بيو د شاخص پرمختياوې

### ۱.۱.۱ کلني پرمختياوې

د عمومي انفلاسيون د بدلونونو عواملو د څېړلو په پام کې نيولو سره اړينه ګڼل کيږي چې د هغو برخو د انفلاسيوني بهير په اړه بحث وکړو چې د مصرفي توکو د بيې د شاخص په ټوکرۍ کې د پام وړ رول لوبوي. د عمومي انفلاسيون په نرخ کې د ۰.۰۸۴ سلنه کموالي اصلي لامل د خوراکي توکو په بيو کې د پام وړ کموالي په ګوته شوی دی. د نا خوراکي توکو فرعي شاخص هم د راپور ورکولو په موده کې ټيټېدونکی بهير درلودلی دی چې د عمومي انفلاسيون په کمېدو کې يې مرسته کړې ده.
د خوراکي توکو بيې بېرته راټيټې شوي او د ۱۳۹۴ مالي کال په دوېمه ربعه کې يې (کال په کال) ۳.۳ سلنه ديفلاسيوني نرخ ثبت کړی دی چې د تېر کال د ورته مودې د ۱۳.۰ سلنې په پرتله د پام وړ ټيټوالی ښکاره کوي. د خوراکي توکو بيې د ۱۳۹۳ مالي کال په لومړيو دريو ربعو کې له شديده زياتوالي وروسته د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړيو دوو

ربعو کې د پام وړ کموالی موندلی دی چې عمده لامل یې د نړۍ په کچه د غنمو ښه عرضه ښودل شوې چې په سیمه ایزه توګه یې زیاتوالی موندلی دی او په پاکستان کې د غنمو د ښه حاصلاتو له امله د دې محصول بیې لا راکمې شوي دي. همدا ډول، د ۱۳۹۳ مالي کال په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال کې کورني کرنیز تولیدات د قناعت وړ دي چې له امله یې د خوراکي توکو پر بیو باندې عمومي فشار راکم شوی دی.

د نا خوراکي توکو انفلاسیون د تیر کال د ورته دورې له ۱.۴ څخه د ۱۳۹۴ مالي کال په پرتله په دوېمه ربعه کې منفي ۲.۲ سلنې ته د پام وړ ټیټوالی درلودلی دی. پر عمومي انفلاسیون باندې د غیر خوراکي توکو اغېزې د خوراکي توکو په شان د پام وړ دي.

تر ټولو زیات بدلون د ډوډۍ او حبوباتو په بیو کې لیدل شوی دی چې د تېر کال د دویمې ربعې د ۱۱.۴ سلنې زیاتوالي په پرتله یې په دې ربعه کې ۳.۴ سلنه دیفلاسیوني نرخ ثبت کړی دی چې په دې برخه کې د ۰.۱۴۸ سلنه کموالي له امله د عمومي انفلاسیون نرخ راښکته شوی دی. غوړي او شحمیات د دې شاخص بله مهمه برخه ده چې د مصرفي توکو د بیې د شاخص د ۴.۰ سلنې په درلودلو سره شدیده کموالی ښکاره کوي او د ۱۳۹۴ مالي کال په دوېمه ربعه کې (کال په کال) منفي ۷.۲ سلنه ثبت شوی دی چې د تېر کال د ورته مودې د ۱.۷ سلنې زیاتوالي په پرتله د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي. د انفلاسیون په نرخ کې د ۰.۰۸۹ سلنه کموالي اصلي لامل د پترولیمو د بیو د پام وړ ټیټوالی په ګوته شوی دی چې له امله یې د ټرانسپورټ لګښتونه راکم شوي دي.

د ارزونې لاندې موده کې د سبزیجاتو بیو هم د پام وړ ټیټوالی درلودلی دی. د ډوډۍ او حبوباتو د بیو د اغېزمنه کیدو ورته لاملونه د سبزیجاتو بیې (د مصرفي توکو د بیې شاخص ۷.۹ سلنه) راکمې کړې دي. د ۱۳۹۳ مالي کال په دوېمه ربعه کې د سبزیجاتو بیې ۲۴.۳ سلنه د پام وړ زیاتوالی وروسته د ۱۳۹۴ مالي کال په دوېمه ربعه کې په لویه کچه راغورځېدلې دي چې (کال په کال) منفي ۱۵.۹ سلنې ته رسېږي او ۰.۴۰۲ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړي نیمایي کې د غوښې بیې هم راښکته شوي دي. د غوښې بیې (د مصرفي توکو د بیې د شاخص ۷.۲ سلنه) جوړوي او ( کال په کال) منفي ۰.۲ سلنې ته رسېږي، په داسې حال کې چې د تېر کال په همدې موده کې یې ۳.۴ سلنه زیاتوالی ثبت کړی دی. ۰.۰۳۶ سلنې عمده لامل د عرضې برخه ګڼل کېږي. بله دا چې د غوښې بیې د غلې دانو د بیو د چټکه ټیټوالي له امله اغېزمنه شوي دي.

کور جوړونه چې د نا خوراکي شاخص تر ټولو لویه برخه او د مصرفي توکو د بیې د شاخص د ټوکرۍ ۲۰.۷ سلنه جوړوي، د دیفلاسیون په نرخ کې یې لږ څه وده ښکاره کړې ده. کور جوړونه د ۱۳۹۴ مالي کال په دوېمه ربعه کې منفي ۷.۰ سلنې ته راښکته شوې ده، په داسې حال کې چې تېر کال دا نرخ منفي ۹.۱ سلنه ؤ. د کور جوړونې د بیو د کمېدو اصلي لامل د سیاسي او امنیتي ناډاډمنتیا له امله د کور جوړونې لپاره لږه تقاضا ویل شوې ده.

ټرانسپورټ (چې د شاخص ۴.۷ سلنه جوړوي) د تېر کال د دویمې ربعې د ۲۰.۱ سلنه زیاتوالي په پرتله د ۱۳۹۴ مالي کال په دویمه ربعه کې(کال په کال) منفي ۱۰.۰ سلنه د پام وړ راټیټ شوی دی. د ۰.۳۰۱ سلنه کموالي اصلي لاملونه د نړۍ د انرژۍ د بیو د ټیټوالي له کبله د نا خوراکي توکو د پام وړ ټیټوالی او له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتل او افغان ځواکونو ته د امنیتي مسؤولیتونو سپارل ښودل شوي دي.

۳.۳ ګراف: د ملي انفلاسیون د ۱۲ میاشتو اوسط




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۲.۱.۱ د ملي مصرفي توکو د بیې په شاخص کې درېې میاشتنی بدلونونه

دا برخه د ملي مصرفي توکو د بیې د شاخص درېې میاشتنی بدلونونه رانغاړي. د دې لپاره چې وګورو په دې وروستیو کې د انفلاسیون نرخ څنګه پر مخ ځي نو اړینه ده چې د ۱۳۹۴ کال له لومړی ربعې سره د همدې کال د دویمې ربعې د مصرفي توکو د بیې شاخص او د هغه د بیلابیلو برخو ربعې په ربعې

۱.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې د شاخص د اجزاوو ویشنه
(د کال پر اساس د بدلونونو سلنه)
(د ۲۰۱۱ کال مارچ میاشت = ۱۰۰)

| | وزن | 1392 لومړی ربع | 1392 دویمه ربع | 1392 درېمه ربع | 1392 څلورمه ربع | 1393 لومړی ربع | 1393 دویمه ربع | 1393 درېمه ربع | 1393 څلورمه ربع | 1394 لومړی ربع | 1394 دویمه ربع |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **ټولیز شاخص** | **100.0** | **6.4** | **7.6** | **8.0** | **7.3** | **5.6** | **5.6** | **4.2** | **1.3** | **-0.7** | **-2.8** |
| **خوراکي توکي او څښاک** | **52.0** | **5.2** | **6.9** | **9.1** | **9.6** | **10.0** | **9.7** | **6.8** | **2.9** | **-0.6** | **-3.3** |
| ډوډۍ او حبوبات | 17.7 | 12.8 | 13.7 | 14.6 | 9.1 | 9.5 | 11.4 | 11.0 | 8.0 | 1.9 | -3.4 |
| غوښه | 7.2 | 6.0 | 5.3 | 6.6 | 5.0 | 2.6 | 3.4 | 3.7 | 3.4 | 2.4 | -0.2 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 4.8 | 4.9 | 4.1 | 7.8 | 5.0 | 6.5 | 6.1 | 2.1 | 3.4 | 1.4 | 1.0 |
| غوړي او شحمیات | 4.0 | -0.5 | -2.3 | -0.4 | 0.3 | 1.8 | 1.7 | 0.9 | -1.7 | -6.2 | -7.2 |
| تازه او وچه میوه | 4.8 | -3.2 | 2.0- | -0.1 | 4.7 | 8.5 | 9.9 | 9.2 | 11.5 | 6.6 | 7.9 |
| سبزیجات | 7.9 | -3.3 | 6.6 | 15.3 | 30.7 | 30.3 | 24.3 | 7.1 | -9.6 | -11.7 | -15.9 |
| بوره او خواږه توکي | 2.9 | 3.4 | 4.7 | 2.8 | 2.4 | 2.5 | -1.6 | -0.2 | -1.0 | -1.1 | 0.5 |
| اچار، ترشي او... | 0.9 | 8.8 | 10.2 | 5.6 | 8.1 | 10.5 | 9.4 | 12.0 | 5.9 | 1.0 | -1.0 |
| غیر الکولي مشروبات | 1.8 | 7.6 | 8.5 | 6.8 | 6.6 | 7.4 | 3.7 | 4.0 | 2.1 | 1.3 | 3.1 |
| **نا خوراکي** | **48.0** | **7.7** | **8.4** | **6.8** | **4.9** | **1.1** | **1.4** | **1.4** | **-0.5** | **-0.8** | **-2.2** |
| تمباکو | 0.4 | 11.5 | 19.5 | 21.2 | 10.9 | 8.4 | 3.0 | 0.6 | 6.7 | 2.8 | 12.8 |
| پوښاک | 7.0 | 8.0 | 10.3 | 8.9 | 8.8 | 8.3 | 8.1 | 6.9 | 4.2 | 2.9 | 2.0 |
| کور جوړونه (استوګنځی) | 20.7 | 11.8 | 11.1 | 6.8 | 2.1 | -8.5 | -9.1 | -8.8 | -9.7 | -5.1 | -7.0 |
| فرنیچر او کورني توکي | 7.0 | 3.9 | 6.0 | 6.5 | 8.7 | 8.5 | 10.4 | 10.3 | 8.4 | 4.9 | 2.1 |
| روغتیا | 3.3 | 11.3 | 13.0 | 11.2 | 8.0 | 8.8 | 9.0 | 10.3 | 8.5 | 7.7 | 7.4 |
| ټرانسپورټ | 4.7 | -2.5 | -1.5 | 3.6 | 5.8 | 16.6 | 20.1 | 19.5 | 11.3 | -6.9 | -10.0 |
| اړیکې | 1.1 | -6.7 | -6.4 | -4.5 | -2.5 | -1.5 | -1.4 | -2.0 | -3.4 | -4.7 | -3.3 |
| زده کړه | 0.7 | 7.1 | 1.7 | 1.8 | 1.8 | 1.9 | 5.0 | 4.0 | 2.8 | 2.0 | -2.7 |
| معلومات او کلتور | 0.1 | 3.2 | 3.5 | 2.6 | 2.3 | 6.5 | 5.4 | 7.1 | 7.0 | 1.2 | 3.8 |
| ریستورانتونه او هوټلونه | 1.0 | 2.4 | 2.8 | 3.7 | 1.8 | 2.6 | 2.4 | 4.6 | 3.2 | 2.2 | 4.2 |
| متفرقه | 1.8 | 5.5 | 5.2 | 6.6 | 8.0 | 7.6 | 10.2 | 8.2 | 7.6 | 7.3 | 7.2 |
| اصلي انفلاسیون (۳۰ سلنه د قیچي کارۍ میتود پر اساس | | **4.9** | **5.8** | **5.8** | **5.6** | **6.4** | **6.3** | **5.6** | **4.3** | **-0.1** | **0.5** |
| اصلي انفلاسیون (د ډوډۍ او حبوبات، غوړي او شحمیاتو او تمباکو څخه پرته عمومي انفلاسیون) | | **5.9** | **7.4** | **7.2** | **7.2** | **4.3** | **3.6** | **1.7** | **-0.8** | **-0.7** | **-1.9** |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

بدلونونه پرتله کړو. له نیکه مرغه، د ارزونې لاندې ربعه کې د دیفلاسیون په نرخ کې ځینې بدلونونه لیدل شوي دي. د مصرفي توکو د بیې ټولیز شاخص درې میاشتنی نرخ منفي بهیر درلودلی دی چې د تېرې ربعې له منفي ۲.۹ سلنې څخه یې منفي ۰.۹ سلنې ته وده کړې ده. د خوراکي توکو د کټګورۍ دیفلاسیون نرخ راکم شوی دی، خو پر عمومي بهیر باندې یې اغېزه ډېره لږه ده. د بیلګې په توګه، ډوډۍ او حبوبات او غوړي او شحمیات هغه خوراکي برخې دي چې د دیفلاسیون په نرخ کې یې پرمختګونه ثبت کړي دي. ډوډۍ او حبوباتو او غوړي او شحمیاتو په ترتیب سره د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړی ربعې د ۵.۱ سلنې او ۵.۴ سلنې دیفلاسیوني نرخ په پرتله په دوېمه ربعه کې ۱.۳ سلنه او ۱.۳ سلنه دیفلاسیوني نرخ ثبت کړی دی.

د نا خوراکي توکو د فرعي کټګوریو په ډله کې، تمباکو، پوښاک، فرنیچر او کور جوړونې په ترتیب سره د تېرې ربعې د منفي ۳.۸ سلنې، منفي ۰.۱ سلنې او ۱.۷ سلنې په پرتله په دې ربعه کې ۱۲.۱ سلنې، ۱.۱ سلنې او ۱.۷ سلنې لوړې شوي دي. د نا خوراکي توکو ځینو برخو د تېرې ربعې په پرتله د دیفلاسیون په نرخ کې پرمختګونه تجربه کړي دي. د بیلګې په توګه، کور جوړونې او ټرانسپورټ د تېرې ربعې د منفي ۵.۷ سلنې او منفي ۸.۷ سلنې په پرتله په دې ربعه کې په ترتیب سره منفي ۲.۲ سلنه او منفي ۰.۲ سلنه وده ثبت کړې ده.

**۲.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه**

(د ربعې له مخې د بدلونونو سلنه)

(د ۲۰۱۱ کال د مارچ میاشت)

| | ۱۳۹۲ | | | | ۱۳۹۳ | | | | ۱۳۹۴ | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړی ربعه | دوېمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړی ربعه | دوېمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړی ربعه | دوېمه ربعه |
| **ټولیز شاخص** | **0.6** | **1.2** | **1.1** | **4.2** | **-1.0** | **1.2** | **-0.2** | **1.3** | **-2.9** | **-0.9** |
| **خوراکي توکي او څښاک** | **0.5** | **1.3** | **1.7** | **5.9** | **0.8** | **1.0** | **-1.0** | **2.0** | **-2.7** | **-1.7** |
| ډوډۍ او حبوبات | 0.2 | 2.4 | 3.0 | 3.2 | 0.6 | 4.1 | 2.7 | 0.4 | -5.1 | -1.3 |
| غوښه | 2.6 | 0.0 | 1.8 | 0.6 | 0.3 | 0.7 | 2.1 | 0.3 | -0.7 | -1.9 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 0.4 | -1.4 | 4.8 | 1.2 | 1.9 | -1.8 | 0.8 | 2.5 | -0.1 | -2.1 |
| غوړي او شحمیات | -2.3 | -0.2 | 0.7 | 2.1 | -0.9 | -0.2 | -0.1 | -0.5 | -5.4 | -1.3 |
| تازه او وچه میوه | 2.7 | 2.0 | -1.0 | 0.9 | 6.5 | 3.4 | -1.7 | 3.1 | 1.8 | 4.6 |
| سبزیجات | 0.0 | 1.7 | -1.0 | 29.9 | -0.3 | -3.0 | -14.7 | 9.7 | -2.7 | -7.6 |
| بوره او خواږه توکي | -2.3 | 1.3 | 1.9 | 1.5 | -2.1 | -2.8 | 3.3 | 0.7 | -2.3 | -1.2 |
| اچار، ترشي او... | 1.0 | 3.8 | -2.1 | 5.3 | 3.3 | 2.7 | 0.3 | -0.5 | -1.5 | 0.7 |
| غیر الکولي مشروبات | -0.2 | 3.0 | 1.6 | 2.1 | 0.5 | -0.6 | 1.9 | 0.3 | -0.3 | 1.1 |
| **نا خوراکي توکي** | **0.8** | **1.1** | **0.6** | **2.4** | **-2.9** | **1.4** | **0.6** | **0.5** | **-3.3** | **0.0** |
| تمباکو | 2.1 | 7.5 | -0.5 | 1.5 | -0.2 | 2.2 | -2.8 | 7.6 | -3.8 | 12.1 |
| پوښاک | 1.7 | 2.1 | 0.9 | 3.8 | 1.2 | 1.9 | -0.2 | 1.3 | -0.1 | 1.1 |
| کور جوړونه (استوګنځی) | 0.1 | 0.4 | -0.4 | 2.0 | -10.3 | -0.3 | -0.1 | 1.1 | -5.7 | -2.2 |
| فرنیچر او کورني توکي | 1.9 | 2.8 | 1.2 | 2.5 | 1.8 | 4.6 | 1.1 | 0.7 | -1.5 | 1.7 |
| روغتیا | 3.4 | 1.8 | 1.3 | 1.2 | 4.2 | 2.0 | 2.5 | -0.4 | 3.4 | 1.8 |
| ټرانسپورټ | -1.0 | 0.2 | 2.9 | 3.6 | 9.1 | 3.2 | 2.4 | -3.5 | -8.7 | -0.2 |
| اړیکي | -1.1 | -1.4 | -0.7 | 0.7 | -0.1 | -1.3 | -1.3 | -0.7 | -1.4 | 0.1 |
| زده کړه | 1.7 | -0.6 | 0.8 | 0.0 | 1.8 | 2.4 | -0.2 | -1.2 | 1.0 | -2.2 |
| معلومات او کلتور | 1.3 | 0.1 | 0.0 | 0.9 | 5.5 | -1.0 | 1.6 | 0.8 | -0.2 | 1.5 |
| ریسټورانتونه او هوټلونه | 0.2 | 0.6 | 1.1 | -0.1 | 0.9 | 0.4 | 3.3 | -1.5 | 0.0 | 2.3 |
| متفرقه | 1.6 | 0.3 | 2.0 | 4.0 | 1.2 | 2.8 | 0.1 | 3.3 | 1.0 | 2.6 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۲.۱ د کابل د مصرفي توکو د بيې په شاخص کې بدلونونه

### ۱.۲.۱ کلنی بدلونونه

د کابل د عمومي انفلاسیون نرخ چې د کال له مخې محاسبه کیږي، د هېواد له ملي بهیر سره ورته څانګړتیاوې ښکاره کوي. د ۱۳۹۴ مالي کال په دوېمه ربعه کې د کابل په عمومي انفلاسیون کې منفي ۳.۶ سلنه بدلون راغلی دی چې د تېر کال د ورته ربعې د ۱.۲ سلنه انفلاسیون په پرتله شدیده کموالی په ګوته کوي. د دې کموالي اصلي لاملونه هغو عواملو ته ورته دي چې په ملي بهیر کې لیدل شوي دي. یو ځل بیا خوراکي او غیر خوراکي فرعي شاخصونو د عمومي انفلاسیون په راټیټولو کې ګډ رول لوبولی دی.

همدا رنګه، د ډوډۍ او حبوباتو بیې د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص تر ټولو لویه برخه جوړوي. په ټول افغانستان کې د ډوډۍ او حبوباتو بیې د ۱۳۹۴ مالي کال په دوېمه ربعه کې د کال په کال نرخ پر بنسټ منفي ۲.۹ سلنه راغورځېدلي دي.

د تېر کال په پرتله غوړیو او شحمیاتو هم د دیفلاسیون چټکه لوړېدونکی بهیر تجربه کړی دی. د غوړیو او شحمیاتو بیو د تېر کال د دویمې ربعې په پرتله د ۱۳۹۴ کال په ورته ربعه کې شدیده کموالی موندلی دی چې منفي ۷.۷ سلنې ته رسیږي.

۴.۳ ګراف: د کابل د مصرفي توکو د بيې شاخص ( کال په کال)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانك د کارکوونکو محاسبه

د ملي مصرفي توکو د بیې شاخص ته ورته، د کور جوړونې بیې چې د نا خوراکي توکو د شاخص ۲۰.۷ سلنه جوړوي، د دیفلاسیون په نرخ کې معتدله بدلون ښکاره کوي. کور جوړونه چې د نا خوراکي توکو د شاخص تر ټولو لویه برخه ده، د تېر کال د منفي ۱۳.۴ سلنې په پرتله د ۱۳۹۴ مالي کال په دوېمه ربعه کې منفي ۹.۷ سلنه کموالی ښکاره کوي.

همدا ډول د ټرانسپورټ بیو هم ملي شاخص ته ورته بهیر درلوده. د ټرانسپورټ بیې (چې د شاخص ۴.۷ سلنه جوړوي) د تېر کال د ۳۳.۲ سلنه زیاتوالي په پرتله د ۱۳۹۴ مالي کال په دوېمه ربعه کې په لویه کچه (کال په کال) منفي ۱۵.۴ سلنې ته راښکته شوي دي. په دې برخه کې د ۰.۴۸۶ سلنه کموالي لوی لامل د نړۍ د انرژۍ او نفتو د بیو ټیټېدل په ګوته شوی دی.

**۳.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بيې شاخص د اجزاوو ويشنه**

(د کال له مخې د بدلونونو سلنه)

(د ۲۰۱۱ کال د مارچ مياشت = ۱۰۰)

| | وزن | ۱۳۹۲ | | | | ۱۳۹۳ | | | | ۱۳۹۴ | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | لومړۍ ربعه | دوهمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دوهمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دوهمه ربعه |
| **ټوليز شاخص** | **100.0** | **5.8** | **7.4** | **5.7** | **6.7** | **1.8** | **1.2** | **1.2** | **-1.1** | **-2.0** | **-3.6** |
| **خوراکي توکي او څښاک** | **52.0** | **2.6** | **5.1** | **5.4** | **9.7** | **7.9** | **5.5** | **5.4** | **1.8** | **-1.0** | **-1.3** |
| ډوډۍ او حبوبات | 17.7 | 11.8 | 13.4 | 12.6 | 10.4 | 7.7 | 4.8 | 6.6 | 3.0 | -1.9 | -2.9 |
| غوښه | 7.2 | 9.3 | 5.3 | 3.4 | 4.2 | -1.4 | -1.4 | 3.8 | 2.6 | 0.5 | 1.1 |
| شيدې، پنير او هګۍ | 4.8 | 0.4 | -2.0 | -1.0 | 2.3 | 6.1 | 9.9 | 8.7 | 5.9 | 2.7 | 6.1 |
| غوړي او شحميات | 4.0 | 0.1 | -0.4 | 3.4 | 1.1 | -0.9 | -3.1 | -5.1 | -5.5 | -12.6 | -7.7 |
| تازه او وچه ميوه | 4.8 | -8.6 | -6.3 | -4.2 | 2.3 | 6.5 | 8.8 | 7.4 | 12.9 | 5.1 | 8.3 |
| سبزيجات | 7.9 | -6.5 | 7.2 | 8.6 | 30.0 | 24.7 | 15.8 | 8.9 | -5.6 | -2.3 | 10.2- |
| بوره او خواږه توکي | 2.9 | 2.0 | 1.1 | -1.1 | -1.4 | -0.5 | -6.9 | -3.5 | -5.1 | -2.8 | 1.4 |
| اچار، ترشي او... | 0.9 | 14.2 | 9.0 | 4.0 | 4.8 | 8.3 | 7.0 | 9.2 | 7.2 | 1.4 | 3.6 |
| غير الکولي مشروبات | 1.8 | 4.1 | 6.8 | 6.4 | 6.6 | 7.8 | 2.1 | 2.6 | 3.2 | -0.8 | 3.0 |
| **نا خوراکي توکي** | **48.0** | **8.1** | **8.9** | **5.9** | **4.6** | **-2.4** | **-1.7** | **-1.6** | **-3.1** | **-2.8** | **-5.2** |
| تمباکو | 0.4 | 6.0 | 10.0 | 11.6 | 10.3 | 11.2 | 13.3 | 11.5 | 15.5 | 12.9 | 9.1 |
| پوښاك | 7.0 | 3.7 | 7.5 | 4.9 | 5.8 | 7.8 | 11.5 | 11.3 | 10.3 | 5.6 | 0.8 |
| کور جوړونه، بريښنا، اوبه او ګاز | 20.7 | 11.7 | 12.3 | 7.0 | 3.6 | -12.2 | -13.2 | -13.1 | -13.4 | -6.4 | -9.7 |
| فرنيچر او کورني توکي | 7.0 | 3.8 | 3.8 | 4.9 | 6.8 | 6.2 | 13.4 | 13.2 | 12.5 | 7.2 | 3.9 |
| روغتيا | 3.3 | 20.9 | 19.4 | 9.1 | 7.9 | 7.8 | 7.3 | 8.7 | 4.1 | 4.1 | 3.5 |
| ټرانسپورټ | 4.7 | -4.4 | -1.9 | 3.2 | 8.0 | 33.3 | 33.2 | 32.1 | 19.4 | -14.7 | -15.4 |
| اړيکې | 1.1 | -0.4 | -1.2 | -0.7 | -0.7 | -0.8 | -2.2 | 4.0- | -5.0 | -5.7 | -3.6 |
| زده کړه | 0.7 | 0.5 | 0.7 | 1.0 | 0.9 | -0.1 | 2.8 | 1.9 | 2.1 | 1.6 | -3.8 |
| معلومات او کلتور | 0.1 | 1.7 | 0.9 | -0.2 | 2.0 | 14.0 | 14.6 | 19.1 | 18.3 | 1.8 | 5.6 |
| ريسټورانټونه او هوټلونه | 1.0 | 0.8 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 1.5 | 2.3 | 5.2 | 3.1 | 1.7 | 5.5 |
| متفرقه | 1.8 | 2.4 | 0.9 | 2.8 | 5.0 | 4.3 | 7.9 | 3.8 | 5.0 | 4.5 | 8.3 |
| **اصلي انفلاسيون (۳۰ سلنه د قيچې کارۍ ميتود پر اساس)** | | **3.3** | **3.7** | **3.5** | **4.4** | **5.3** | **5.7** | **6.2** | **4.4** | **0.7** | **1.2** |
| **اصلي انفلاسيون (د ډوډۍ او حبوبات، غوړي او شحمياتو او تمباکو څخه پرته عمومي انفلاسيون** | | **5.5** | **7.0** | **6.7** | **6.0** | **1.3-** | **1.3-** | **3.8-** | **3.1-** | **0.5-** | **2.6-** |

## ۲.۲.۱ د کابل د مصرفي توکو د بیو د شاخص درېي میاشتنې بدلونونه

د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د کابل د دیفلاسیون په نرخ کې کموالی راغلی چې د ملي شاخص ته ورته بهیر یې درلودلی دی. د دیفلاسیون عمومي نرخ د ۱۳۹۴ مالي کال په دویمه ربعه کې منفي ۰.۶ سلنې ته رسیږي چې د همدې کال د لومړی ربعې د منفي ۴.۷ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. د ټولو برخو د دیفلاسیون نرخ بدلونونو د ملي شاخص بدلونونو ته نږدې ورته والی درلودلی دی.

د خوراکي توکو په کټګورۍ کې څیني مثبت بدلونونه راغلي چې د تېرې دورې په پرتله یې د دیفلاسیون نرخ ته وده ورکړې ده. ډوډۍ او حبوبات، شیدې، پنیر او هګۍ، غوړي او شحمیات د خوراکي توکو هغه برخې دي چې څیني بدلونونه په کې تر سترګو کیږي. د نا خوراکي توکو په کټګورۍ کې کور جوړونې او ټرانسپورټ په ترتیب سره د تېرې ربعې د منفي ۷.۰ سلنې او منفي ۱۲.۹ سلنې په پرتله په دې ربعه کې منفي ۳.۴ سلنه او منفي ۰.۴ سلنه ټیټوالی ثبت کړی دی.

۵.۳ ګراف: د کابل د مصرفي توکو د بیو شاخص (ربعه په ربعه)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۴.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې د شاخص د ربعې په ربعې بدلونونه**

(د ربعې له مخې د بدلونونو سلنه)

(د ۲۰۱۱ کال د مارچ میاشت = ۱۰۰)

| | ۱۳۹۲ | | | | ۱۳۹۳ | | | | ۱۳۹۴ | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړۍ ربعه | دوهمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دوهمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دوهمه ربعه |
| **ټولیز شاخص** | **0.9** | **1.5** | **0.3** | **3.9** | **- 3.8** | **1.0** | **0.3** | **1.6** | **- 4.7** | **- 0.6** |
| **خوراکي توکي او څښاک** | **0.4** | **2.0** | **0.1** | **7.0** | **- 1.2** | **- 0.2** | **0.0** | **3.3** | **- 3.9** | **- 0.5** |
| ډوډۍ او حبوبات | - 0.4 | 4.9 | 3.2 | 2.4 | - 2.8 | 2.0 | 5.1 | - 1.1 | - 7.4 | 1.0 |
| غوښه | 5.1 | - 2.6 | - 0.8 | 2.5 | - 0.5 | - 2.5 | 4.4 | 1.3 | - 2.6 | -1.9 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | - 1.7 | - 4.9 | 3.5 | 5.7 | 2.0 | - 1.5 | 2.5 | 3.0 | - 1.1 | 1.7 |
| غوړي او شحمیات | - 0.7 | 0.7 | 1.3 | - 0.2 | - 2.6 | - 1.6 | - 0.8 | - 0.6 | - 9.9 | 3.9 |
| تازه او وچه میوه | 5.4 | 2.9 | - 3.2 | - 2.7 | 9.9 | 5.1 | - 4.5 | 2.3 | 2.3 | 8.3 |
| سبزیجات | - 2.6 | 3.4 | - 5.3 | 36.2 | -6.6 | - 3.9 | -11.0 | 18.2 | - 3.4 | -11.7 |
| بوره او خواږه توکي | -6.1 | 0.9 | 2.3 | 1.7 | -5.2 | -5.6 | 6.0 | 0.0 | -3.0 | -1.5 |
| اچار، ترشي او... | -0.3 | 2.2 | -0.2 | 3.0 | 3.1 | 0.9 | 1.8 | 1.1 | -2.4 | 3.2 |
| غیر الکولي مشروبات | 0.9 | 2.9 | 1.8 | 0.9 | 2.0 | -2.6 | 2.3 | 1.5 | -2.0 | 1.2 |
| **نا خوراکي** | **1.2** | **1.2** | **0.4** | **1.8** | **-5.6** | **1.9** | **0.5** | **0.3** | **-5.3** | **-0.7** |
| تمباکو | 1.0 | 5.4 | 2.2 | 1.4 | 1.9 | 7.4 | 0.5 | 5.0 | -0.4 | 3.8 |
| پوښاک | 0.3 | 1.8 | 0.1 | 3.6 | 2.2 | 5.2 | -0.1 | 2.6 | -2.2 | 0.5 |
| کور جوړونه | 1.5 | 1.3 | -0.3 | 1.0 | -14.0 | 0.1 | -0.1 | 0.6 | -7.0 | -3.4 |
| فرنیچر او کورني توکي | 2.0 | 1.3 | 1.5 | 1.9 | 1.4 | 8.2 | 1.3 | 1.3 | -3.3 | 4.8 |
| روغتیا | 1.7 | 1.3 | 2.4 | 2.3 | 1.6 | 0.8 | 3.7 | - 2.0 | 1.7 | 0.2 |
| ټرانسپورټ | -1.3 | 0.5 | 2.6 | 6.1 | 21.9 | 0.5 | 1.7 | - 4.1 | - 12.9 | - 0.4 |
| اړیکې | 0.0 | - 0.7 | - 0.1 | 0.1 | - 0.1 | - 2.1 | - 1.9 | - 1.0 | -0.8 | 0.1 |
| زده کړه | 2.0 | - 0.8 | 1.0 | - 1.2 | 1.0 | 2.0 | 0.1 | - 1.1 | 0.5 | - 3.3 |
| معلومات او کلتور | 2.0 | - 0.9 | - 0.3 | 1.1 | 14.0 | - 0.3 | 3.6 | 0.5 | -1.9 | 3.4 |
| ریسټورانتونه او هوټلونه | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 1.5 | 0.8 | 2.9 | -2.0 | 0.0 | 4.6 |
| متفرقه | 1.1 | -0.2 | 1.9 | 2.2 | 0.4 | 3.2 | -1.9 | 3.3 | -0.1 | 7.0 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۲. د سیمې د انفلاسیون بهیر

افغانستان چې خالصه واردوونکی اقتصاد لري، پر خپلو سوداګریزو شریکانو په ځانګړې توګه د پاکستان او هندوستان په وارداتو باندې اتکاء کوي. له همدې کبله، په سیمه ایزو بازارونو کې هر ډول بدلونونه د افغانستان پر اقتصاد باندې نیغ په نیغه اغېزه لري.

د سویلي آسیا هېوادونو د څو کلونو راهیسې د انفلاسیون ټیټېدونکی بهیر درلودلی دی چې د دې ټیټوالي اصلي لامل په نړیواله کچه د نفتو او خوراکي توکو بیې په ګوته شوی دی. د انفلاسیون کچه د سیمې د نسبتاً با ارزښته اسعارو په مرسته راټیټه شوې او په پاکستان او هندوستان کې یې د پالیسی د اسانتیا لپاره لاره هواره کړې ده.

### ۱.۲ په پاکستان کې انفلاسیون

د مصرفي توکو د بیو د شاخص عمومي انفلاسیون د تېر کال د جون د میاشتې د ۸.۲ سلنې په پرتله د ۲۰۱۵ کال په جون کې (کال په کال) ۳.۲ سلنه ثبت شوی دی. لږه اقتصادي تقاضا او د نفتو د بیو ټیټوالي د انفلاسیون نرخ په ۳.۲ سلنه کې ساتلی دی چې چارواکو ته یې لاره هواره کړې څو د تخفیف معیاري نرخ راکم کړي.

د پاکستان حکومت د نړۍ د اقتصادي کمزورتیا او د نفتو په بیو کې د پام وړ ټیټوالی له امله هیله مند دی چې د انفلاسیون نرخ یې د ۲۰۱۵ کال په پاتې میاشتو او په راتلونکي کال کې له ۶ سلنې ټیټ پاتې شي.

که څه هم داسې بهرني عوامل نه لیدل کېږي چې انفلاسیون زیات کړي خو ځینې داخلي لاملونه شته چې په راتلونکو میاشتو کې د دې شاخص کچه پورته کړي. د تېر کال په اوږدو کې د دې هېواد حکومت ۶۰۰ میلیارده روپۍ اضافه مالیات لګولي دي؛ ډېرې برخې یې غیر مستقیمه دي چې په راتلونکو میاشتو کې به د سوداګریزو توکو پر بیو باندې اغېزه وکړي.

د انرژۍ د بیو ټیټېدنې د پاکستان د اقتصاد پر نورو سکتورونو باندې هم ناوړه اغېزه کړې ده. اصلي انفلاسیون (نا خوراکي توکي، له انرژۍ پرته) د تېر کال د ۸.۷ سلنې په پرتله ۴.۶ سلنې ته راکم شوی دی. د مصرفي توکو د بیو د عمومي شاخص په پرتله اصلي انفلاسیون ډېر ټیټ شوی چې مرکزي بانک یې اړ کړی څو د تخفیف نرخ راښکته کړي.

۶.۳ ګراف: د پاکستان د مصرفي توکو د بیو عمومي شاخص
(د کال له مخې د بدلونونو سلنه)




### ۲.۲ په هند کې انفلاسیون

د ۲۰۱۵ کال په جون میاشت کې د مصرفي توکو د بیو د شاخص انفلاسیون د تېر کال د ۷.۳۱ سلنې په پرتله ۵.۴۰ سلنه ثبت شوی چې اصلي لامل یې د خوراکي او څښاکو بیې دي. د خوراکي توکو بیې د ۲۰۱۵ کال په جون میاشت کې ۵.۴۸ سلنه لوړې شوي دي چې د ۲۰۱۴ کال د جون میاشتې د خوراکي توکو د انفلاسیون د ۷.۲۱ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. د ۲۰۱۵ کال په جون میاشت کې د کوچني توکو انفلاسیون د اتو میاشتو لپاره د ۵.۴ سلنې ته لوړ

شوی دی.

د هند د ریزرف بانک چې د کوچني توکو انفلاسیون د خپل پولي سیاست د معیار په توګه تعقیبوي، موسمي بارانونه یې د دې هېواد د اقتصادي ناڅاپي لپاره تر ټولو لوی لامل ګڼلی دی او تمه لري چې په راتلونکو څو میاشتو کې د انفلاسیون نرخ ۶ سلنې ته لوړ شي.

۷.۳ ګراف: د هند د مصرفي توکو د بیو د شاخص عمومي انفلاسیون
(د کال له مخې د بدلونونو سلنه)




## ۳. د انفلاسیون لنډ مهاله لید لوری

په هېواد کې د ناڅاپمنتیا پایښت د توکو او خدمتونو لپاره تقاضا او عرضه کمزوره کړې ده. دې وضعیت په ټولیزه توګه پانګونه راکمه کړې ده چې لګښت کوونکي د لګښت پرځای سپما ته لومړیتوب ورکوي.

د نفتو بیې د نړۍ په هر اقتصاد کې مهم رول لوبوي. له همدې کبله د نفتو په بیو کې بدلون پر عمومي بیو باندې اغېزه کوي. د ۲۰۱٤ کال د جون میاشت راهیسې ډېری نفت صادروونکو هېوادونو؛ د نفتو د بیو د پام وړ کمېدو له امله زیان لیدلی خو ډېر نور نفت واردوونکو هېوادونو بیا ګټه کړې ده. افغانستان د یو کوچني نفت واردوونکي هېواد په توګه د نفتو له ټیټې بیې برخمن شوی دی. د دې ترڅنګ، تمه کېږي چې عمومي انفلاسیون به د ۱۳۹٤ مالی کال په پای کې نورمال حالت ته راشي.

### ۱.۳ خطرونه

لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، اوږد مهاله دیفلاسیون د هر اقتصاد لپاره تل د اندیښنې وړ موضوع ده، ځکه چې د بېکارۍ لامل کېږي. د نړۍ او د سیمې له بازارونو څخه د توکو او خدمتونو په عرضې کې هر ډول ګډوډي د عمومي بیو د ناڅاپي لوړېدو لامل کېږي.

سربېره پر دې، د مبادلې د نرخ بې ثباتي بل هغه لامل دی چې د وارداتي توکو بیې یې لوړ کړې دي.



# ۴

# د بهرني سکتور بدلونونه

# ۴
# د بهرني سکتور بدلونونه

دا څېرکی د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې د بهرني سکتور بدلونونه رانغاړي. شته شمېرې ښکاره کوي چې د بهرني سکتور فعالیت د ۱۴۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې د تیر کال د ورته مودې په پرتله کمزوره ؤ چې په ټولیزه توګه د ۱،۶۷۹.۵۷ میلیونه امریکایي ډالره کسر په درلودلو سره د اداینو په بیلانس کې د کورني ناخالص تولیداتو ۸ سلنه جوړوي. د دې بدلونونو اصلي لاملونه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د سیاسي ناډاډمنتیا په پایله کې د وارداتو د لګښت زیاتوالی، د صادراتو د عوایدو دوامداره ټیټوالی، د پانګې بهیدنې، د پانګې پورتوفولیو او د نورو پانګو جریانونه په ګوته شوي دي.

د افغانستان نړیواله خالصه زېرمې (NIR) د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې ۶،۸۳۱.۴۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته دورې د ۷،۰۱۵.۳۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲.۶۲ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي او د وارداتو شاوخوا ۱۱ میاشتې رانغاړي.

د سوداګرۍ د بیلانس د وضعیت د خرابیدو اصلي لامل له ټولیزه صادراتو څخه د ټولیزه وارداتو د کچې زیاتوالی په ګوته شوی دی. د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې د عوایدو او جاري لیږدونو د جریانونو له امله د جاري حساب کسر راښکته شوی دی.

که څه هم د بهرنی پوراینې (بدهي) د ونډې نرخ د راپور ورکولو په موده کې ۳ سلنه راټیټ شوی دی، خو د بهرنی پوراینې پالیسي چې د حکومت لخوا پرمخ وړل کیږي د بهرنی پوراینې له وضعیت سره مرسته کړې چې په کنټرول وړ حدودو کې پاتې شي.

تر ټولو مهمه خبره دا ده چې د پوراینې اداینه باید په منظم ډول وڅارل شي څو د مهمو پراختیایي پروګرامونو د تمویل لپاره خنډ جوړ نه کړي.

## ۱.۴ د اداینو بیلانس

### ۱.۱.۴ د جاری حساب بیلانس

د شته شمېرو پر بنسټ، د جاري حساب کسر د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې ۲،۰۱۰.۶۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۲،۱۹۲.۰۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ټیټوالی ښکاره کوی. د جاري حساب کسر د راپور ورکولو په موده کې د ناخالصه نړیواله تولیداتو شاوخوا ۸ سلنه جوړوي. د ارزونې لاندې کال کې د دې کسر اصلي لاملونه د صادراتو د عوایدو کموالی او د وارداتو له امله د اداینو زیاتوالی په ګوته کیږي. د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړی نیمایي په اوږدو کې د جاري حساب کسر ۸ سلنه راټیټ شوی دی.

له جاري لیږدونو سره د عوایدو ګټې( بسپنې او د کارګرانو د پیسو لیږدونې) د جریانونو د اصلي سرچینې په توګه یې د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې د جاري حساب کسر راټیټ کړی دی.

د سوداګرۍ د بیلانس کسر د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې ۳،۱۴۸.۰۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د لومړی نیمایي د ۲،۷۹۶.۶۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول د شمېرو شننه ښکاره کوي چې د توکو ټولیزه صادرات ۲۵۰.۷۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته

رسيږي چې د تير کال د ۲۸۹.۸۵ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۱۳ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي. له بلې خوا، د ټولو توليزه واردات د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نيمايي کې ۳،۳۹۸.۸۵ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ورته مودې د ثبت شوي ۳،۰۸۶.۵۴ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۱۰ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول، د خدماتو د حساب کسر د ۲ سلنه زياتوالي په درلودلو سره ۲۷۱.۷۰ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ورته دورې د ۲۶۶.۱۰ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ډېر کم زيات شوی دی. په داسې حال کې چې د عوايدو په حساب کې ډېريدنه(مازاد) د راپور ورکونې په دوره کې ۱۲۰.۸۰ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ۱۷.۶۵ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۵۸۴ سلنه د پام وړ ټيټوالی ښکاره کوي.

د جاري ليږدونو ډېريدنه چې په زياته اندازه بسپنې او له بهر څخه د کارګرانو د معاشونو ورکړې رانغاړي ۱،۲۸۸.۳۳ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ثبت شوي ۸۵۳.۰۸ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۵۱ سلنه زياتوالی په ګوته کوي.

**۱.۴ جدول: د جاري حساب بيلانس**

| | د ۱۳۹۲ مالي کال | د ۱۳۹۳ مالي کال لومړی نيمايي | د ۱۳۹۴ مالي کال لومړی نيمايي |
|---|---|---|---|
| د جاري حساب بيلانس | -9081.18 | -2192.06 | -2010.63 |
| د سوداګرۍ بيلانس | -8241.30 | -2796.69 | -3148.06 |
| صادرات | 507.08 | 289.85 | 250.79 |
| واردات | -8748.38 | -3086.54 | -3398.85 |
| د خدمتونو حساب | -1362.67 | -266.10 | -271.70 |
| د عوايدو حساب | 68.22 | 17.65 | 120.80 |
| جاري ليږدونې | 454.57 | 853.08 | 1288.33 |

۱.۴ ګراف: د جاري حساب بيلانس




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۱.۴ پانګه ايز حسابونه

د پانګه ايز حسابونو د اداينو بيلانس د ۱۳۹۳ مالي کال د ورته مودې په پرتله د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نيمايي کې ۶۱ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي چې د دې ټيټوالي اصلی لامل د پانګې کمه ليږدونه ګڼل کيږي.

د پانګه ايز حسابونو خالصه جريانونه د ۱۳۹۳ مالي کال د لومړی نيمايي له ۱،۱۷۰.۶۹ ميليونه امريکايي ډالرو څخه د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نيمايي کې ۴۵۲.۰۹ ميليونه امريکايي ډالرو ته راټيټ شوي دي چې د دې کموالي اصلي لاملونه د دولت، شرکتونو او کورنيو لخوا د خالصه پانګې په ليږدونه کې ټيټوالي په ګوته شوی دی چې د ۱۳۹۳ مالي کال د لومړی نيمايي له ۱،۱۸۳.۶۶ ميليونه امريکايي ډالرو څخه د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نيمايي کې ۴۶۹.۳۶ ميليونه امريکايي ډالرو ته راټيټ شوی دی.

### ۳.۱.۴ مالي حسابونه

د مالي حساب د ادواينو بيلانس (BOP) خالصه جريان د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نيمايي کې ۱۲۱.۲۱ ميليونه امريکايي ډالره ثبت شوی دی چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ورته مودې د ۲۶۳.۳۶ ميليونه امريکايي ډالرو خالص جريان په

پرتله کموالی ښکاره کوي چې د دې کموالي اصلي لامل د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي نيمايي په اوږدو کې د هېواد په شتمنه ايزه زيرمو کې د پام وړ ټيټوالی په ګوته شوی دی.

همدا ډول د شمېرو شننه ښکاره کوي چې په بهر کې د هېواد د ټوليزه شتمنيو کچه د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړي نيمايي کې ۱۳.۷۳ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۳ مالي د لومړي نيمايي د ۱۲۳.۸۱ ميليونه امريکايي ډالره ثبت شوې کچې په پرتله ټيټوالی ښکاره کوي.

همدا ډول ټوليزه مالي پورونې له ۱۳۰.۵۵ ميليونه امريکايي ډالرو څخه ۳.۵۲ ميليونه امريکايي ډالرو ته راښکته شوي دي چې لامل يې په هېواد کې د نا امنۍ له امله د مالي جريان راټيټيدل دي چې دې راټيټيدنې دواړه بهرنۍ مستقيې پانګونې او د پورتفوليو پانګونې اغيزمنې کړي دي.

**۲.۴ جدول: پانګه ايز او مالي حسابونه**

| | ۱۳۹۲ مالي کال | ۱۳۹۳- لومړی نيمايي | ۱۳۹۴- لومړی نيمايي |
|---|---|---|---|
| پانګه ايز او مالي حسابونه | 2427.62 | 907.33 | 330.88 |
| پانګه ايز حساب | 535.39 | 1170.69 | 452.09 |
| پانګه ايزې ليږدونې | 2860.54 | 1183.66 | 469.36 |
| مالي حساب | -423.01 | -263.36 | -121.21 |
| شتمنه ايزه زېرمې | -475.86 | -278.54 | -182.03 |

## ۴.۱.۴ بهرنۍ مستقيمه پانګونه (FDI) او د پورتوفوليو جريانونه

۲.۴ ګراف: د افغانستان د ادائنو، پانګې او مالي حساب بيلانس
پانګه ايز او مالي حسابونه (په ميليون ډالر)




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

د شته شمېرو له مخې، د بهرنۍ مستقيمو پانګونو (FDI) ټوليزه بهيدنې (جريانونه) د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نيمايي کې ۵۰.۹۷ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د لومړی نيمايي د ۲۱.۹۲ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله زياتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې د ارزونې لاندې موده کې د پانګې د بهيدنې پورتوفوليو له ۳۲.۶۹ ميليونه امريکايي ډالرو څخه ۵۵.۶۳ ميليونه امريکايي ډالرو ته زياتوالی موندلی دی. د ټوليزه بهرنۍ پانګې په جريانونو کې د پانګې د پورتوفوليو دوامداره کنټرول په ډاګه کوي چې د پانګې لنډه مهاله جريانونو لپاره بايد يو اوږد مهاله اډانه جوړه شي.

۳.۴ ګراف: د بهرنۍ مستقيمې پانګونې جريان




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۲.۴ د توکو سوداګري(د مال التجاره/ سوداګرۍ)

د توکو د سوداګرۍ د کسر واټن چې د ۱۳۹۳ مالي په لومړی نيمايي کې زيات شوی ؤ د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نيمايي کې يو ځل بيا خپل حالت ته راوګرځيده. د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړی نيمايي په اوږدو کې د وارداتو عوايدو ۱۳ سلنه کموالی درلوده په داسې حال کې چې د وارداتو لګښت ۸ سلنه زيات شوی ؤ. په پايله کې د

سوداګرۍ کسر د ۱۳۹۳ مالي کال د ورته مودې په پرتله د راپور ورکونې په دوره کې ۱۰ سلنه زیاتوالی موندلی دی.
په هر حال، د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې وارداتو چټکه وده درلوده په داسې کې چې صادرات راکم شوي دي. د سوداګرۍ د ټولیزه کسر واټن د راپور ورکونې په دوره کې ۳،۵۱۰.۵۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي.

۴.۴ ګراف: د صادراتو، وارداتو او د سوداګرۍ بیلانس




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

همدا ډول د سوداګرۍ دا کسر د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې د کورني ناخالصه تولیداتو ۱۶ سلنه جوړوي چې د ۱۳۹۳ مالي د لومړی نیمایي د ۱۵ سلنې په پرتله معتدله زیاتوالی ښکاره کوي.
په هېواد کې دوامداره سیاسي او امنیتي اندیښنو د کورنیو تولیداتو مخه نیولې چې له امله یې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړی نیمایي په اوږدو کې ټولیزه صادرات راکم شوي دي.
همدا ډول له صادراتو څخه ترلاسه شوي عواید د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې ۲۳۳.۴۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته دورې د ۲۶۹.۳۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.
د سوداګرۍ د احصائیو پر بنسټ، د صادراتو ټولې کټګورۍ له غالیو او ټغرونو پرته د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې ټیټیدونکی بهیر ښکاره کوي. له غالیو او ټغرونو څخه تر لاسه شوي عواید د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې ۶۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته دورې د ثبت شوي ۵۳.۸۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په داسې حال کې چې خوراکي توکي لکه؛ تازه او وچې میوې، خرمنې- وړی او د طبی بذرونو صادرات د راپور ورکونې په دوره کې په ترتیب سره ۲۴ سلنه، ۵۲ سلنه او ۵ سلنه راکم شوي دي.
په ورته وخت کې د توکو د وارداتو لګښت د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې ۳،۷۴۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۳،۴۵۴.۸۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۸ سلنه متعدله زیاتوالی ښکاره کوي.
د وارداتو د لګښت سترې کټګورۍ د راپور ورکونې په موده کې پانګه ایزه توکي، نفت او روغنیات جوړوي. د نفتو او روغنیاتو د وارداتو لګښت د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې ۶۹۶.۳۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د لومړی نیمایي په پرتله ۳۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او د ټولیزه وارداتو شاوخوا ۱۸.۶ سلنه جوړوي.
په ورته وخت کې، د پانګه ایزه توکو د وارداتو لګښت د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې د پام وړ زیاتوالی موندلی دی. د پانګه ایزه توکو د وردولو ټولیزه لګښت د راپور ورکونې په دوره کې ۱،۷۴۶.۰۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې تیر کال د ورته مودې په پرتله د ۴۸ سلنه زیاتوالی په درلودلو سره د ټولیزه وارداتو کابو ۴۶.۶ سلنه جوړوي.
برعکس، د مصرفي توکو د وارداتو لګښت د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې ۹۱۶.۶۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته

رسیږي چې د تیر کال د ورته دورې د ۱،۲۵۲.۰۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۷ سلنه ټیټوالي په ګوته کوي او د ټولیزه وارداتو ۲۴.۵ سلنه جوړوي. د صنعتي موادو د وارداتو لګښت د راپور ورکونې په موده کې ۳۸۴.۹۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۵۱۸.۲۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۶ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي او د ټولیزه وارداتو شاوخوا ۱۰.۳ سلنه جوړوي.

۳.۴ جدول له ۱۳۹۰ کال څخه د ۱۳۹۴ مالي کال تر لومړی نیمایي پورې د سوداګریزو توکو د سوداګرۍ مهمې کټګورۍ ښکاره کوي.

## ۳.۴ د سوداګرۍ لوری

په دویمه ربعه کې د افغانستان د صادراتو لپاره عمده هېوادونه پاکستان، ایران، هند، چین او د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) ؤ.

د توکو د سوداګرۍ د احصائیو پر بنسټ، پاکستان د راپور ورکونې په دوره کې د افغانستان د صادراتو لپاره د نورو هېوادونو په منځ کې د ۴۰.۶۴ سلنې ونډې په درلودلو سره لومړی مقام درلوده چې د ۱۳۹۳ مالي کال د لومړی نیمایي د ۳۴.۹۰ سلنه ثبت شوې کچې په پرتله پاکستان ته په ټولیزه صادراتو کې ۵.۷۴ سلنه زیاتوالی راغلی دی. پاکستان ته په ټولیزه صادراتو کې د غالیو او ټغرونو، طبي بذرونو، د قره کل پوستکو او وچې میوې ونډې په ترتیب سره ۲۱ سلنه، ۳ سلنه، ۲ سلنه او ۲ سلنې ته رسیږي.

هند، د افغانستان د صادراتو دویم ستر پیریدونکی دی. هند ته د افغانستان د صادراتو ونډه د ۱۳۹۳ مالي کال د لومړی نیمایي د ۱۸.۸۱ سلنه ثبت شوې کچې په پرتله د۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې ۲۳.۴۴ سلنې ته زیاته شوې ده. هند ته د ټولیزه صادراتوستره کچه وچه میوه، طبي بذرونه او

### ۳.۴ جدول: د توکو د سوداګرۍ اجزاوې ( په میلیون ډالر)

| | ۱۳۹۰ مالي کال | | ۱۳۹۱ مالي کال | | ۱۳۹۲ مالي کال | | ۱۳۹۳ – لومړی نیمایي | | ۱۳۹۴ – لومړی نیمایي | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) |
| واردات | 6,388.37 | 100% | 6,419.67 | 100% | 9,339.60 | 100% | 3,464.81 | 100% | 3,744.00 | 100% |
| صنعتي مواد | 614.77 | 9.6% | 969.88 | 15.1% | 1272.14 | 12.6% | 518.23 | 15.0% | 384,59 | 10.3% |
| تیل او روغنیات | 2,184.59 | 34.2% | 1,083.65 | 16.9% | 2167.37 | 23.2% | 502.44 | 14.5% | 696.30 | 18.6% |
| مصرفي توکي | 857.38 | 13.4% | 1,255.48 | 19.6% | 1942.85 | 20.8% | 1252.09 | 36.2% | 916.66 | 24.5% |
| پانګه ایزه توکي او داسې نور | 2,731.63 | 42.8% | 3,110.66 | 48.5% | 3,957 | 42.4% | 1182.05 | 34.2% | 1746.09 | 46.6% |
| صادرات | 375.03 | 100% | 261.63 | 100.0% | 499.81 | 100% | 296.39 | 100% | 233.46 | 100% |
| غالي او ټغر | 46.60 | 12% | 8.43 | 3.2% | 85.5 | 17.1% | 53.86 | 20.0% | 61.00 | 26.1% |
| خوراکي توکي | 133.39 | 36% | 104.23 | 39.8% | 175.92 | 35.2% | 98.79 | 36.7% | 74.67 | 32.0% |
| خرمن او وړی | 28.07 | 7% | 26.82 | 10.3% | 59.54 | 11.9% | 28.12 | 10.4% | 13.51 | 5.8% |
| طبي بذرونه او داسې نور | 166.97 | 45% | 122.15 | 46.7% | 178.86 | 35.8% | 88.62 | 32.9% | 84.28 | 36.1% |
| د سوداګرۍ بیلانس | -6,013.34 | | -6,158.04 | | -8,839.79 | | -3,185.42 | | -3,510.54 | |
| د کورني ناخالص تولید له مخې د سوداګرۍ د بیلانس سلنه | -33% | | -31% | | -43% | | -15% | | -16% | |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

زعفران په ترتیب سره ۸ سلنه، ۵ سلنه او ۱ سلنه جوړوي. هند ته د ټولیزه صادراتو کچه د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړي نیمایي کې ۵۴.۷۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۵۰.۶۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د افغانستان د صادراتو دریم ستر پیریدونکی د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) دي. د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونو (CIS) ته د افغانستان د صادراتو ونډه د تیر کال د ورته مودې له ۴.۷ سلنې څخه د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړي نیمایي کې ۱۳.۸۲ سلنې ته زیاته شوې ده. د ګډو ګټو خپلواکو هېوادونو(CIS) ته د افغانستان د ټولیزه صادراتو کچه د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړي نمیایي کې ۳۲.۲۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د لومړي نیمایي د ۱۲.۶۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونو (CIS) ته د صادراتي توکو ستره برخه وچه میوه، غالي او تغرونه جوړوي.

۵.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)
د ۱۳۹٤ مالي کال لومړی نیمایي




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۶.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)
د ۱۳۹۳مالي کال لومړی نیمایي




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

پاکستان، د افغانستان لپاره د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د ۲۲ سلنه ونډې په درلودلو سره د ټولیزه وارداتو تر ټولو ستره سرچینه ګڼل کیږي. افغانستان ته د پاکستان د وارداتو کچه د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړي نیمایي کې ۸۰۸.۷۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۶۵۴.۷۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. مصرفي توکي، صنعتي مواد، نفت، روغنیات او پانګه ایزه توکي د پاکستان مهم وارداتي توکي دي.

د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) افغانستان لپاره دویمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کیږي، که څه هم په ټولیزه وارداتو کې د دې هېوادونو ونډې په ارزونې لاندې کال کې راکمې شوې دي.

افغانستان ته د ګډو ګټو د خپلواکه هېوادونو (CIS) ټولیزه واردات د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړي نیمایي کې د ۲۱.۲۲ سلنې ونډې په درلودلو سره ۷۹۴.۴۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته راکم شوي دي په داسې حال کې چې د ټولیزه وارداتو کچه د ۱۳۹۳ مالي کال په لومړي نیمایي کې د ۲۴.۶۷ سلنه ونډې په درلودلو سره ۸۵۲.۳۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته

رسیده. نفتي مواد، د غنمو اوړه، د فلزونو تولیدات، نباتي غوړي او سره یا پارو د دې هېوادونو د وارداتو مهمې برخې دي.

ایران، د افغانستان لپاره د وارداتو دریمه ستره سرچینه ده. افغانستان ته د ایران ټولیزه واردات ۷۹۳.۴۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۷۷۹.۰۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. ایران د افغانستان د ټولیزه وارداتو ۲۱.۲ سلنه ونډه جوړوي چې صنعتي مواد، تیل، روغنیات او د پانګه ایزه توکو تولید یې د وارداتو مهمې کټګورۍ دي.

چین، د افغانستان څلورم ستر وارداتي هېواد دی. د چین ټولیزه واردات د راپور ورکونې په دوره کې ۵۶۰.۹۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۹۸.۳۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله د ۱۸۳ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي او د ټولیزه وارداتو شاوخو ۱۵ سلنه جوړوي. مصرفي توکي، صنعتي مواد او پانګه ایزه توکي د چین د وارداتو مهمې برخې جوړوي.

جاپان، هندوستان او د امریکا متحده ایالتونه د افغانستان لپاره په ترتیب سره پنځم، شپږم او اووم ستر وارداتي هېوادونه دي. په ټولیزه وارداتو کې د دې هېوادونو د وارداتو کچې په ترتیب سره ۴.۴۵ سلنه، ۱.۵۱ سلنه او ۱.۲۰ سلنې ته رسیږي. په هر حال، د جاپان ټولیزه صادرات د ۱۳۹٤ مالي کال په لومړي نیمایي کې ۱۶۶.۶۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۶۴.۱۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۶۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل یې د پانګه ایزو توکو د وارداتو زیاتوالی ګڼل کیږي.

همدا ډول افغانستان ته د امریکا د متحده ایالتونو د وارداتو کچه د ۱۳۹٤ مالي کال په لومړي نیمایي کې ۴۵.۰۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۳۳.۲۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳۵ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. افغانستان ته د جاپان او د امریکا د متحده ایالتونو د وارداتو سترې کټګورۍ د ماشین الاتو پرزې او موټرونه جوړوي.

۷.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)
د ۱۳۹٤ مالي کال لومړی نیمایي




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

بر عکس، د هند واردات ۵۶.۶۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۶۰.۴۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۶ سلنه راکم شوي دي. په ټولیزه وارداتو کې د هند د وارداتو ونډه د ۱۳۹۳ مالي کال د لومړی نیمایي له ۱.۷۵ سلنې څخه ۱.۵ سلنې ته راټیټه شوې ده.

۸.۴ ګراف: د وارداتو لوری ( د ونډې سلنه) د ۱۳۹۳
مالي کال لومړی نیمایي




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۴.۴ جدول: د بهرنی سوداګری لوری: د ۱۳۹۴ مالي کال لومړی نیمایي (په میلیون ډالر)**

| | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | 94.78 | 40.64% | 808.72 | 21.60% | -713.85 |
| هند | 54.73 | 23.44% | 56.67 | 1.51% | -1.94 |
| ایران | 18.17 | 7.78% | 793.48 | 21.19% | -775.31 |
| جرمني | 3.18 | 1.36% | 19.22 | 0.51% | -16.04 |
| چین | 7.09 | 3.04% | 560.93 | 14.98% | -553.84 |
| انګلستان | | 0.00% | 2.94 | 0.08% | -2.94 |
| سعودي عربستان | 0.25 | 0.11% | | 0.00% | 0.25 |
| د امریکا متحده ایالت | | 0.00% | 45.02 | 1.20% | -45.02 |
| د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه(CIS) | 32.26 | 13.82% | 794.43 | 21.22% | -762.17 |
| جاپان | | 0.00% | 166.61 | 4.45% | -166.61 |
| نور هېوادونه | 22.91 | 9.81% | 495.98 | 13.25% | -473.07 |
| مجموعه | 233.46 | 100% | 3,744.00 | 100% | (3,510.54) |

**۵.۴ جدول: د بهرنی سوداګری لوری: د ۱۳۹۳ مالي کال لومړی نیمایي ( میلیون امریکایي ډالر)**

| | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | 94.03 | 34.90% | 654.71 | 18.95% | -560.68 |
| هند | 50.68 | 18.81% | 60.48 | 1.75% | -9.80 |
| ایران | 16.97 | 6.30% | 779.09 | 22.55% | -762.12 |
| جرمني | 13.19 | 4.90% | 58.91 | 1.71% | -45.72 |
| د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) | 12.63 | 4.69% | 852.38 | 24.67% | -839.75 |
| چین | 24.43 | 9.07% | 198.38 | 5.74% | -173.95 |
| سعودي عربستان | 0.07 | 0.03% | | 0.00% | 0.07 |
| جاپان | | 0.00% | 64.17 | 1.86% | -64.17 |
| انګلستان | | 0.00% | 2.17 | 0.06% | -2.17 |
| د امریکا متحده ایالات | | 0.00% | 33.27 | 0.96% | -33.27 |
| نور هېوادونه | 57.39 | 21.30% | 751.25 | 21.75% | -693.86 |
| مجموعه | 269.39 | 100.00% | 3454.81 | 100.00% | -3185.42 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۴.۴ : د سوداګرۍ ترکیب

### ۱.۴.۴ د وارداتو ترکیب

د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړۍ نیمایي کې د وارداتو ترکیب ښکاره کوي چې د پانګه ایزه توکو واردات د وارداتو په ټوکرۍ کې د ۴۶.۶ سلنې ونډې په درلودلو سره تر ټولو ستره برخه جوړوي چې د پانګه ایزه توکو د وارداتو کچه د راپور ورکونې په دوره کې ۱،۷۴۶.۰۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د لومړي نیمایي د ۱،۱۸۲.۰۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۴۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي .

دویمه لویه ونډه مصرفي توکو ثبت کړې ده، که څه هم د مصرفي توکو کچه د ۱۳۹۳ مالي کال د لومړۍ نیمایي له

۳۶.۲ سلنې څخه د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړۍ نیمایي کې ۲۴.۰۵ سلنې ته راکمه شوې ده. د مصرفي توکو د وارداتو کچه هم د ارزونې لاندې کال کې له ۱،۲۵۲.۰۹ میلیونه امریکايي ډالرو څخه ۹۱۶.۶۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته راکمه شوې ده.

د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړۍ نیمايي کې د نفتو او روغنیاتو واردات د وارداتو په توکرۍ کې دریمه لویه ونډه جوړوي. په ټولیزه وارداتو کې د نفتو او روغنیاتو (نفتي موادو) د واردولو لګښت د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړۍ نیمایي کې د ۱۸.۶ سلنې ونډې په درلودلو سره ۶۹۶.۳۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د لومړۍ نیمایي د ۱۴.۵ سلنې ونډې یا ۵۰۲.۴۴ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله کابو ۳۹ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول د صنعتي موادو کچه چې د وارداتو د توکرۍ په وروستي ردیف کې راځي د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړۍ نیمایي کې له ۱۵ سلنې څخه ۱۰.۳ سلنې ته راټیټه شوې ده. په ټولیزه وارداتو کې د صنعتي موادو د وارداتو کچه د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړۍ نیمایي کې ۳۸۴.۹۵ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د لومړۍ نیمایي د ۵۱۸.۲۳ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله شاوخوا ۲۶ سلنه راټیټه شوې ده.

۹.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه) د ۱۳۹۴ مالي کال لومړۍ نیمایي




سرچینه: د پوراینې د شتمنیو د مدیریت واحد، د افغانستان د مالیې وزارت

د صنعتي موادو لکه فلزونه، کیمیاوي سره یا پارو، کیمیاوي مواد او سیمنټو عرضه، د سیاسي او امنیتي ناډاډمنتیا له امله په ټول هېواد کې د پرمختیايي پروژو په شمېر کې د کموالی په پایله کې راکمه شوې ده.

۱۰.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه) د ۱۳۹۳ مالي کال لومړۍ نیمایي




### ۲.۴.۴ د صادراتو ترکیب

د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړۍ نیمايي کې د صادراتو ترکیب ښکاره کوي چې د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې صادراتو په توکرۍ کې طبي بذرونو د ۳۶.۱ سلنه ونډې په درلودلو سره تر ټولو ستره برخه درلوده او د ۱۳۹۴ مالي کې په لومړۍ نیمايي کې ۸۴.۲۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته دورې د ۸۸.۶۲ میلیونه امریکايي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۵ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

سره له دې چې خوراکي توکي د ټولیزه صادراتو دویمه ستره برخه جوړوي خو د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړۍ نیمایي کې یې ونډه له ۳۶.۷ سلنې څخه ۳۲ سلنې ته راټیټه شوې ده. د خوراکي توکو (تیلي بذرونو او د وچو او تازه میوو) د صادراتو عواید د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړۍ نیمایي کې ۷۴.۶۷ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د

ورته دورې د ۹۸.۷۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۴ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

همدا ډول غالي او ټغرونه چې په تیرو څو لسیزو کې یې د افغانستان د صادراتو بنسټیزه برخه جوړوله، د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي نیمایي په ټولیزه صادراتو کې د ۲۶.۱ سلنه ونډې په درلودلو سره دریم ستر ځای لري. د شته شمېرو پر بنسټ، د غالیو او ټغرونو د صادراتو عواید د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې ۶۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۵۳.۸۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۱۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب ( د ونډې سلنه)
د ۱۳۹۴ مالي کال لومړی نیمایي




۱۲.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)
د ۱۳۹۳ مالي کال لومړی نیمایي




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

د څرمنو او وړیو کچه چې د صادراتو د توکرۍ په وروستي ردیف کې راځي د ۱۳۹۳ مالی کال د لومړی نیمایي له ۱۰.۴ سلنې څخه د ارزونې لاندې کال کې ۵.۸ سلنې ته راټیټه شوې ده. د څرمنو او وړیو د صادراتو عواید ۱۳.۵۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د لومړی نیمایي د ۲۸.۱۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۵۲ سلنه د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي.

### ۵.۴ بهرنی پوراینې

د افغانستان بهرنی پوراینې (بدهي) د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې ۲،۲۸۱.۳۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالی کال د لومړی نیمایي د ۲،۳۵۸.۶۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳ سلنه یا ۷۷.۳۵ میلیونه امریکایي ډالره ټیټوالی ښکاره کوي.

د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د پرمختیا نړیوالې ټولنې (نړیوال بانک)، د آسیا پرمختیایي بانک (ADB) او د پیسو نړیوال صندوق (IMF) ته د پور د اصلي مبلغ بیا اداینه شوې، په داسې حال کې چې د بلغاریا لخوا د پرمختیا نړیوالې ټولنې (نړیوال بانک) او د آسیا پرمختیایي بانک ( ADB) ته د خدمتونو لګښت تادیه شوی دی.

په ورته وخت کې افغانستان ته د ستر څو اړخیزه پور ورکوونکي په توګه د پرمختیا نړیوالې ټولنې د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د ځینو اصلي پورونو ترڅنګ د خدمتونو لګښت هم بخښلی دی او د آسیا پرمختیایي بانک د ځینو پورونو یوازې اصلي برخه افغانستان ته بخښلې ده.

د مالیې وزارت د شمېرو پر بنسټ، افغانستان ته د پاریس کلب د پور کچه د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې ۹۵۲.۷۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د روسیې فدراسیون ته ورکول کیدونکي دي.

۱۳.۴ ګراف: د بهرنی پوراینې پرتله: د ۱۳۹۳ مالي کال لومړی نیمايي او د ۱۳۹۴ مالي کال لومړی نیمايي




په بله وینا، افغانستان ته کوم پورونه چې د پاریس کلب غړو ورکړي د ټولو جاري بهرنیو پورونو شاوخوا ۴۰.۵۸ سلنه جوړوي او د تیر کال د ورته مودې په پرتله نژدې ۲.۵ سلنه کموالی لري.

همدا ډول ټولیزه پوراینې د پاریس کلب له غړو پرته لکه پرمختیا لپاره د سعودي صندوق، بلغاریا، د کویټ صندوق او د ایران د پور ورکونې کچه ۹۰.۵۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د لومړی نیمایي د ۱۳۱.۸۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

له بلې خوا، افغانستان ته د څو اړخیزو کریډیټونو کچه د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړی نیمايي په پای کې ۱،۲۷۷.۳۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۱،۲۶۴.۹۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

## ۶.۴ خالصه نړیواله زیرمې

د وروستیو شمیرو پر بنسټ، د افغانستان خالصه نړیواله زیرمې (NIR) د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړی نیمايي په پای کې ۶،۸۳۱.۴۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ثبت شوې ۷،۰۱۵.۳۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله نژدې ۳ سلنه لږ څه ټیټوالی ښکاره کوي. د خالصه نړیواله زیرمو (NIR) د کچې د ټیټیدو عمده لامل د شتمنیو د زیرمو کموالی په ګوته شوی چې د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمايي کې ۷،۳۴۵.۹۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته

**۶.۴ جدول: د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړی نیمايي بهرنی پوراینې ( په ذکر شوي واحدونو کې)**

| | په میلیون دالر | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|
| ټولیزه بهرنی پوراینې | 2,218.30 | 100.00 |
| دوه اړخیزه | 1.016.32 | 44.55 |
| د پاریس کلب | 925.77 | 40.58 |
| د روسیې فدراسیون | 925.77 | 40.58 |
| متحده ایالات | - | 0.00 |
| جرمني | - | 0.00 |
| د پاریس کلب پرته | 90.55 | 3.97 |
| څو اړخیزې ټولنې: | 1,264.98 | 55.45 |
| د پرمختیا نړیواله ټولنه ( نړیوال بانک) | 393.28 | 17.24 |
| د آسیا پرمختیایي بانک | 713.44 | 31.27 |
| د پیسو نړیوال صندوق | 103.71 | 4.55 |
| اسلامي پرمختیایي بانک | 52.72 | 2.31 |
| د اوپک صندوق | 1.84 | 0.08 |

سرچینه: د پوراینې د شتمنیو د مدیریت واحد، د افغانستان د مالیې وزارت

رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۷،۴۲۱.۰۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله۱ سلنه کموالی لري.

له بلې خوا، د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د پوراینې د زېرمو کچه ۵۱۴.۵۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۴۰۵.۷۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۲۷ سلنه زیاتوالی ښیي. د پوراینې زېرمې د کچې د زیاتیدو اصلي لامل په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانات په ګوته شوي او کچه یې د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی نیمایي کې ۴۱۴.۳۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۲۷۷.۶۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۴۹.۲۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

له تمویلي منابعو څخه د ګټې اخیستنې کچه د ۱۳۹۳ مالي کال د لومړی نیمایي له ۱۲۷.۹۰ میلیونه امریکایي ډالرو څخه د ارزونې لاندې کال کې ۱۰۰.۰۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته راکمه شوې ده چې د تیر کال په پرتله یې ۲۱.۷۸ سلنه ټیټوالی موندلی دی. په بهرنیو اسعارو کې د نامیشتو اماناتو د پوراینې د زېرمې کچې د ارزونې لاندې کال کې هیڅ ډول بدلون نه دی موندلی.

د خالصه نړیواله زېرمو (NIR) د کچې د کمیدو عمده لامل د بهرنیو اسعارو د پام وړ بهیدنې (ورود)، په ځانګړې توګه د بهرنیو او شخصي پیسو لیږدیدنې په ګوته شوي دي. د افغانستان د خالصه نړیواله زېرمو اوسنی حالت د پولي سیاست د ظرفیت لوړولو او د تادیاتو بیلانس د ملاتړ لپاره ښه متکاء برابروي.

اوس مهال، خالصه نړیواله زېرمې(NIR) په منځني ډول شاوخوا د ۱۱ میاشتو وارداتو لپاره بسنه کوي، په داسې حال کې چې هغه هېوادونه چې د خپلو زېرمو له لارې د ۶ میاشتو واردات ترسره کولای شي د خپلو زېرمو له نسبتاً ښه وضعیت څخه خوښ ښکاري.

۱۴.۴ ګراف: په تیرو څو دورو کې د افغانستان خالصه نړیواله زېرمې(NIR) ښکاره کوي.

۱۴.۴ ګراف: د تیرو څو دورو په اوږدو کې خالصه نړیواله زېرمې
(په میلیون امریکایي ډالرو)




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک

**۷.۴ جدول: خالصه نړیواله زېرمې؛ د ۱۳۹۴ مالي کال لومړی نیمایي (میلیون امریکایي ډالر)**

| د ربعې پر اساس بدلونونه | ۱۳۹۳- لومړی نیمایي | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۴- لومړی نیمایي | د بدلونونو سلنه |
|---|---|---|---|---|
| خالصه نړیواله زېرمې (په میلیون ډالر) | 7,015.39 | 5.04 | 6,831.43 | -2.62 |
| شتمنه ایزه زېرمې | 7,421.09 | 3.31 | 7,345.96 | -1.01 |
| د پوراینې زېرمې | 405.70 | -19.62 | 514.53 | 26.83 |
| په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانات | 277.66 | -24.48 | 414.35 | 49.23 |
| په بهرنیو اسعارو د نا میشتو امانات | 0.14 | 0.00 | 0.14 | -0.02 |
| له تمویلي منابعو څخه ګټه اخیستنه | 127.90 | -6.59 | 100.05 | -21.78 |
| ناخالصه نړیواله زېرمې ( د وارداتو د میاشتې په اساس) | 12.89 | | 11.77 | |
| خالصه نړیواله زېرمې ( د وارداتو د میاشتې په اساس) | 12 | | 11 | |

سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک



# ۵

# د مالي سکتور بدلونونه

## ۵

## د مالي سکتور بدلونونه

۱۳۹۴ مالي کال له دوامداره کورنيو سياسي او امنيتي ننګونو سره پيل شو چې له امله يې د هېواد په اقتصادي کړنو باندې فشارونه زيات شول. په پايله کې، د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړی نيمايي په اوږدو کې په هېواد کې د اقتصادي کړنو د کميدو له امله ټوليزه کورني مالياتي عوايد راکم شوي دي. سربېره پر دې، په ورته وخت کې بسپنه ورکوونکو خپلې ژمن شوې مرستې (مالي منابع) د ولسي جرګې لخوا د ملي بودجې د تصويب د ټاليدو له کبله وځنډولې چې له امله يې د د ارزونې لاندې مالي کال د لومړی نيمايي په اوږدو کې د حکومت لګښتونه راکم شو.

له پېچلي امنيتي شرايطو او سياسي ستونزو سره سره، مرکزي اداري په ادارو کې د سمونونو د راوستلو د ژمنتيا ترڅنګ په هېواد کې د ټوليزه مالي وضعيت د رغونې لپاره اصلاحي اقدامات او پاليسي ترلاس لاندې ونيولې. د ۱۳۹۴ مالي کال اقتصادي وده ۱.۵ سلنه اټکل شوې ده چې د تير کال د ۲.۱ سلنې ودې په پرتله کمزوره اقتصادي وده ښکاره کوي.

له بسپنو(مالي مرستو) پرته د ۱۳۹۴ مالي کال د دويمې ربعې په اوږدو کې د کورنيو عوايدو او د اصلي لګښتونو ترمنځ يوه لويه تشه شتون درلوده. په عمومي توګه، ټوليزه راټول شوي عوايد د تير کال د ورته دورې په پرتله د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړی نيمايي په اوږدو کې ډېر لږ زيات شوي دي.

### ۱.۵ د بودجې د اجراء نرخ

د ۱۳۹۴ مالی په اوږدو کې د بودجې د اجراء نرخ په دواړو برخو عملياتي او پراختيايي بودجې کې پرله پسې کمزوره ؤ.

د ماليې وزارت په وينا، د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړيو شپږو مياشتو کې ټوليزه بودجه له اټکل شوې کچې کمه تطبيق شوې ده. د بودجې د اجراء معلومات ښکاره کوي چې په عادي لګښتونو کې د ۱۳۹۴ مالي کال د دويمې ربعې په پاى کې ۸ سلنه کموالي راغلی دی. د ارزونې لاندې کال کې شاوخوا ۳۳ سلنه عملياتي بودجه تطبيق شوې ده، په داسې حال کې چې تير کال په ورته موده کې يې کچه ۴۱ سلنې ته رسيده. د لګښتونو تر ټولو لوی رقم په ارزونې لاندې ربعه کې د کارکوونکو د حقونو اجوره جوړوي.

۱،۵ ګراف: د عملياتي بودجې د اجراء نرخ
د ۱۳۹۴ مالي کال، له پيل څخه تر اوسه




برعکس د روان او تيرو کلونو د اپريل، می او جون د مياشتو په اوږدو کې د عملياتي بودجې د اجراء په نرخ کې ناچيز بدلون ثبت شوی دی. د عملياتي بودجې د اجراء نرخ د روان مالي کال په لومړيو شپږو مياشتو کې له ۲۵ سلنې څخه ۲۴ سلنې ته په معتدله توګه راټيټ شوی دی چې د تير کال د ورته مودې په پرتله ۱ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي. خو د روان او تير مالي کلونو د

لومړیو شپږو میاشتو په اوږدو کې د دواړو (عملیاتي او پرمختیايي بودجې په میاشتنی اجراء نرخ کې د پام وړ بدلون لیدل شوی دی.

۲.۵ ګراف: د پرمختیایي بودجې د اجراء نرخ
د ۱۳۹۴ مالي کال له پیل څخه تر اوسه




## ۲.۵ د بودجې کسر

د دولت عواید او د بسپنه ورکوونکو مرستې د تیر کال د ورته مودې په پرتله د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړیو دوو ربعو کې په پرتلیزه ډول زیاتې شوي دي.

په ټولیزه راټولو شویو عوایدو کې د بسپنه ورکوونکو ونډه د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د پام وړ زیاته شوې ده چې د تیر کال د ورته ربعې په پرتله ۱۴،۲۵۷ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړۍ ربعې په پای کې ملي بودجې ۲۶،۴۴۳ میلیونه افغانۍ ډېریدنه (مازاد) درلوده. په لومړۍ ربعه کې د ملي بودجې د ډېریدنې په پرتله په دویمه ربعه (د ۲۰۱۵ کال په جون) کې د بودجې کسر ۵،۱۶۲ میلیونه افغانۍ ته راغورځیدلی دی. د بودجې په ټولیزه کسر ۱۱،۴۵۲ میلیونه افغانۍ کې د پرمختیایي بودجې کسر ۵،۱۶۲ میلیونه افغانۍ ثبت شوی دی، حال دا چې د ارزونې لاندې ربعې په پای کې له ملي بودجې پرته ۶،۲۹۰ میلیونه افغانۍ ډېریدنه په عملیاتي بودجه کې تر سترګو کیده.

## ۳.۵ د عوایدو راټولول

په روان مالي کال کې د سیاسي او امنیتي ناډاډمنتیا سره سره، د کورنیو عوایدو په راټولولو کې د تیر مالي کال د ورته مودې په پرتله ځینې بدلونونه تر سترګو شوي دي.

د عوایدو د راټولولو د معلوماتو له مخې، د ټولیزه عوایدو د راټولولو فعالیت په دوامداره توګه په ترکیبي حالت کې پاتې دی. د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د بسپنه ورکوونکو د مرستو په شمول د حکومت لخوا ټولیزه راټول شوي عواید ډېر کم زیاتوالی ښکاره کوي.

۳،۵ ګراف: د کورنیو عوایدو سرچینې
( په میلیونه افغانۍ)




په هر حال، ټولیزه کورنیو عوایدو د ۲۰۱۵ کال د اپریل، می او جون په میاشتو کې ۱۴ سلنه د پام وړ وده ثبت کړې ده چې ۲۸،۲۵۰ میلیونه افغانۍ ته رسیږي او د روان او تیر مالي کال د ورته دورو د ۲۴،۴۰۹ میلیونه افغانۍ په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

۴.۵ ګراف: د کورني عوایدو ترکیب: د ۱۳۹۴ مالي کال له پیل څخه تر اوسه (حقیقي)




د ارزونې لاندې کال کې، د عوایدو د مالیې او د معاشونو د مالیې د مثبتې ودې له امله په کورنیو عوایدو کې مثبت بدلون رامنځ ته شوی دی. د کورنیو عوایدو له سرچینو څخه د یو ښه انځور د ترلاسه کولو په موخه کورني عواید په مالیاتي او غیر مالیاتي برخو تجزیه شوي دي.

۵.۵ ګراف: د مالیاتي عوایدو پرتله
(په میلیون افغانۍ)




### ۱.۳.۵ مالیاتي عواید

په عادي ډول، د کورنیو عوایدو ستره برخه مالیاتي عواید جوړوي. د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د ټولیزه کورنیو عوایدو ۵۹ سلنه ونډه مالیاتي عوایدو ثبت کړې ده. په ټولیزه کورنیو عوایدو کې د مالیاتي عوایدو ونډه د ۱۳۹۴ مالي کال په دویمه ربعه کې ۲۲،۶۵۰ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته موده د ۲۱،۸۱۱ میلیونه افغانۍ په پرتله ۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

### ۲.۳.۵ غیر مالیاتي عواید

غیر مالیاتي عواید چې د کورنیو عوایدو بله مهمه سرچینه ده، د ۲۰۱۵ کال د اپریل، می او جون د میاشتو په اوږدو کې ۵،۶۰۰ میلیونه افغانۍ ته رسیږي او د تیر کال د ورته میاشتو د ۲،۵۹۸ میلیونه افغانۍ په پرتله د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې ۵۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. غیر مالیاتي عواید د تقاعد له ونډې، د پانګې او جایدادونو، د توکو او خدمتونو د پلورلو، اداري فیسونو او د استخراجي صنایعو له عوایدو څخه ترلاسه کیږي. بله دا چې د غیر مالیاتي عوایدو د برخو په وده کې د ۲۰۱۵ مالي کال د اپریل، می او جون په میاشتو کې د پام وړ بدلونونه راغلي دي. سربېره پر دې، متفرقه عواید د لوړېدونکی بهیر په درلودلو سره د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې ۳،۲۳۱ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. د غیر مالیاتي عوایدو په پاتې برخو کې د تیر کال د ورته مودې په پرتله د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې لږ څه بدلون راغلی دی. برعکس، له ټولنیزې بسپنې راټول شوي عواید چې د غیر مالیاتي عوایدو ستره برخه جوړوي د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ۱،۲۶۵ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې د تېر کال د دویمې ربعې د ۱،۳۱۲ میلیونه افغانۍ په پرتله ۴ سلنه کموالی ښکاره کوي.

### ۳.۵ د بسپنه ورکوونکو مرستې

د بسپنه ورکوونکو مرستې چې د اصلي بودجې تر ټولو ستره برخه ګڼل کیږي او د ملي بودجې شاوخوا ۶۰ـ۷۰ سلنه جوړوي. د روان مالي کال لپاره ټولیزې بهرنی سرچینې ( بهرنی مرستې) شاوخوا ۳۰۲،۷۵۳ میلیونه افغانی اټکل شوي دي چې د ټولیزه ملي بودجې ۷۱ سلنه جوړوي. د ټولو بسپنه ورکوونکو هېوادونو ژمن شوي مرستې چې د ملي بودجې ستره برخه جوړوي، د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړیو شپږو میاشتو په اوږدو کې ۹۵،۳۹۵ میلیونه افغانی ته رسیږي چې د روان مالي کال د لومړیو شپږو میاشتو په اوږدو کې د بهرنیو مرستو ستره برخه د افغانستان د بیا رغونې د پیسو صندوق(ARTF)، د افغانستان د قانون او نظم لپاره وجهي صندوق ( LOTFA) او د امنیت د لیږد ګډه قوماندانۍ ـ د ملي

۶.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د مرستو ترکیب

( په میلیونه افغانی)




دفاع وزارت (CSTC-MoD) بسپنې جوړوي چې په ترتیب سره د تیر کال د ورته مودې د ۳۱،۱۶ او ۳۵ سلنې په پرتله د بسپنه ورکوونکو ټولیزه ونډه ۱۷،۱۵ او ۵۴ سلنې ته رسیږي.

### ۴.۵ لګښتونه

د دولت ټولیزه لګښتونه د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړیو شپږو میاشتو په اوږدو کې ۱۲۶،۴۵۵ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې په ترتیب سره د عملیاتي لګښت ۹۴،۱۳۹ میلیونه افغانی او د پرمختیایي لګښت د ۳۲،۳۱۵ میلیونه افغانی جوړوي.

دا شمېره د تیر کال د ورته مودې د ۱۳۱،۲۰۳ میلیونه افغانۍ ټولیزه لګښت په پرتله ډېره کمه ده. ټولیزه لګښتونه د تیر کال د ورته مودې په پرتله د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړی شپږو میاشتو کې ۴ سلنه کموالی ښکاره کوي.

۷.۵ ګراف: د لګښتونو ترکیب

( په میلیونه افغانی)



# ۶

# د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

## ۶
## د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

د بانکي نظام شتمنۍ د ۲۰۱۵ زیږدیز کال د مارچ د میاشتې د ۴.۲۳ سلنه کموالي په پرتله د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۲.۴۷ سلنې یا ۶.۰۸ میلیارده افغانۍ ته زیاته شوې ده چې د تیرې دورې (۲۰۱۴ جون) راهیسې ۳.۷۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د زیاتیدو اصلي لامل د بانکي نظام په ټولیزه اماناتو کې زیاتوالی ګڼل کیږي.

د بانکي نظام د ناخالصه پورونو پورتوفولیو د دې ربعې په اوږدو کې د ۳.۷۲ سلنه یا ۱.۵۱ میلیارده افغانۍ زیاتوالي په درلودلو سره ۴۲.۱۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۲۰۱۵ کال د مارچ میاشتې د ۵.۹۵ سلنې کموالي په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د ۲۰۱۴ زیږدیز کال د جون میاشتې په پرتله ناخالصه پورونه ۱۰.۱۲ سلنه کموالی ښکاره کوي.

د پور په پورتوفولیو کې د اضافه برداشت پورونو کمه کارونه او په ځینو بانکونو کې د نوي پورونو اداینه، د کموالي لاملونه ګڼل کیږي.

امانات چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه جوړوي او ارزښت یې ۲۱۳.۰۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي او د ټولیزه پورواینې په سلو کې ۹۶.۱۹ جوړوي چې د تیرې ربعې( ۲۰۱۵ مارچ) د ۵.۰۴ سلنې کموالي په پرتله ۲.۵۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام ډېری امانات په امریکایي ډالرو (۶۲.۸۹ سلنه) او ورپسې افغانۍ امانات ۳۳.۴۶ سلنه دي. د بانکي نظام افغانۍ امانات د ۲۰۱۵ کال د مارچ میاشت د ۷.۱۲ سلنې کموالي پر وړاندې په سلو کې ۲.۹۰ زیاتوالی موندلی، په داسې حال کې چې ډالري امانات د ۲۰۱۵ کال په مارچ کې د ۴.۱۱ سلنې کموالي په پرتله په دې کال کې ۱.۹۸سلنه زیات شوي دي.

د بانکي نظام پانګې په څلورمه ربعه کې پیاوړې وضعیت درلود او ۳۰.۵۵ میلیارده افغانۍ ته یې کچه رسیده چې د بانکي نظام په خساره کې د کموالي له امله دا پانګه زیاته شوې ده.

د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت (CAR) ۲۵.۶۳ سلنه ثبت شوی دی. د ټولو بانکونو د پانګې د کفایت نسبت له ټاکلي حد څخه پورته دی، خو درې بانکونه ټاکلي حد ته نژدې دي.

بانکي نظام د ۲۰۱۵ زیږدیز کال په دویمه ربعه کې ۲۵۲ میلیونه افغانۍ زیان کړی دی چې د تیرې ربعې د ۹۶۶ میلیونه افغانۍ زیان په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. د شتمنۍ ترلاسه شوې ګټه منفی ۰.۳۰ سلنې او د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه منفی ۲.۵۴ سلنې ته رسیږي، په داسې حال کې چې د ۲۰۱۵ زیږدیز کال په مارچ کې د شتمنۍ ترلاسه شوې ګټه منفی ۱.۱۶ سلنه او د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه منفی ۲.۴۵ سلنه وه. دولتي بانکونه او خصوصي بانکونه د ارزونې لاندې ربعه کې زیانمن شوي دي په داسې حال کې چې د بهرنیو بانکونو نمایندګیو دا کال له ګټو سره پای ته رسولی دی.

### ۱. د بانکي نظام شتمنۍ

د بانکي نظام شتمنۍ د ۲۰۱۵ کال د مارچ د ۴.۲۳ سلنې ټیټوالي په پرتله د ارزونې لاندې کال کې ۰.۰۲۴۷ سلنه وده ښکاره کوي.( ۱.۶ ګراف)

**۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو اجزاء ښکاره کوي چې تر ټولو ښکاره زیاتیدنه د نورو کټګوریو لخوا ثبت شوې چې په ټولیزه توګه ۲.۰۳ میلیارده افغانۍ (۱۳.۷۱ سلنه) زیاتوالی لري، وروسته په ترتیب سره پانګه اچونې ۱.۵۷ میلیارده افغانۍ ( ۹.۸۶ سلنه) او په خزانه کې نغدې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات ۹۹۹ میلیونه افغانۍ ( ۰.۹۳ سلنه) او نګه (خالصه) پورونه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ۸۰۵ میلیونه افغانۍ (۲.۱۶ سلنه) زیاتوالی ښکاره کوي. په داسې حال کې چې د شتمنیو نورې کټګورۍ ډېر لږ زیاتوالی لري.

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د پورټوفولیو مهمې برخې په خزانه کې نغدې پیسې/ په افغانستان بانک باندې طلبات ( ۴۲.۶۰ سلنه)، د بانکونو ترمنځ طلبات (۲۶.۰۴ سلنه)، نګه (خالصه) پورونه (۱۵.۰۷ سلنه)، پانګونې (۶.۹۴ سلنه) او "نورې شتمنۍ" (۶.۷۰ سلنه) او ثابتې شتمنۍ د ټولیزه شتمنیو ( ۲.۶۵ سلنه) جوړوي. (۱.۶ جدول)

## ۱.۶ جدول: د بانکي نظام د شتمنۍ او پورواینې ترکیب

| شتمنۍ | ۱۳۹۳ غبرګولی ۲۰۱۴ جون | ۱۳۹۳ کب ۲۰۱۵ مارچ | ۱۳۹۴غبرګولی ۲۰۱۵ جون | د ټولیزه شتمنیو/ پوراینو سلنه | کال په کال وده |
|---|---|---|---|---|---|
| په خزانه کې نغدې پیسې او په افغانستان بانک باندې طلبات | 98,694 | 106,352 | 107,351 | 42.60 | 0.93 |
| د بانکونو ترمنځ طلبات | 65,863 | 65,046 | 65,636 | 26.06 | 0.91 |
| پانګونې | 13,357 | 15,917 | 17,477 | 6.94 | 9.86 |
| پورونه (خالصه) | 44,526 | 37,169 | 37,974 | 15.07 | 2.16 |
| ثابتې شتمنۍ | 6,659 | 6,597 | 6,683 | 2.65 | 1.30 |
| نور | 13,717 | 14,853 | 16,890 | 6.70 | 13.71 |
| مجموعه | 242,816 | 245,934 | 252,022 | | 2.47 |
| پوراینې | | | | | |
| امانات | 204,620 | 207,807 | 213,023 | 96.19 | 2.51 |
| پور اخیستنې | 3,767 | 3,995 | 4,023 | 1.82 | 0.70 |
| نور | 4,180 | 4,910 | 4,423 | 1.99 | -9.91 |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

## ۱.۱ ناخالص پورونه

د بانکي نظام ناخالصه پورونه د تیرې ربعې راهیسې 1.51 میلیارده افغانی یا ۳.۷۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۶.۷۳ سلنه جوړوي. د پور په پورتوفولیو کې په ځینو بانکونو کې د نوي پورونو ورکړه او د اضافه برداشت پورونو کمه کارونه د زیاتوالي ستر لاملونه ګڼل کیږي. د پور د پورتوفولیو په ډېرولو کې اته بانکونه مخکښه دي، په داسې حال کې چې شپږو بانکونو خپله پورتوفولیو راټیټه کړې ده. همدا ډول پاتې یو بانک ( نوی کابل بانک) د پور ورکولو په برخه کې ونډه نه ده اخیستې.

د ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې له دولتي بانکونو پرته د بانکونو د ګروپونو ونډه زیاته شوې ده. خصوصي بانکونو د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د ټولیزې پورتوفولیو د ۹۲.۸۷ سلنې ونډې په لرلو سره ۶.۲۳ سلنه یا ۲.۲۹ میلیارده افغانی زیاتوالی، د بهرنیو بانکونو نمایندګی د پورتفولیو د ۱.۵۱ سلنې ونډې په درلودلو سره ۱۸.۵۸ سلنه یا ۱۰۰ میلیونه افغانی زیاتوالی ښکاره کوی، په داسې حال کې چې دولتي بانکونه ۵.۶۱ سلنې ونډې په درلودلو سره ۲۷.۲۵ سلنه یا ۸۸۷ میلیونه افغانی کموالی موندلی دی.

۲.۶ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د بانکونو د ګروپونو ونډه




### ۱.۱.۱. د پور د زیان زېرمې

د اعتباري خطر د کچې د ارزولو پر مهال، بانکونه باید د خطر د کمولو د اړانې له مخې د اعتباري خطر د کمولو ابزارونو ته پاملرنه وکړي. بانکونه اړ دي چې د دواړو عمومي زېرمو (معیاري شتمنیو) او د ځانګړې تدارکاتو (غیر معیاري شتمنیو) د چمتو کولو له لارې خپل اعتباري خطرونه راکم کړي.

د ۲۰۱۵ زیږدیز کال د جون (۱۳۹۴ غبرګولي) په پای کې د بانکي نظام ټولیزه تدارکاتي زېرمې د تیرې ربعې (۲۰۱۵ جون) په پای کې د ۸.۵۸ سلنې په پرتله د ټولیزه ناخالصه پورونو ۹.۹۴ سلنه جوړوي.

### ۲.۱.۱. د کریډټ وېشنه

د دې لپاره چې د پور د پورتوفولیو کچه پراخه او د خطر متنوع والې ارتوالی ومومي او د نویو عوایدو د ترلاسه کولو سربېره مالي منابعو ته لاسرسي زیات شي، د افغانستان بانک د نورو سوداګریزو پورونو د وېش سکتور په ۳۰ نورو سکتورونو وېشلی دی[1] . په بېلابېلو سکتورونو کې د کریډټ له تجزیې څخه معلومیږي چې د ۲۰۱۵ کال د مارچ د ۹۰.۴۶ سلنې په پرتله۸۹.۳۸ سلنه، د پور د پورتفولیو ستره برخه "د نورو سوداګریزو پورونو" په توګه ډله بندي شوی چې په عمده ډول د "ودانیز" سکتور لپاره (۸.۱۳ سلنه)، "تولیدي او صنعتي" سکتور لپاره (۸.۱۲ سلنه)، د "غونډ پلورنې" لپاره (۷.۶۹ سلنه) او د "تیلو او روغنیاتو" سکتور لپاره ( ۶.۸۶ سلنه) ځانګړې شوي ده. د تولیدي او صنعتي سکتور، غونډ (عمده) پلورنې او د نورو بېخبنسټیزو پروژو د ټولیزه ناخالصه پورونو په دواړو مطلق او همدا ډول سلنه ایزه کې د پام وړ زیاتوالی لیدل کیږي، په داسې حال کې چې ودانیز او تعمیراتي، د مطبوعاتي اعلانونو او چاپ، د

۱. د ۱۳۹۳/۶/۲۶ نېټې ۹۳/۰۱ ګڼې د محاسبې او راپور ورکولو متحد المال

نورو ټولو توکو، د پرچونه سوداګرۍ او د کانونو سکتورونه له کموالي سره مخ ؤ.

د کوچنۍ او منځنۍ تشبثاتو (SME) او د کوچني کریډټ د سکتورونو پورونه ۴۷۵ میلیونه افغانۍ ته زیات شوي دي چې دا مهال یې کچه ۴.۴۶ ملیارده افغانۍ ته رسیږي چې دا ډول پورونه د څلورو بانکونو لخوا ورکول کیږي.

د اقتصاد په څو سکتورونو باندې د پورونو د تمرکز له امله بانکونه د کړکیچن وضعیت ترڅنګ د کریډټ له خطر سره مخامخ کیږي چې له امله یې ټول بانکي سکتور اغیزمن کیدای شي، بانکونه باید د هغه مهمو سکتورونو بالقوه خطرونه له نږدې وڅاري چې د صعب الحصول پورونو نسبت یې ډېر وي. د پورونو شاوخوا ۸۰.۰۶ سلنه لومړۍ په کابل او بیا په هرات او بلخ ولایتونه کې ورکړل شوي حال دا چې په نورو ولایتونو کې د پورونو د وېش په تناسب کې انډول په پام کې نه دی نیول شوی. د بانکي نظام د پورونو په جغرافیایي، سکتوري او اداري وېش کې لازمه تنوع راغلې نه ده، خو تمه کیږي چې د وخت په تیریدو سره د پورونو وېش متنوع شي.

دا به ښه وي چې ټول بانکونه په پور ورکولو کې فعاله ونډه واخلي او د پور ورکولو خدمتونه متنوع او په مالي نظام کې خپل رول په ښه توګه ترسره کړي.

## ۲.۶ جدول: د کریډټ سکتوري وېش

| نسبتونه | د ۱۳۸۷ کب (د ۲۰۰۹ مارچ) | د ۱۳۸۸ کب (د۲۰۱۰ مارچ) | د ۱۳۸۹ کب (د ۲۰۱۱ مارچ) | د ۱۳۹۰ کب (د ۲۰۱۲ مارچ) | د ۱۳۹۱ لیندی ( د ۲۰۱۲ ډیسمبر) | د ۱۳۹۲ لیندی (د ۲۰۱۳ ډیسمبر) | د ۱۳۹۳ لیندی (د ۲۰۱٤ ډیسمبر) | د ۱۳۹٤غبرګولی (د ۲۰۱۵ جون) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ملکیتونو او د ودانیزې برخې پورونه | 0.19 | 19.92 | 25.98 | 2.85 | 2.29 | 2.02% | 1.80% | 1.75% |
| نور سوداګریز پورونه | - | - | - | - | - | - | | |
| کان کیندنه | - | - | 0.02 | 0.72 | 0.11 | 0.07% | | |
| تولیدات | 0.01 | 1.22 | 2.72 | 13.32 | 11.88 | 9.36% | | |
| سوداګري | 0.51 | 32.29 | 34.16 | 27.84 | 28.3 | 29.81% | | |
| اړیکې | 0 | 1.04 | 1.23 | 0.94 | 2.35 | 3.70% | | |
| خدمتونه | 0.09 | 4.84 | 6.72 | 11.95 | 15.94 | 22.11% | | |
| اسانتیاوې | 0.01 | 2.47 | 0.03 | 0.3 | 0.07 | 0.05% | | |
| کرنیز پورونه | | | | | | | 0.27% | 0.37% |
| څاروي او فارمونه | | | | | | | 0% | 0.90% |
| تولیدات او صنعت ( د فلزونو، لرګیو، پلاستیک او ربړ تولید) | | | | | | | 2% | 8.12% |
| تولیدات، لاسي او ماشیني تولیدات | | | | | | | 4% | 2.21% |
| سمینټ او ودانیز مواد | | | | | | | 3% | 2.05% |
| منسوجات ( نساجي) | | | | | | | 2.59% | 0.47% |
| برېښنا | | | | | | | 0.35% | 0.41% |
| ودانیز او تعمیرات | | | | | | | 12.52% | 8.13% |
| خدمتونه | | | | | | | 4.79% | 2.67% |
| هوټلونه او ریستورانټونه | | | | | | | 1.20% | 1.21 |
| مخابرات | | | | | | | 2.92% | 6.53% |
| ځمکنی ټرانسپورټ | | | | | | | 4.87% | 4.03% |
| هوایي ټرانسپورټ | | | | | | | 4.18% | 3.59% |
| روغتیا | | | | | | | 0.71% | 0.97% |
| رسنی، اعلانونه، او چاپ | | | | | | | 0.04% | 0.03% |
| نور ټول خدمتونه | | | | | | | 1.41% | 6.60% |
| غونډ پلورنه | | | | | | | 4.93% | 7.69% |
| ماشینونه | | | | | | | 0.12% | 0.14% |
| نفت او روغنیات | | | | | | | 8.74% | 6.86% |
| پرزه جات | | | | | | | 0.24% | 0.92% |
| الکترونیک | | | | | | | 1.40% | 1.60% |
| سمینټ او نور ودانیز مواد | | | | | | | 1.87% | 2.42% |
| خوراکي توکي | | | | | | | 4.52% | 3.68% |
| نور ټول توکي | | | | | | | 5.72% | 4.40% |
| پرچون پلورنه | | | | | | | 3.92% | 6.71% |
| لارې او ریل پټلی | | | | | | | 2.41% | 1.29% |
| بندونه | | | | | | | 0.61% | 0.39% |
| کانونه | | | | | | | 0.08% | 1.24% |
| نورې بېخبنسټیزې پروژې | | | | | | | 1.81% | 4.83% |
| مالي او پور ورکونکې ادارې | | | | | | | 0.00% | 0.00% |
| کرنیز پورونه | 0 | 0.88 | 0.75 | 2.06 | 2.66 | 2.38% | 2.34% | 2.93% |
| مصرفي پورونه | 0.02 | 1.33 | 1.01 | 0.82 | 0.74 | 0.24% | 0.26% | 0.31% |
| اشخاصو ته د استوګنې رهني پورونه | 0.01 | 7.3 | 8.95 | 15.65 | 14.46 | 10.84% | 7.14% | 4.54% |
| نور ټول پورونه | 0.05 | 3.69 | 10 | 12.65 | 10.71 | 9.41% | 6.68% | 0.00% |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

### ۳.۱.۱. د پورونو ډله بندي

#### ۱.۳.۱.۱. صعب الحصول پورونه

بانکونه باید هڅه وکړي چې د صعب الحصول پورونو د کچې د کمولو او د اعتباري خطر د مدیریت لپاره اقدامات پیاوړي کړي. بانکونه مکلف دي چې د پورونو لپاره غوښتلیکونه په دقت سره وارزوي او د پور اخیستونکي مالي حالت له نږدې څخه وڅاري، څو ډاډه شي چې د پورونو په پراختیا سره د مالي نظام ثبات ته کوم زیان نه رسیږي.

د ۲۰۱۵ کال د جون د میاشتې په پای کې د صعب الحصول پورونو کچه ۱.۵۶ میلیارده افغانۍ زیاته شوې چې د تولیزه ناخالصه پورونو ۵.۸۹ میلیارده افغانۍ یا ۱۳.۸۹ سلنه جوړوي او د بانکي نظام مقرراتي پانګه د تېرې ربعې د تولیزه ناخالصه پورونو د ۴.۲۶ میلیارده افغانیو یا ۱۰.۴۹سلنې په پرتله د ارزونې لاندې ربعه کې ۲۱.۷۴ سلنې ته رسیږي، له ۶۵ سلنه زیات صعب الحصول پورونه په دوو خصوصي بانکونو پورې تړاو لري.

د مالي چارو د څارنې لوی آمریت د بانکي مؤسسو سره په نږدې همکارۍ کې له دې مؤسسو غوښتې دي چې د خلکو شتمنیو د کیفیت د پیاوړتیا لپاره خپل پلانونه طرحه او تطبیق کړي.

د بانکي نظام د صعب الحصول پورونو پراخه وېش ښکاره کوي چې د صعب الحصول پورونو عمده برخه د سوداګرۍ او تولیداتو سکتورونه جوړوي. د تولیداتو او سوداګرۍ، اسانتیاوو او اشخاصو ته د استوګنې د پورونه کچه زیات شوې ده، حال دا چې د مخابراتو او خدمتونو په پورونو کې کموالی راغلی دی.

۳.۶ ګراف: د پورونو د پورټوفولیو کیفیت




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

#### ۲.۳.۱.۱ معکوس ډله بندي شوي پورونه

معکوس ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوکه) [۲] پورونه د تیرې ربعې په اوړدو کې د ۱.۱۳ میلیارده افغانۍ زیاتوالي په درلودلو سره ۸.۵۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي او د تولیزه ناخالصه پورونو ۲۰.۱۹ سلنه جوړوي چې دا زیاتوالی د بانکي نظام په دوو بانکونو پورې اړه لري.

#### ۳.۳.۱.۱. تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه

تر نظر لاندې کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه [۳] ۵.۶۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تولیزه ناخالصو پورونو په سلو کې ۱۳.۴۸ جوړوي او د تیرې ربعې (د ۲۰۱۵ مارچ) راپدېخوا ۹۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې دا زیاتوالی د بانکي نظام په دوو سوداګریزو بانکونو پورې تړاو لري. هغه پورونه چې تر نظر لاندې کټګورۍ کې راغلي، زیات احتمال شته چې معکوس ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوکه) پورونو ته واوړي او په راتلونکي کې په خساره کټګورۍ

۲. معکوس ډله بندي شوي پورونه: د ۱۳۹۲/۰۹/۱۶ نېټې ۰۳/۹۲ ګڼې مکتوب له مخې هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ګټانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۶۱ الی ۹۰ ورځې (تحت المعیار) ۹۱ ــ۵۳۹ ورځې (مشکوکې) تېرې شوي وي.

۳. تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ګټانې د بیا ورکړې د سررسید له موعد څخه یې ۳۱-۶۰ ورځې تیرې شوي وي.

کې وشمېرل شي.

### ۴.۳.۱.۱. په خساره کټګورۍ کې پورونه[۴]

په خساره کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه د ټولیزه ناخالصه پورونو ۵ میلیونه افغانۍ یا ۰.۰۱ سلنه جوړوي چې د تیرې ربعې راهیسې ۴۹۷ میلیونه افغانۍ کموالی ښکاره کوي.

### ۲.۱. د بانکونو ترمنځ طلبات

د بانکونو تر منځ طلبات چې د شتمنیو د بېلابېلو کټګوریو په منځ کې دویم ځای لري، د تیرې ربعې( د ۲۰۱۵ مارچ) راهیسې د ۵۹۰ میلیونه افغانۍ زیاتوالي په درلودلو سره د ټولیزه شتمنیو ۶۵.۶۳ ملیارده افغانۍ یا ۲۶.۰۴ سلنه جوړوي چې دا زیاتوالی په یو شمېر بانکونو پورې اړه لري، بانکي نظام که چېرې معتبره پور اخیستونکي ترلاسه نه کړي د خپلو اماناتو یوه برخه په نورو مالي ادارو کې، د هېواد دننه او یا له هېوادو څخه بهر د اماناتو په توګه ږدي چې وروسته د اړتیا په صورت کې دا شتمنۍ د نقدینه ګۍ یا د لږ خطر لرونکو پور اخیستونکو لخوا د پور د غوښتنلیکونو د ترلاسه کولو سره، په لوړه کچه عاید راوړنکو شتمنیو باندې بدلیدای شي.

۴.۶ ګراف: د بانکي ګروپونو ترمنځ د خپل منځي طلباتو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

### ۳.۱ پانګه اچونه

د بانکي نظام د پانګې[۵] پورټوفولیو چې په اړوندو کمپنیو کې پور پانګې، دولتي بیه لرونکي پاڼې او پانګه رانغاړي د تیرې ربعې په اوږدو کې د ۹.۸۶ سلنې یا ۱.۵۷ میلیارده افغانۍ زیاتوالی په درلودلو سره ۱۷.۴۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه شتمنیو ۶.۹۴ سلنه جوړوي او د بانکي نظام په اوو بانکونو پورې اړه لري. د بانکي نظام د پانګونې ستره برخه له هېواد څخه بهر ترسره کیږي. د پانګونې په پورټوفولیو کې دا زیاتوالی په ځنګو سوداګریزو بانکونو او د بهرنیو بانکونو په دوه نمایندګیو پورې تړاو لري.

### ۴.۱. په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات

په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات د ټولیزه شتمنیو بله ستره کټګوري ده چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۴۲.۶۰ سلنه جوړوي چې د تیرې ربعې (د ۲۰۱۵ مارچ) راهیسې د ټولیزې شتمنۍ په دواړه مطلق او همدا ډول سلنه ایز کې ۹۹۹ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. په خزانه کې د پیسو او د افغانستان بانک باندې د طلباتو د زیاتوالي عمده لامل د بانکي سکتور په اماناتو کې د پام وړ زیاتوالی ګڼل کیږي.

بانکي نظام په بشپړه توګه د اجباري زېرمې له مقررې سره په تطابق کې دی او په محتاط او ورو ډول راجلب شوې پیسې د شتمنیو نورو ډولونو کې ځای په ځای کوي.

### ۲. پوراینې

د بانکي نظام ټولیزه پوراینې ۲۲۱.۴۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې (د ۲۰۱۵ مارچ) د ۲۱۶.۷۱ میلیارده افغانۍ په پرتله ۴.۷۵ میلیارده افغانۍ یا ۲.۱۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. له "نورو پوراینو" پرته د ټولیزه پوراینو د

(۴) په خساره کټګورۍ کې پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ټکتانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۵۴۰ یا زیاتې ورځې تیرې شوې وي.

(۵) پانګې اچونې چې په پور پاڼو، په اړوندو شرکتونو، په یو فرعي شرکت او په یو بانک کې پانګه اچونې رانغاړي

کټګورۍ نورې برخې د تیرې ربعې په پرتله زیاتې شوي دي.

امانات د بانکي نظام د پورانیې تر ټولو لویه برخه(۹۶.۱۹سلنه) جوړوي چې دا په بانکي نظام د خلکو د ډاډ، د عامه اړیکو او د بازار موندنې د ښو پالیسیو ښکارندوی کوي، "نورې پورانیې" او "پور اخیستنې" په ترتیب سره دویم او دریم ځای لري.

۵.۶ ګراف: پورانیې ۹.۱۷ میلیارده افغانۍ یا ۴.۲۲ سلنه زیاتې شوي




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

### ۱.۲. امانات

امانات چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه جوړوي، د ۲۰۱۵ کال د مارچ د ۵.۰۴ سلنه ټیټوالي په پرتله ۵.۲۱ میلیارده افغانۍ یا ۲.۵۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي؛ د بانکي نظام د اماناتو د زیاتیدو ستره برخه په درېو بانکونو پورې اړه لري.

په بانکي نظام کې کوم امانتونه چې په افغانۍ اینبودل شوي د ۲۰۱۵ کال د مارچ د ۷.۱۲ سلنې کموالي په پرتله ۲.۹۰ سلنه او په ډالرو اینبودل شوي امانتونه د ۲۰۱۵ کال د مارچ د ۴.۱۱ سلنې ټیټوالي په وړاندې ۱.۹۸ سلنه زیات شوي دي چې په ترتیب سره د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۳۳.۴۶ سلنه او ۶۲.۸۹ سلنه جوړوي.

خصوصي بانکونو د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو تر ټولو زیاته برخه ۱۳۴.۳۹ میلیارده افغانۍ راجذب کړي، خو د تیرې ربعې د ۵.۴۴ سلنې کموالي په پرتله ۱.۰۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۶۳.۰۸ سلنه جوړوي.

د بانکي نظام په ټولیزه اماناتو کې د دولتي بانکونو ونډه د تیرې ربعې (د ۲۰۱۵ مارچ) راهیسې ۵۹.۲۷ میلیارده افغانۍ ته زیاته شوې چې د بانکي سیستم د ټولیزه اماناتو په سلو کې ۲۷.۸۲ جوړوي.

د بانکي نظام په ټولیزه اماناتو کې د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډه ۱۹.۳۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۴.۴۸ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۹.۰۸ سلنه جوړوي.

د اماناتو د ډولونو له مخې، د بانکي نظام جاري امانات د ټولیزه اماناتو ۶۹.۴۲ سلنه جوړوي چې د ۱.۶۳ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره لومړی مقام لري، د بانکي نظام د سپما امانات په ټولیزه اماناتو کې د ۱۹.۴۰ سلنې ونډې په درلودلو سره په دویم مقام کې راځي، په داسې حال کې چې د بانکي نظام مودیزه (میعادي) امانات د اماناتو د پورټوفولیو ۵.۳۲ سلنه جوړوي چې د ۲۰۱۵ کال د مارچ میاشتې راهیسې ۲۰.۵۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

۶.۶ ګراف: د اماناتو اسعاري ترکیب



۷.۶ ګراف: په افغانۍ اېښودل شوي امانات




۸.۶ ګراف: امانات ۲.۵۱ سلنه یا ۵.۲۱ میلیارده افغانۍ زیات شوي دي




۹.۶ ګراف: د اماناتو ډله بندي




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

## ۲.۲ پور اخیستنې

د بانکي نظام د تمویل په ټولیزه جوړښت کې د پور اخیستنې ونډه د ۰.۷۰ سلنې زیاتوالي سره د ۲۰۱۵ کال د جون میاشتې په پای کې ۴.۰۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې راهیسې د ۱.۸۲ سلنه زیاتوالي په پرتله د بانکي نظام د ټولیزه پوراینې ۱.۸٤ سلنه جوړوي. اوس مهال د بانکي نظام درې بانکونه پورورې دي.

## ۳. نقدینه ګی (سیالیت)

د نقدینه ګی خطر کولای شو د پور اخیستونکو او امانات اېښودونکو د تقاضاوو د پوره کولو لپاره د کافي سیالو شتمنیو نه درلودل تعریف کړو. ټول بانکونه اړ دي څو د نقدینه ګی څخه د راولاړې شویو ستونزو د مخنیوی لپاره سیالیت په مطلوب حد کې وساتي.

په همدې ترتیب، بانک باید د شتمنیو یوه مسؤوله کمېټه (ALCO) ولري چې د دې کمېټې دندې د بانک د سیاستونو په پام کې نیولو سره د نیمګړتیاوو د تحلیل او تجزیې له لارې د بانک د نقدینه ګی، د حساسیت د ټیسټ، د سناریو د شننې، د نغدي جریان د شننې او داسې نورو له مدیریت څخه عبارت دي.

## ۱.۳ د سیالیت نسبت (پراخه کچه)

بانکونه مکلف دي چې د نغدي (سیالو) شتمنیو نسبت له ۱۵ سلنې ټیټ ونه ساتي. دا کار د سیالیت د کمیدو د مخنیوی لپاره ښه لاره ګڼل کیږي.

بانکي سکتور د نقدینه ګی کچه په ټولیزه توګه په دې دوره کې زیاته ده چې د ټولیزه شتمنیو ۷٤.۵۲ سلنه نغدې شتمنی جوړوي. په منځنی ډول د ټول بانکي نظام د نقدینه ګی کچه ۷۱.۶۰ سلنې ته رسیږي. د ټولو بانکونو د نقدینه ګی نسبت له ټاکلي حد څخه لوړ دی. (۵.۶ جدول)

## ۴. پانګه

بانکي نظام کافي پانګه لري، د بانکي نظام پانګه ۳۰.۵۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې ۴.۵۵ سلنه یا ۱.۳۳۷ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي چې لامل يې د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د بانکي نظام د خسارې (زیان) کموالی دی. په ټولیزه توګه، د بانکي نظام د مقرراتي پانګې نسبت ۲۵.۶۳ سلنې ته رسیږي. (۵.۶ جدول).

خو ناټولیزه شننه او تجزیه ښکاره کوي چې د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو

تیټ حد ( د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ په سلو کې ۱۲) څخه لوړ دی. خو درې بانکونه ټاکل شوي حد ته ډېر نږدې دي. د بازل معیار د پانګې او د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ لپاره په سلو کې ۸ دی.

په پایله کې له شتمنیو څخه د ترلاسه شوې ګټې نسبت د ارزونې لاندې ربعه کې له منفي ۱.۱۶ سلنې څخه منفي ۰.۳۰ سلنې ته کم شوی دی چې ۰.۸۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او د پانګه اچونکو له پانګې څخه ترلاسه شوې ګټې نسبت له

۳.۶ جدول: د بانکي نظام د مالي ټینګښت مهم شاخصونه

| نسبتونه | ۱۳۸۷<br>(د ۲۰۰۹ مارچ) | ۱۳۸۸<br>(د ۲۰۱۰ مارچ) | ۱۳۹۰<br>(د ۲۰۱۱ مارچ) | ۱۳۹۰<br>×(د ۲۰۱۱ مارچ) | ۱۳۹۰<br>( د ۲۰۱۲ مارچ) | ۱۳۹۱<br>(د ۲۰۱۲ ډیسمبر) | ۱۳۹۲<br>(د ۲۰۱۳ ډیسمبر) | ۱۳۹۳<br>(د ۲۰۱۴ ډیسمبر) | ۱۳۹۴<br>(د ۲۰۱۵ جون) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د پانګې د کفایت د نسبت مجموعه | **29.81** | 25.81 | -14. 6 | 30.39 | 23.06 | 21.84 | 26.34 | 26.46 | 25.63 |
| په ۱ ردیف کې د پانګې د کفایت نسبت | 29.72 | 24.19 | -14.51 | 30.29 | 23.98 | 19.97 | 24.65 | 26.09 | 26.99 |
| په ټولیزه ناخالص پورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه | 1.15 | 0.5 | 48.4 | 3.75 | 5.15 | 5.13 | 5.10 | 8.09 | 13.82 |
| له شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه( ROA) | 1.74 | 1.41 | -20.08 | 0.24 | -1.21 | -0.54 | 0.74 | 0.90 | -0.30 |
| د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه(ROE) | 10.61 | 10.35 | -520.66 | 1.9 | -17.9 | -7.17 | 10.03 | 7.35 | -2.54 |
| د سیالیت نسبت ( پراخه منحنی کچه ) | 40.02 | 59.19 | 63.32 | 63.83 | 57.37 | 72.13 | 67.93 | 73.60 | 71.60 |
| په ټولیزه شتمنیو کې د سیالو شتمنۍ ونډه | 23.8 | 0.38 | 40.58 | 47.01 | 55.82 | 63.75 | 73.18 | 73.28 | 74.52 |

*له کابل بانک پرته

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

## ۵. ګټورتیا (نافعیت)

بانکي نظام د ۲۰۱۵ کال په دویمه ربعه کې په ټولیزه توګه ۲۵۱ میلیونه افغانۍ زیان کړی دی چې د تېرې ربعې (د ۲۰۱۵ کال جون ) د پای د ۹۶۶ میلیونه افغانۍ زیان په پرتله د ارزونې لاندې ربعې کې ۷۱۵ میلیونه افغانۍ کموالی ښکاره کوي.

د بانکي نظام زیانونه په ۵.۶ جدول کې څرګند شوي چې ډېری یې د شتمنیو د خرابېدو د کیفیت په جوړ شوي حساب کې د کریډټ په چمتو کولو پورې اړه لري، که څه هم د دې ربعې په اوږدو کې د ټکتانې په خالصه عوایدو او غیر ټکتانې عوایدو کې زیاتوالی او عملیاتي لګښت کې کموالی راغلی ؤ.

منفي ۲.۴۵ سلنې څخه منفي ۲.۵۴ سلنې ته زیات شوی دی.

په ټولیزه توګه څلورو بانکونو ۹۱۸ میلیونه افغانۍ زیان کړی دی چې د تیرې ربعې ( د ۲۰۱۵ کال مارچ) په پای کې ۱.۳۲ میلیارده افغانۍ زیان د اتو بانکونو لخوا شوی ؤ.

د اصلي عاید ( Core Income) پر بنسټ، درې بانکونه په زیان کې دی، حال دا چې په تیره ربعه کې هم دوه بانکه په زیان کې ؤ.

د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې یوازې د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ په ګټه کې دي، حال دا چې خصوصي بانکونو او دولتي بانکونو دا ربعه له زیان سره پای ته رسولې ده.(۱۰.۶ ګراف)

## ۴.۶ جدول: د بانکي نظام ګټه/ زيان

| توکي | ۱۳۹۳ ( ۲۰۱۴ جون) | ۱۳۹۳ ( ۲۰۱۴ مارچ) | ۱۳۹۴(۲۰۱۵ جون) | د سلنې بدلونونه |
|---|---|---|---|---|
| د ټکټاني عايد | 2,322 | 2,131 | 2,295 | 7.69 |
| د ټکټاني لګښت | 419 | 519 | 498 | -4.04 |
| د ټکټاني خالص عايد | 1,903 | 1,612 | 1,797 | 11.47 |
| غير ټکټاني عايد | 1,384 | 926 | 1,665 | 79.80 |
| غير ټکټاني لګښتونه | 1,562 | 1,354 | 1,325 | -2.14 |
| د معاشونو مصارف | 896 | 896 | 907 | 1.23 |
| کريډټ (اعتبار) چمتو کول | 276 | 1,176 | 1,392 | 18.36 |
| له ماليې څخه مخکې ګټه/زيان | 553 | -777 | -162 | -54.98 |
| له ماليې څخه وروسته ګټه/ زيان | 458 | -966 | -251 | -73.96 |

۱۰.۶ ګراف: د بانکي نظام ګټورتيا




۱۲.۶ جدول: د بانکي نظام نهايي خالصه ټکټانه




۱۱.۶ ګراف: له شتمنۍ ترلاسه شوې ګټه او له پانګې ترلاسه شوې ګټه




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت / د افغانستان بانک

### ۵. د اسعارو خطر

د اسعارو پرانیستی عمومي وضعیت د خطر کچه تر ډېره حده پورې په هغه محدوده کې د بانکونو لخوا په پام کې نیول شوی چې د افغانستان بانک لخوا ټاکل شوې ده. بانکونه په ټولیزه توګه د افغانستان بانک لخوا د اسعارو د عمومي پرانیستي وضعیت لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې قرار لری، پرته له دریو بانکونو څخه چې د اسعارو د پرانیستي عمومي وضعیت او همدا ډول د اسعارو د انفرادي وضعیت (امریکایي ډالرو) له ټاکل شویو حدودو څخه سرغړونه کړې ده. دغه بانکونه باید د خپل بهرنیو اسعارو پرانیستی وضعیت د افغانستان بانک له ټاکل شوي حد سره برابر کړي؛ که نه نو د پورته ذکر شویو اسعارو په ارزښت کې د ټیټوالي او یا هم د بې ارزښته کیدو له امله به دا بانکونه نور هم زیانمن شي.

د بانکي نظام په مقرراتي پانګې باندې د اسعارو په نرخ کې د بدلونونو اغیزه ښکاره کوي چې د اسعارو د ۲۰ سلنې مبادلوي ارزښت د لوړیدو سره د بانکي نظام مقرراتي پانګه ۸.۴۴ میلیارده افغانۍ ډیریږي او د دې برعکس راکمیدلی شي. په ورته وخت کې ۴ سلنه بدلون ۱.۶۷ میلیارد افغانیو په کچه بدلون راولي او کمېدل یې د دې عکس بدلون راوستلی شي.

### ۶. د ټکټانې د نرخ خطر

ټول بانکي نظام د ټکټانې د نرخ د حساس وضعیت څخه برخمن دی. خو بیا هم د بانکونو د ټکټانې نرخ د حساسیت د مهال وېش محاسبه ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټکټانې خالص عاید به په راتلونکو ۱۲ میاشتو کې په بازار کې د ټکټانې د ۰.۰۳ سلنې نرخ د زیاتوالي (د ټکټانې د زیاتیدونکي نرخ د شاک) له امله ۲.۲۴ میلیارده افغانۍ ته زیات شي. برعکس، که چېرې د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه ټیټوالی (د ټکټانې د ټیټیدونکي نرخ شاک) ومومي له ټکټانې څخه ترلاسه شوی عاید به ۲.۲۴ میلیارده ټیټ شي. که چیرې د یو بانک د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه زیات شي دا کار به د ۱۲ راتلونکو میاشتو په ترڅ کې د دې بانک د خالصې ټکټانې عاید راکم کړي. (د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ اړ نه دي چې د ټکټانې نرخ د حساسیت مهال ویش ثبت کړي ځکه لکه د ټکټانې د نرخ خطر، د بانکونو د ټکټانې نرخ د حساسیت زیات خطر له نظري پلوه په ټول بانک کې اداره کیږي).

د بانکونو د شتمنیو د حساسیت په میزان باندې د فشار راوړلو عمده لامل د پوراینې د ټکټانې د اداینې په نسبت د شتمنیو د ټکټانې د اداینې زیاتوالی دی. که څه هم دا کار د بانکونو د خالصه ټکټانې کچه او ګټه زیاتوي، او په بازار کې د نرخونو د ناڅاپي کموالي له امله بانکونه ډېر زیانمنوي.

**مدیره پلاوی**

| | |
|---|---|
| د پولي سیاست د لوی آمریت آمر: | سید اسحاق علوي |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | رحمت الله حیدري |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | نایب خان جمال |

**د کارکوونکو ونډه**

| | |
|---|---|
| اقتصادي څېړونکی: | عبدالله مسعود |
| د حقیقي سکتور شنونکی: | عبدالله صافی |
| د بهرني سکتور شنونکی: | ولي الله روحي |
| د پولي سکتور احصائیه پوه: | احمد جواد ساداد |
| د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت | |
| د داخلي برخې مدیره: | انیسه اثیر |
| د حقیقي سکتور شنونکی: | شفیق احمد فقیر زاده |
| ژباړه: | عین الله عیان او مسعود ودان |
| ایډیټ: | ایمل هاشور، د اسنادو او اړیکو لوی آمر |
| ډیزاین: | خالد احمد فیضي |
| عکس: | زیرك ملیا |
| د چاپ او وېش مسوول: | تمیم احمد صمیمي |

د زیاتو معلوماتو لپاره:

| | |
|---|---|
| ټیلیفون: | ۰۲۰-۲۱۰-۳۹۳۲ |
| فکس: | +93 (0) 202100305 |
| برښنا لیک: | info@dab.gov.af |
| ویب پاڼه: | www.dab.gov.af |
| فیس بوک: | https://www.facebook.com/AFGCentralbank |
| ټویټر: | https://twitter.com/AFGCentralbank |

د اسنادو او اړیکو لوی آمریت
برېښنالیک: info@dab.gov.af
ټلیفون: ۲۱۰۴۱۴۶ ۲۰ ۹۳+






د اسنادو او اړیکو لوی آمریت
برېښنالیک: info@dab.gov.af
ټلیفون: ۲۱۰۴۱۴۶ ۲۰ ۹۳+